تَنوِيرُ الجِنانِ

فِي

مُشكِلاتِ القُرآنِ

جلد دوم

(پښتو)





شیخ القرآن والحدیث حضرت العلامه مولانا

محمد طیب طاهری سلمه الله الباری

ناشر مکتبة الیمان دارالقرآن پنج پیر صوابی پاکستان

www.panjpir.org





عظیم الشان خوشخبری

★ اب مکتبہ اشاعت آپ کے جیب میں ★

دنیا میں کسی بھی جگہ علماء جماعت اشاعت التوحید والسنۃ کے تمام تصانیف

Play Store اور Website سے بالکل فری انسٹال / ڈاؤن لوڈ کریں۔



انسٹال / ڈاؤن لوڈ کرنے کا طریقہ



Play Store سے " مکتبۃ الاشاعت " انسٹال کرنے کے بعد ایپ میں مطلوبہ کتاب ڈاون لوڈ کریں نیز اپنی کتاب کو Website / Play Store پر مفت شائع کرنے کے لیے بھی رابطہ کریں۔

نیز ماہنامہ التوحید والسنۃ پلے سٹور اور ویب سائٹ دونوں پر دستیاب ہے۔

نوٹ

ویب سائٹ پر جماعت اشاعت التوحید والسنۃ کے تمام تصانیف مثلاً تفاسیر، فتاویٰ جات، شروح، سوانح حیات، نوٹس، درس نظامی کے کتب وغیرہ دستیاب ہیں آپ وقتاً فوقتاً Play Store اور website پر چیک کیا کریں مزید معلومات کے لیے دیے گئے واٹس ایپ نمبر پر رابطہ کریں۔ وہاں آپ کو آسانی کے لئے مطلوبہ کتاب کا link دیا جائے گا اور آپ کو بہترین رہنمائی دی جائے گی جس سے آپ کو مطلوبہ کتاب آسانی سے ملے گا۔ پلے سٹور پر ترجمہ وتفسیر یا سورتوں کے نوعیت والے تصانیف دستیاب ہوں ہیں کیونکہ ایک PDF میں اس کا مطالعہ مشکل ہوتا ہے تو ہم نے آسانی کے لیے ہر ایک پارے کے لیے الگ الگ بٹن بنایا ہے تاکہ قارئین کے لیے پڑھنے میں آسانی ہو باقی تمام نوعیت کے تصانیف مندرجہ ذیل ویب سائیٹ پر دستیاب ہوں گے۔ جو Goggle پر مزکورہ ویب سائیٹ میں سرچ کرنے سے یا ہمارے مندرجہ بالا app " مکتبۃ الاشاعت " کو پلے سٹور سے انسٹال کرنے کے بعد ایپ میں سرچ کرنے سے ملیں گے۔ آسانی کے لیے ویب سائیٹ پر links ملاحظہ کیجئے۔ جزاکم اللہ

WhatsApp:0320-1914145

ویب سائیٹ **maktabatulishaat.com** (مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام)

حقوق الطبع محفوظة للناشر

اسم الكتب: تنویر الجنان فی مشکلات القرآن

المصنف: شیخ القرآن والحدیث حضرت العلامه مولانا
محمد طیب طاهری سلمه الله الباری

کمپوزنگ: محمد اعظم طارق بدخشانی حفظه الله

جلد دوم

طبع: اوّل

تعداد: ۱۱۰۰

تاریخ الطبع: ۱۰ رمضان ۱۴۳۲ سنه، ۱۰ اگست ۲۰۱۱ سنه

الناشر: مکتبة الیمان دارالقرآن پنج پیر صوابی پاکستان

فون: ۰۹۳۸،۲۲۱۸۰۳

دارالقرآن پنج پیر ویب سائٹ website: www.panjpir.org

مطبع: اشاعت اکیڈمی عبدالغنی پلازہ محلہ جنگی پشاور
۰۹۱،۲۵۸۰۳۲۵

فهرست مضامین

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ○

نمبر	عنوان	صفحه	نمبر	عنوان	صفحه
١	سورة الكهف	١	٢٠	سورة يٰسٓ	١٩٠
٢	سورة المريم	١٩	٢١	سورة الصٰفٰت	١٩٥
٣	سورة طٰه	٢٧	٢٢	سورة صٓ	٢٠٠
٤	سورة الانبياء	٣٧	٢٣	سورة الزمر	٢٠٦
٥	سورة الحج	٤٩	٢٤	سورة المؤمنون	٢١٣
٦	سورة المؤمنون	٦٠	٢٥	سورة حمٓ السجده	٢٢٠
٧	سورة النور	٦٤	٢٦	سورة الشورى	٢٢٤
٨	سورة الفرقان	٨٨	٢٧	سورة الزخرف	٢٢٧
٩	سورة الشعراء	٩٧	٢٨	سورة الدخان	٢٣٠
١٠	سورة النمل	١١١	٢٩	سورة الجاثيه	٢٣٣
١١	بحث سماع الموتى	١٢١	٣٠	سورة الاحقاف	٢٣٤
١٢	سورة القصص	١٢٤	٣١	سورة محمد	٢٣٦
١٣	سورة العنكبوت	١٣٤	٣٢	سورة الفتح	٢٣٩
١٤	سورة الروم	١٤٨	٣٣	سورة الحجرات	٢٤٣
١٥	سورة القمان	١٥٣	٣٤	سورة قٓ	٢٤٦
١٦	سورة السجده	١٦٠	٣٥	سورة الذاريات	٢٤٨
١٧	سورة الاحزاب	١٦٣	٣٦	سورة الطور	٢٥٠
١٨	سورة السباء	١٧٦	٣٧	سورة النجم	٢٥١
١٩	سورة الفاطر	١٨٣	٣٨	سورة القمر	٢٥٤

نمبر	عنوان	صفحه	نمبر	عنوان	صفحه
٣٩	سورة الرحمٰن	٢٥٦	٥٩	سورة القيامة	٢٩٩
٤٠	سورة الواقعه	٢٦٠	٦٠	سورة الدهر	٣٠٠
٤١	سورة الحديد	٢٦٢	٦١	سورة المرسلات	//
٤٢	سورة المجادلة	٢٦٥	٦٢	سورة النباء	٣٠٢
٤٣	سورة الحشر	٢٦٨	٦٣	سورة النازعات	٣٠٣
٤٤	سورة الممتحنة	٢٧١	٦٤	سورة العبس	٣٠٤
٤٥	سورة الصفّ	٢٧٣	٦٥	سورة التكوير	٣٠٦
٤٦	سورة الجمعة	//	٦٦	سورة الانفطار	٣٠٨
٤٧	سورة المنافقون	٢٧٤	٦٧	سورة المطففين	٣٠٩
٤٨	سورة التغابن	٢٧٥	٦٨	سورة الانشقاق	٣١٠
٤٩	سورة الطلاق	٢٧٦	٦٩	سورة البروج	٣١١
٥٠	سورة التحريم	٢٧٨	٧٠	سورة الطارق	٣١٤
٥١	سورة الملك	٢٨٠	٧١	سورة الاعلى	//
٥٢	سورة القلم	٢٨٤	٧٢	سورة الغاشية	٣١٥
٥٣	سورة الحاقه	٢٨٧	٧٣	سورة الفجر	٣١٦
٥٤	سورة المعارج	٢٨٨	٧٤	سورة البلد	٣١٧
٥٥	سورة النوح	٢٩٠	٧٥	سورة الشمس	٣١٩
٥٦	سورة الجن	٢٩٢	٧٦	سورة الليل	٣٢٠
٥٧	سورة المزمل	٢٩٤	٧٧	سورة الضحٰى	٣٢١
٥٨	سورة المدثر	٢٩٦	٧٨	سورة الانشراح	٣٢٣

نمبر	عنوان	صفحہ	نمبر	عنوان	صفحہ
۷۹	سورة التّین	۳۲۳	۹۹	خلاصة القرآن الكريم	۳۵٤
۸۰	سورة العلق	۳۲٦			
۸۱	سورة القدر	۳۲۷			
۸۲	سورة البیّنة	//			
۸۳	سورة الزلزال	۳۲۸			
۸٤	سورة العادیات	۳۲۹			
۸۵	سورة القارعة	۳۳۲			
۸٦	سورة التکاثر	۳۳۳			
۸۷	سورة العصر	۳۳٦			
۸۸	سورة الهمزة	۳۳۹			
۸۹	سورة الفیل	۳٤۰			
۹۰	سورة القریش	۳٤۱			
۹۱	سورة الماعون	۳٤۵			
۹۲	سورة الکوثر	۳٤٦			
۹۳	سورة الکافرون	۳٤۸			
۹٤	سورة النصر	//			
۹۵	سورة اللهب	۳٤۹			
۹٦	سورة الاخلاص	۳۵۰			
۹۷	سورة الفلق	۳۵۲			
۹۸	سورة النّاس	۳۵۳			

بسم الله الرحمٰن الرحیم

ســـــورة الـــــکهف

مکی سورة دے په نزول کښی ۶۹ نمبر پس دغاشیه نه نازل شوے دے.
ددی ځائی نه دریم حصه دقرآن کریم شروع کښی په دے کښی شپاړلس سورتونه دے،

کهف،طٰهٰ،انبیاء، مریم ،حج ،مؤمنو‌ن،نور،فرقان، شعراء،نمل، قصص،
عنکبوت، روم، لقمان،السجده، احزاب،اوپه دی کښی مرکزی مسئله،
المبارك فی کل شيءٍ هوالله،

روابط السورة الکهف

ربط ۱ ...... ربط ...... ماسبق سره ربط دادے هر کله ئی چی مخکښی اووے،
المربی لکل شئ هوالله، تربیت هغه کوی نو برکت هم هغه آچوی،
تشبیه ذات سره اوتحمید صفت سره تعلق سائی، سمط الدرر ۱۰۲ کښی
شیخ القرآن نورالله مرقده وائی، لما کان التسبیح تنزیه الذات والتحمید صفة
له ولاشك ان التنزیه یکون اولاالتعلقه بالاول(ای بالذات)فقدم الأول فی الأول

ربط ۲ ...... مخکښی ترغیب الی القرآن وو،نو ددی سورة اول کښی هم ترغیب الی
القرآن دے،

ربط ۳ ...... مخکښی سورة کښی معجزه د پیغمبر ﷺ ئی ذکر کره نو دی کښی شبهات
په پیغمبر او د هغی جوابونه ذکر کوی،

ربط ٤ ...... مخکښی ئی اووے،شرك مستمره سبب للنزول العذاب،نو دی سورة کښی

یو قسم د شرك نفی کوی چه شرك فی العلم ده،

(۵)...... محکبنی سورة آخر کبنی وائیلی وو ،قل الحمدلله،ایت ۱۱۰ نودی سورة په سر کبنی وائی ،الحمد لله، چه حمد وایم دالله،

۶...... محکبنی سورة آخر کبنی اووے ،لم یتخذ ولداً،ایت ۱۱۱ نودی سورة کبنی انذارد پاره دمتخذالولد ذکر کوی په ٤،٥ کبنی،

۷...... محکبنی سورة کبنی ئی اووے ،فأرادان یستفزهم من الأرض،چه موسیٰ علیه السلام ئی ویستلو اوهغه مسئله نه پریخوده نودی سورة کبنی وائی چه اصحاب کهفوهم مسئلے د پاره هجرت کڑے وو په ۱۰ کبنی

۸...... محکبنی ۷۱ کبنی ئی اووے ،یوم ندعوا کل اناس بأمامهم،نودی سورة ٤۹ کبنی حالت داصحاب الشمال ذکر کوی،

۹...... محکبنی ٤٦ کبنی ئی اووے ،وجعلنا علی قلوبهم اکنة،نودی سورة ۵۷ کبنی هغه شان مضمون ذکر کوی،

۱۰...... محکبنی اقوام سابقه ؤ کبنی مجرمین ذکر کڑل چه یهوددی،نودی سورة کبنی اقوام سابقه ؤ کبنی دَ مؤحدینو ذکر کوی چه اصحاب کهف دی،

امتیازات السورة الکهف

۱...... دا سورة ممتازدے په واقعه د اصحاب کهف باندی،

۲...... دا سورة ممتازدے په واقعه د موسیٰ علیه السلام او خضر علیه السلام باندی

۳...... دا سورة ممتازدے په ذکر دعجائباتو دَ خضر علیه السلام باندی،

٤ دا سورة ممتازدے په بیان دوجوه ثلاثه لخساسة الدنیا،

۵..... دا سورة ممتاز دے په بیان د واقعے د ذوالقرنین باندی،

٦..... دا سورة ممتاز دے په واقعه د باغ باندی،

دعوی السورة الکهف

نفي علم غیب عن غیره تعالیٰ

خلاصة السورة الکهف

دی سورة کښی څلور واقعے بیانوی په نفی دعلم غیب باندی،

۱..... یوه واقعه داصحاب کهف ۱۳، ۱۴،

۲..... دویمه واقعه دنبی ﷺ په ۲۳،

۳..... دریمه واقعه دموسی علیه السلام اوخضرعلیه السلام په ۶۰ کښی،

٤..... څلورمه واقعه د ذوالقرنین په ۸۱ کښی،

اوګوره اصحاب کهف خپل حالت نه خبرنه دی،اوګوره موسیٰ علیه السلام د خضرعلیه السلام په کارونوخبرنه دے ،اوګوره نبی ﷺ دوحی د راتلونه خبرنه دے ،اوګوره ذوالقرنین ،لایکادون یفقهون قولا، بیا ۲۶ کښی خلاصه مینځ د واقعاتو کښی ذکر کوی اودی سورة کښی خساسة ددنیابالوجوه الثلاثه ذکر کوی،

اوله وجه..... الدنیا تؤخذمنك کما اخذت من صاحب الجنة

دویمه وجه..... الدنیاوقتهاقلیل ۴۵ کښی،

دریمه وجه..... الدنیاستکون وبالاعلیك په ۴۹ کښی اوقیامت کښی به وائی،

،مال هٰذاء الکتب لایغادرصغیرة،

حل مشكلات السورة الكهف

(قَيِّمًا) ايت ۲ ياحال دے دكتاب نه، يا مفعول دفعل محذوفه دے اى اجعله قيما،

(اَجْرًا حَسَنًا) ايت ۲، اجر خائسته په دنيا كښې تثبت دے لكه دلته ١٤ كښې ذكر كوى او آخرت كښې ياجنت دے،

(كَبُرَتْ كَلِمَةً) ايت ٥، ايضاً مريم ايت ٩٠ شورى ايت ٥،

(اَحْسَنُ عَمَلًا) ايت ٧ فضيلؒ وائى احسن عملا وائى اكثر عملا نه وائى،

(وَالرَّقِيْمِ) ايت ٩ دا تختو الاورته وائى ځكه چه دوئى نومونه په تختو ليكلى شوى دى،

(اوى الفتية) ايت ١٠ ځوانان وو ځوانان، ابن كثيرؒ وائى،

وكانوا اكثرهم مستجيبين لله تعالى شباباً،

ايضا مؤمن ايت ۲۸ يس ايت ۲۳ رجل ورته وائى،

(فَضَرَبْنَا عَلٰى اٰذَانِهِمْ) ايت ١١ ۔ ١ ؤ تپول موږه دوئى په غوږونو، ۔ ۲ يازمحشرى اوصاحب تسهيل وائى، فضربنا على اذانهم حجابا، او داځكه چه غريبانان ستړى شوى دى چه آرام اوكړى،

(اَتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِهٖٓ اٰلِهَةً) ايت ١٥ نن بياهغه شروع شول،

يوسالك وائى،

أعادُوا بِهامعنًا سُواعًا ومثلهُ يَغُوْثُ وَيَعُوْقَ بِئْسَ ذالك من وُدِّ

وقدهتفوا عندالشدائدِ بأسمِها كمايهتف المضطرّبالواحدالصمدِ

وكَمْ نحروافي سوقهامن بحيرةٍ اُحلّت لغيرالله جهلاً على العهدِ

وكَمْ طائفٍ عندالقبورمقبلاً ويلتمس الأركانُ منهنّ بالأيدِيْ

(وَإِذِاعْتَزَلْتُمُوْهُمْ) ایت ۱۶ د دوئی په کلی میله لګیدلی وه،دغیر الله په نوم باندی به ئی جرهاوا کیدله،نویو کس راوتے ده،اوورئے خواته راغلے ده،بل هم بل هم دغه شان تول راوتی دی یو بل نه تپوس کوی نوهر یو به وے چه دلته ذ غیر الله په نوم جرهاوے کیدے نوځکه مونږ راوتو،نوټول په جمع روان شول،

(مَنْ يَّهْدِاللّٰهُ) ایت ۱۷ دفعه دشبهے چه واه دولی هم څرنګه توحیدبیان کړو، جواب...... من یهدالله فهوالمهتد،

(رُعْباً) ایت ۱۸ دارعب نه ځکه دکیږی چه وبښته ئی اوږده شوی وو، یانیك سړی کښی هسی رعب وی،

(بَعْضَ يَوْمٍ) ایت ۱۹ (څه حصه دورځے نه) دا ځکه وائی چه اوده کیدل نونمر راختو،اوچه راپاسیدل نوبیا ډوبیدو،نوځکه ئی راویخووچه کله ئی خان ته و کتل،نونوکونه اوویښته ئی لوئی شوی وونوبیا ئی اووے ،قالواربکم اعلم بما لبثتم،

(اعثرناعلیهم) ایت ۲۱ پیسی چه کله ئی دو کاندارته ورکړے نودو کاندارورته اووے خزانه دی موندلی ده هغه ورته اووے چی نه ،دازمونږپیسے دی نودو کاندار بادشاه (دقیانوس) ته بوتلو،نوهغه ورنه تپوس او کړو،ده ورته اووے چه داسے داسے چل دے، کله چه بادشاه تاریخ و کتو،نوهغی کښی لیکلی شوی ووچه داسے څه کسان ورك شوی دی اوهغه دوئی وو،

(بادشاه چونکه منکر قیامت وونودوئی عقیده ئے په صحیح کوله)

بادشاه ورسره فوج ولیږلو چه کسان راوله نوهلته چه ورسیدل نو دوئی ته نی
اووے چه تاسو بهراودریږے، زه مرکروته وایم او خپله غارته ننوتو، نوهلته
الله تول مره کړل اوبیا راوُونهٔ وتلو،

(غَلَبُوْاعَلٰی اَمْرِهِمْ) ایت ۲۱، امرنه مراد دین دے لکه حدیث کښې راځي،

من احدث فی امرناهذامالیس منه فهورد،

اودلته وائی چه کوم کسانو زیاتی پهٔ دین کښې، کړے وونوهغوئی
مسجدجوړاول کوم جُمات چه په قبرجوړشی، نودهغه ړنګوالی جائزدے
لکه علیؓ یوکس ته اووے،

الاابعثك علی مابعثنی رسول الله الا تدع تمثالا الاکسرته ولاقبرامشرفاالاسویته،

اودا مسئله عام کتابونه ذکرکوی لکه مشکل الآ ثارصفحه ۲ ٤، نسائی
صفحه ۱/۷٤، ابن ماجة / ۱، ابوداؤدصفحه ٤ ۱۰ /۲، ۱۰۵/۲
مصنف ابن ابی شیبة صفحه ۱٤۰، ابوداؤدطیالسی صفحه ۳۱۱،۳۵۷،
۲٤۸، طریقة محمدیة صفحه ۳۵۶، کبیری صفحه ۵۵۷، عالګیری
صفحه ۱/۱۱۹ مسبوط السرخسی صفحه ۳/۶۲، مدخل صفحه ۱/۲۱۱
صفحه ۱/۲۰۹ صفحه ۳/٤۱ صفحه ۲/۳۲ شامی صفحه ۸۳۵،
اغاثةاللهفان صفحه ۲/۱۸۶ صفحه ۲/۱۹۰ فتح الملهم صفحه ۲/۱۱۹
صفحه ۲/۵۰، کنزالحقائق صفحه...... جامع الصغیر...... ، مستدرك......
مسندابی عوانة صفحه ۱/۳۹۹ مجالس الأ برارصفحه ۳۳٤،
کوکامولوی صاحب البرهان صفحه ۶ کښې ذکرکوی،
اودَ ښځو قبرستان ته تلل، نوداهم ناجائز دی،

حدیث کښې راځي

عن ابن عباسؓ لعن رسول الله ﷺ زائرات القبور والمتخذین علیها المساجد والسرج

بل حدیث کښې راځي، نهی رسول الله ان یجصص القبر وان یبنی وان یقعد علیه

(ثَلٰثَةٌ رَّابِعُهُمْ كَلْبُهُمْ) ایت ۲۲ واقعه، یوه ورځ مبتدعین روان وو خلور کسان وو نو

یو پنځ پیری طالب پری ورغے نوورته وائی چه تاسو څو کسان یئ هغوئی

اووے، خلور نو طالب په هر یو لاس کیخودو چه خلور ئې پوره کړو نو اووے، ثلثه

رابعهم کلبهم ګوره دلته تعداد څه ته ذکر کوی اشاره دیته چه په کومه خبره

کښې بحث ته ضرورت نه وی نو مه کوه،

(وَثَامِنُهُمْ كَلْبُهُمْ) ایت ۲۲ دلته دا کوم، واؤ، چې ذکر کوی، دیته، واؤ ثمانیه، وائی

دعربو دا قاعده ده چه کله ثمانیه ذکر کوی یعنی اته نو، واؤ، ورسره ذکر کوی

(وَازْدَادُوا تِسْعًا) ایت ۲۵ دا ولے وائی چه درے سوه کاله او نهه پری زیات کړی

قزوینیؒ ددی عجائب المخلوقات کښې عجیبه نقشه پیش کوی چه قمری

اوشمسی حساب کښې فرق دے، شمسی حساب اودهغی کال کښې فرق نه

راځي لکه جون جولائی کښې هر وخت ګرمی وی، اوقمری حساب کښې

فرق راځي کله رمضان ګرمئ کښې وی، او کله په یخنئ کښې وی داځکه

چه شمسی حساب میاشتے یا (۳۰) ورځې وی یا (۳۱) ورځې، اوقمری

حساب میاشتے د (۲۹) وی اکثر، او درے میاشتے صرف د دیرشو دی

نو کال کښې نهه ورځې فرق راځي، نو قمری حساب چه (۳۳) کال تیرشی

نو یو کال شمسی حساب واله زیاتیږی نو دری سوو کالو سره نهه کالو کښې

قمری کاله زیات لګ ے، نو شمسی حساب ۳۰۰ کالو سره برابریږی نو ځکه

قرآن ورسره، وازدادو اتسعا، والی د قمری حساب تکمیل دپاره،

(ابصربه واسمع) ایت ۲۶، او دلته څو جملې ذکر کوی،

۔ ۱ ...... قل الله اعلم بمالبثوا،

۔ ۲ ...... له غیب السموت والأرض،

۔ ۳ ...... ابصربه واسمع،

۔ ٤ ...... مالهم من دونه من ولی،

۔ ٥ ...... ولایشرك فی حکمه احدًا،

او دی، ابصربه واسمع، کښې څوترکیبونه دی،

۔ ۱، یاصیغه د تعجب ده نومعنی داده څه به لیدونکې او څه به آوریدونکې دې اللّٰہ

۔ ۲، یاصیغه دامرده نو، به، ضمیر راجع اصحاب کهف ته نومعنی داده واوره واقعه د اصحاب کهف، او ګوره واقعه د اصحاب کهف،

(تُرِیْدُزِیْنَةَ الْحَیٰوةِ الدُّنْیَا) ایت ۲۸ ربط...... ته چه مؤحدین پریږدې نودا به ددنیا د وجې نه وی نودنیا نه مخ واړوه،

(وَقُلِ الْحَقُّ) ایت ۲۹ حق څه دې، له غیب السموت والأ رض، دا حق دې،

(فَمَنْ شَآءَ فَلْیُؤْمِنْ) ایت ۲۹، اختیاردرته شته،

تقدیر تو یہ نہیں کہ مجبور تھا انسان ہر نفس کو اختیار ہے اطاعت بھی بہت ہے

(وَاضْرِبْ لَهُمْ) ایت ۳۲ دی خائی نه خساست او سپکوالی ددنیا د پاره،

اوله وجه، الدنیاتوخذمنك کمااخذ من اصحاب الجنة،

ربط...... ماسبق سره سرې خان ته علم غیب ثابتوی نودی وجې نه چه دنیام لاس ته راشی نو خساسته د دنیا ډیرخوانان وددنیانه لاړل،

یوسالك وائی،

ستنقلك المنایاعن دیارك ویبدلك الردی دارا بدارك

وتترك ماغنیت به زمانا وتنقل من غناك الی افتقارك

فدودالقبرفی عینیك ترعی وترعی عین غیرك فی دیارك

یوسالك وائی،

کم من صحیح مات من غیرعلةٍ وکم من علیلٍ عاش حین من الدهر

وکم من عروسٍ زینوهالزوجها وقدقبضت ارواحهم لیلة المقادر

(جَنَّتَيْنِ) ایت ۳۲ دا یو باغ وودوه باغونه نه وو،خوصرف دوه طرفونه وودباغ نوخکه دتثنیه صیغه راوړی اودا یوباغ وو،دلیل یوآتَتْ صیغه د مفردراوړی اودویم ،اکلها،ضمیردمفرد راجع کوی اودریم ،ولم تظلم ،صیغه د مفرد راوړی،

(وَاضْرِبْ لَهُمْ)ایت ٤٥ دی خانی نه دویمه خبره،لخساسة الدنیا وقتهاقلیل،

(هَشِيْمًا)ایت ٤٥ (زړے ، زړے) نبی علیه السلام نیکه هاشم ته هاشم څکه وائی،چه هغه عربو ته دعوت ورکړے وو،نوروټی ئی ورته ټکړے ټکړی،کړه نوعربوورته اووے ،اَنْتَ هاشمٌ(ته ټکړے ټکړے کونکی ئے) نوبیا په دی مشهورشو،

(تَذْرُوْهُ الرِّيْحُ)ایت ٤٥ یوخل شیخ عطارؒ ته یوسړے راغلواوشیخ عطارؒ دوکان کښی ناست وونوهغه، ترے سوال اوکړونوشیخ عطارؒ ورته اُووے چه ستامرګ به څنګه وی،نوهغی سړے دکان مخے ته څادر سرته راغونډ کړو او څملاستوچه داسے به وی،نوهغه څملاسته اومړشو،شیخ عطارؒ چه،

پاخولونوهغه مرووبیا دهغه ورځ ته شیخ عطارؒ لونی ولی جوړشو،لوئی صوفیوو،

(الکتب)ایت ۴۹ دی خالی نه دریمه خبره،

2 الدنیاستکون ویالاًعلیك،قیامت کښی به وائی مال هذالکتب،الخ

(واذقلناللملائکة)ایت ۵۰ ربط ......محکښی حقارت د دنیا ذکرشونود دنیامحبت

څوك آچوی نواوس وائی چی د شیطان اچوی،

(واذقال موسی)ایت ۶۰ دی خالی نه دریمه واقعه په نفی دعلم غیب باندی دموسیٰ

او خضر علیهما السلام،څوك وائی داموسیٰ بن منشی بن یوسف وو

خو جمهور مفسرین وائی داموسیٰ بن عمران وو چه الله فرعون ته

راستولے وو،او د الله خضرؑ ته علم دپاره آستولو داځکه چه موسیٰ

علیه السلام تقریر کولو،نوچا ورته تپوس او کړوچه ستانه لوئی عالم

شته،هغه ورته اووے چی نه،نو الله ته دا کلمه ناخوښه شوه او خضر

علیه السلام په شاګردئ باندی نی ورته حکم او کړو،

او موسیٰ علیه السلام سره یوشع علیه السلام هم وو،

مولاناروم په باره دعلم دموسی علیه السلام کښی وائی،

علم موسیٰ چونکی شددرغیب بند   علم موشی کئی بوداے ارجمند

(موشی منږ کانوته وائی)

(مِنْ لَّدُنَّا عِلْمًا)ایت ۶۵ بعض خلق وائی چه خضرعلیه السلام سره علم لدنی وو،

او فلانی سره دے،فلانی سره دے داغلط خبره ده،فیصل التفرقه صفحه ۱۶

کښی امام غزالیؒ وائی،چه څوك وائی چه ماسره علم لدنی دے،دے کافردے

(مِمَّا عُلِّمْتَ رُشْدًا)ایت ۶۶ دلته نه تقلیدثابتیږی،دواړه پیغمبران وو بیاهم یو د بل

تابعداری کوی،

(فَلَا تَسْئَلْنِیْ عَنْ شَیْءٍ) ایت ۷۰ کوره دوئی وائی تقلید،تسلیم قول الغیر بلادلیل، او اتباع چه د بل خبره اومنے سره ددلیل نو دلته وائی چه مانه دلیل مه غواړه خوچه دلیل نه غواړی نو بیا خنګه اتباع شوه، مونږ د امام ابوحنیفهؒ هم تقلید کوو خو دلیل نه غواړو که داجرم وی نو خضر علیه السلام مونږ نه مخکښې جرم کړے دے،

(شَیْئًا اِمْرًا) ایت ۷۱،امام بخاریؒ ذکر کوی چه کله کشتئ یو طرف کښې روانه وه نو یوه مرغئی راغله او د کشتئ په کناره کیناسته او سمندر نه ئی اوبه وڅکلې نو خضر علیه السلام موسی علیه السلام ته اووے چه زما او ستا علم د الله د علم نه دومره هم نه دے،لکه څومره چه د مرغئی سمندر نه اوبه اوڅکلې،

(اِذَا لَقِیَا غُلٰمًا) ایت ۷۴ دا ماشوم نه وو بلکه بالغ سړے وو،او قطاع الطریق وو،دوئی وائی چه ماشوم وو نو ماشوم قتل ولے جائز دے،چه ماشوم کافر وی هم نو قتل ئی ناجائز دے، پاتے خو قطاع الطریق مبسوط صفحه ۱۰/۳ کښې وائی وذکر الطحاوی ان الغلام الذی قتله معلم موسیٰ کان بالغاً،

دارنګه غلام اطلاق په بالغ هم کیږی لکه نبی علیه السلام شب معراج کښې آسمانونو ته لاړو،نو موسی علیه السلام سره ئی چه ملاقات وشو نو هغه ژړل، نبی علیه السلام ورته ووے ولے ژاړے هغه ووے ،ابکی لهذالغلام،غلام سره اشاره نبی علیه السلام ته وه او نبی علیه السلام عمر ۵۰ کاله وو،

ضمام بن ثعلبهؓ نبی السلام ته په ۱۱ م هجری کښې راغلے وو،او هغهٔ وائیل یاغُلامَ بَنِیْ عبدِالمطلّبِ،وروسته موسی علیه السلام وائی،

(اقتلت نفسا زکیة بغیر نفس)
نو بغیر نفس ولے وائی ځکه که ماشوم وو نو ماشوم نه به نی څه قصاص آخستو.
(استطعما اهلها) ایت ۷۷ موسی علیه السلام وظیفه غوښتله داطریقه چه طالبانو کښې وظیفه پرلول شروع دی داپیرروشن زمانه کښې شروع شوی دی.
خلقو پیرروشن ته اووے چه آخرت کښې طالبانو کړه اوموږه هڅ، کښه او نه کړه، نو پیرروشن ورته وظیفے راټولول مقرر کړل، اول به خلقو مسجد ته طالبانو ته روټی ورورله بیا خلقوته تکلیف وو، نو طالبان به ئی کورونو ته ورلیږل، اوکوره دلته موسی علیه السلام د روټی سوال کوی اوسورة قصص کښې ذکر کوی چه موسی علیه السلام مدین ته لاړدے اوهلته سوال نه کوی وئی لاندناست دے.
جواب ..... دا ځکه چه دلته ورسره مرکزی دی دمرکروغم کوی اوهلته یواځے دے، نو سوال نه کوی اوګوره دلته پرلفظ (استطعما) وائی او (ان یضیفوهما) وائی.
جواب ..... استطعام دموسی علیه السلام دطرفه نه لے وائی اوضافت دکلی طرف نه وائی.
دانه وائی (فأبوا ان یطعموهما) الاشباه والنظائر صفحه ۴/۵۸ کښې امام سیوطیؒ ذکر کوی چه هغه خپل استاذسبکیؒ ته خط لیکلے وو، چه دځانی باندی نه پوهیږم، سبکیؒ ورته ولیکل (الأستطعام وظیفة السائل والضیافة وظیفة المسئول) یعنی نسبت سره سائل ته استطعام وائی او نسبت سره مسئول ته ضیافت وائی، ددی وجے نه طعام المیت کښې کله علماء وړانی.

(و کره طعام المیت) کله وائی (و کره الضیافة) داخکه وائی چه نسبت جدا جدا دے نو مبتدعین وائی ضیافت ممنوع دے او طعام المیت نه دے ممنوع یعنی استطعام ممنوع نه دے حالانکه د دواړه یو مقصد دے او دا ممنوع دی لکه نیل الأ وطار ۳۵۸ ،۳٤۰ ،ابن ماجة ۱۱۷ بزازیه شامی ۱/٦۳۸ ،٦٦٤ فتح القدیر ۳ ۱۰ ۲/ مدخل ابن الحاج ۳/۲٤۲ مائة مسائل ۲۲ ،۸۳ او بعض خلق دا دلیل پیش کوی چی صغیری او کبیری لیکلی دی (وإن اتّخذَ طعاماً للفقراء کان حَسَناً) خو ،مائة مسائل و الله وائی ،

مراد از این بخیر از ایام مخصوص است ،

بذل المجهود ۱۸۹ ،ابو داؤد ۲/۹۱ ،عالمگیری ۱/۱٦۷ ،٥/۳٤٤ ، فتاوی رشیدیة ۱٤۲ مجالس الابرار ۳۳۷ کنز الدقائق ۱/۲٤٦ قاضی خان ۳/٥۰٤ خلاصة الفتاوی ۳/۳٤۲ ، بزازیة ٤/۸۱ (مصری چهاپ) جامع الرموز ۳ ٤٤ د ،قوهستانی ، شرح نقایة ۱/۱٤۰ ،مرقات ۱/۲۲۳ عالمگیری ٦/۹٥ ،او هغه وائی که مړی په اوه ورځو کښې دخیرات کولو وصیت کړے وو نو دا باطل دے ،درمختار ٤/٥۸٤ ، شامی شفاء العلیل ویکره طعام المیت ،مدارج النبوة ۱/٤۲۱ ،شرح سفر السعاده ۲۷۳ جامع البرکات ٦۸ فتاوی مولانا عبدالحی ۳/۷٦ ،او دوئی دمشکوة یو روایت د عاصم بن کلیب ذکر کوی چه هلته راځی ،فدعا امرأتهُ، تو بین السطور واله لیکی ای امرأة المیت ،او بیا وریسی وائی رواه ابو داؤد ،او ابو داؤد چه وګورے نو هغه وائی فدعاهُ امرأةٌ صفحه ۳/٤۳۲ ،او سنن دار قطنی صفحه ٥٤٥ معانی الآ ثار صفحه ۲/۳۲۰ مسند احمد او دلته وائی ،

فدعاه امرأةٌ من قريش ،جامع المسانيد صفحه ۵ ۲/٦ صفحه ۹ ۲/٦۹ دلته وائی فدعاه رجلٌ ،امام محمدؒ وائی ،فدعاهُ رجلٌ ،نو سړی نه ښځه شوه د ښځې نه قریشو ښځه او دهغې نه دمړی ښځه جوړه شوه او بيا دا هم وائی نبی علیه السلام دهغې خوراك وکړو،

(فَاَرَدْتُّ اَنْ) ایت ۷۹ پردنی شئی کښې خو تصرف جائز نه دے نو خرنګه‌دا تصرّف کوی،

جواب ......اصل کښې چه کله یوشي د غټ نقصان نه بچ کوے نو په هغه کښې وړو کے نقصان جائز دے،

(يَاْخُذُكُلَّ) ايت ۷۹ د کشتئ چه بادشاه آخیسته،دوه،۲ وجے ذهن کښې راځي يو دا چه کشتئ باندی ئی بیګار کولو دویم داچه ټیکس به ئی ترے آخستو، لکه نن صبا آخیستے شی او دا ناجائز دے حدیث کښې راځي نبی علیه السلام وائی چه ما د ټیکس آخیستونکے اُور کښې وُلیده مبسوط چه څا لیکلے دے علامه سرخسیؒ نو هغه زمانه کښې بادشاه ټیکس ولګولو،نو دی د ټیکس خلاف آواز وُچت کړو، بادشاه ونیولو او وچ کوهی کښې ئی واچولو، نو علامه سرخسیؒ به کوهی نه طالبانو ته سبق وائیلو او هغوئی شاګردانو به بره مبسوط لیکلو نو دیرش جلده کښې کتاب ئی ولیکلو،

هندوستان کښې انګریز خپل تسلط د پاره چه کله ایسټ انډیا کمپنی جوړه کړه نو هغه ملك حصو حصو کښې تقسیم کړو نو ملك کمزورے شو او هر څوك انګریز ته محتاج شول نو انګریزو رته قرض به ورکولو نو ټول دهغه مقروض شو نو هغوئی هاؤس ټیکس ولګولو،مفتی عوض ولګیدو او دهلي کښې،غټه

جلسه و کړه او مسلمانانو د انگریز خلاف کړل بیا دا د جنگ آزادی سبب وګرځیدو.

دارنګه د جنګ آزادئی اسبابونه داهم وو چه پخوا فوج سره توپکے وی نو هغه ته بارود او کارتوس آچولے شو نو چا به زیات هم آچول نو بیا به هغه په هغه کښې حساب سره بارود آچول کله به ئی چه ډز کولو هغه څمره به ئی په خوله سره وشلوله او بارود به ئی توپک کښې واچول نو مسلمانانو اووے چه دا خنزیر څمره ده مونږ داخلے ته نه کوو هندوانو اووے چه دادغوا څمره ده مونږ دانه استعمالوو او فوج بغاوت وکړو نو دلته بادشاه به هم ټیکس لګولو او داقانون د پخوا نه روان دے چه یوشی نقصان شده وی هغه چه مرمت ته بیا ئی نو په هغه ټیکس نه وی هغه وخت کښې به هم دا قانون وو چه کشتئ جوړه وه نو بادشاه به ټیکس مقرر کولو او چه نقصان پکښې وه نو بیا ئی ټیکس نه مقررولو نو خضر علیه السلام چه کشتئ ماته کړه دی د پاره چه ټیکس په مقرر نه کړی او له ته وائی چه نه بادشاه د بیګار د پاره آخیسته نو هم ستا خواښه ده وایه خو تپوس دا کوم چه بادشاه خلقو مال کښې تصرف کولے شی او که نه حکومت ته خو دا اجازت دے نو څنګه دا والی د عثمانؓ باره کښې چه کوم اعتراض شیعه ؤدمال خپ'رانو ته ور کولو باره کښې کړے دے نو هغه نه هم ابن جریر الطبری یو جواب داهم کوی چه ور کړے دے.

او دا جائز دے بادشاه ته چه هغه په بیت المال یاد مالونو د خلقو کښې تصرف وکړی یوسف علیه السلام تصرف کړے وو قرآن وائی چه هغه وے اجعلوا بضاعتهم فی رحالهم.

(اَبُوْهُمَاصَالِحًا) ایت ۸۲ مبتدعین وائی گوره دینه وسیله ثابته شوه نو اول خوورته وایه دا آیت منے، که دا آیت دمنلو،نو محکښی د یتیم مال ذکر کوی چه د هغی حفاظت خضر علیه السلام و کړواوته خو حفاظت نه کوے بلکه بربادوے ئی،او که ته وائی چه دینه وسیله ثابته شوه د پلار په وجه دا وشول ،نو مونږ وایو چه داسے نه ده بلکه د الله قانون ده چه د یو کس تذکره کوی نو د هغه صفت هم ذکر کوی نو دلته هم ،ابوهما ،سره،صالحًا،دهغه صفت ذکر کوی ورنه سورة تحریم ۱۰ کښی وائی چه خاوندان ئی نیکان وو او ښځے ته ئی نجات ورنه کړو،

(فَاَرَادَرَبُّكَ) ایت ۸۲ دلته درے خبرے دی اوله خبره سره وائی ،فأردت،په 79 کهی،دویمه خبری سره،فأردنا،په ۸۱ کښی دریمه خبری سره ،فأرادربك،دلته ئی ولی بدلوی

جواب ......اصل کښی دا أدب دے اوله خبره کښی ظاهری نقصان وونودَ متکلم صیغه ئی واوړه،خان ته ئی نسبت وکړو،دویم کاراوخبره فائده اونقصان د دواړه وو،نو صیغه د متکلم مع الغیر ئی راوړه،دریم کار اوخبره کښی فقط فائده ود نونسبت الله ته کوی،

(ذی القرنین) ایت ۸۳ دا خلورمه واقعه په نبی دعلم غیب باندی،

ـ ۱ ......اول داصحاب کهف ، چه وګوره لوئی لوئی اولیاء دی خو بیاهم دخپل خان دحالت ه خبرنه دی،

ـ ۲ ......بیا ۲۳ کښی واقعه د نبی علیه السلام چه اوګوره نبی علیه السلام ته د سبا ذَ حال پته نیشته،

۳..... دریمه واقعه دموسی علیه السلام او خضرعلیه السلام په ۸۳
کښې چه او گوره موسی د خضر علیه السلام په کارونو خبرنشو.

۴ ..... او دا څلورمه واقعه د ،ذی القرنین،دی باره کښې

ترجمان الکلام کښې ابوالکلام آزادؒ تفصیل کوی،ذوالقرنین دوه تیرشوی دی یو ذوالقرنین ممدونی دے ،ممدون روم کښې علاقه ده دا کافر وو،اود وزیرا رسطووو ،عیسیٰ زمانے سره نزدے وو،دوئم ذوالقرنین مسلمان وو ،داپهٔ ابراهیمؑ زمانه کښې وو، ذوالقرنین ورته خکه وائی چه دی دوه طرف، مغرب ومشرق باندی ئی بادشاهی وه اوده ټوله دنیافتحه کړی وه خوافغانستان ئی نه وو فتحه کړے مور ورته جواب ور اولیږلو چه ماته، یوخوکسان راولیږه چه زه تری تپوسونه وکړم نوهغه ورته لس کسان وارولیږل،هغی ترے تپوس وکړوچه ستاسو کښې جرنیل څوك دے نو یوپاسیدوچه زه یم خکه چه زماپلاردومره جنگونه اودومره فتحې حاصلے کړی دی ،بل اوو ے زه یم خکه زمافلانی جنګ فتحه کړے دے آخرداچه ټول ورته پاسیدل مورورته جواب ورولیږلو ،چه داديے قوم سره مه جنګیږه چه هغوئی هریووائی چه زه کماندراوجرنیل یم 'اصل کښې دملك ته چه کله سنټرل ایشیا نه به روان شول نودوه٫ ۲ لارے به وے یوه، نواپاس،دویمه د خیبر لار،په دی به راتلل اوحمله به ئی کولے سکندراعظم دلته چهوټا لاهورورته وائی هغه ئی د ،رالخلافه پاتے شوی ده،

(جَعَلَهٗ دَکَّآءَ)ایت۹۸زړے زړے اوس هغه دیوال توټی شوے دے،

(فَلَا نُقِيْمُ)ایت ۱۰۵ داخکه ورته نه اودروی چه دوئی عمل برباد شوے دے نوځه ورته وتلی۔

(بِعِبَادَةِ رَبِّهٖٓ اَحَدًا)ایت ۱۱۰ دی سورة کښی بیا، بیا لفظ ،احد،ذکر کوی،دا خکه چه الله یو او منه شریك ورسره مه جوړوه،عالم الغیب یو الله او منه اول خل په ۱۹ کښی بیا ۲۲بیا ۲۶ بیا ۳۲ بیا ۳۸بیا۴۲ بیا ۴۷ بیا ۴۹ کښی او بیا دلته وائی وَلَا يُشْرِكْ بِعِبَادَةِ رَبِّهٖٓ اَحَدًا

وذوالقرنين لم يعرف نبياً كذا اللقمان فاحزرعن جدال

بسم الله الرحمٰن الرحیم

سورة المریم

دا مکی سورة دے په نزول کښی ٤٤ نمبرپس دسورة فاطر نه نازل شوے دے

روابط السورة المریم

۱...... هر کله مخکښی ئے ذکر کړو چه عالم الغیب یو اللّٰه دے نودی کښی ذکر کوی چه متصرف فی کل شیء یو اللّٰه دے،

۲...... مخکښی رد دشرك فی العلم وو نودی سورة کښی رد دشرك فی الدعاء کوی

۳...... مخکښی عاجزی دانبیاؤ او اولیاؤ ئے ذکر کړه، چه هغوئی عالم غیب نه دی نودی سورة کښی د نورو انبیاؤ په بل انداز عاجزی ذکر کوی،

٤...... مخکښی فتوی د کفرئے و کړه په هغه چاچه نیکان بندګان ئے رامدد کول نـ دی سورة کښی فتوی په هغه چاچه عیسیٰ علیه السلام ته ئے ،اله ،وائیلی وو

٥...... مخکښی عجز د نبی علیه السلام او موسیٰ وو نودی کښی عجز د نورو انبیاؤ ذکر کوی،

٦...... مخکښی اووے ،انما الٰهکم اللّٰه واحدٌ، نودی کښی رد په هغه چاچه عیسی علیه السلام او مریم ته ئی اللّٰه وائیلی وو،

۷...... مخکښی ئی اووے اصحاب کهف باره کښی واذاعتزلتموهم ومایعبدون الا اللّٰه نودی کښی ابراهیم علیه السلام وائی، واعتزلکم وماتدعون من دون اللّٰه،

۸...... مخکښی آخر کښی اووے ولایشرك بعبادة ربه احدًا نودی سورة کښی یو قسم د شرك رد کوی،

۹ ...... محکښې ،څلورم آیت کښې اتخاذالولد ،بیان ئې او کړو ،نو دی سورة ۸۸ کښې ردپه هغه چاچه داعقیده ئې وه،

۱۰ ...... محکښې ۱۳ کښې اووے ،وزدنٰهم هدیٗ، نو هغوئی ته صرف توفیق نه وو، زیات شوے بلکه دی سورة ۷۶ کښې وائی ،ویزیدالله الذین اهتدوا،

۱۱ ...... محکښې ۱۵ کښې اووے ،لولایأتون علیهم بسلطٰن بین ،نو دی ۸۱ کښې وائی، ویکونون علیهم ضدًا،

۱۲ ...... محکښې اصحاب کهف باره کښې وائیلی وو ۲۶ کښې اسمع بهم وابصر نو دلته ۳۸ کښې عیسی علیه السلام باره کښې وائی،

۱۳ ...... محکښې ٤ کښې وائیلی وو ،اتخذالله ولدًا ،نو دلته ۳۵ په ردکوی،

۱٤ ...... محکښې ۳٤ ئې اووے ،اناأکثرمنك مالاواعزنفرًا، نو دی سورة ۷۷ کښې هم وائی ،وقال لأوتین مالاوولدًا ،

۱۵ ...... محکښې ۵ کښې اووے ،کبرت کلمة تخرج من افواههم ،نو دی سوره ۸۹ کښې وائی ،لقدجئتم شیئاًادًا،

۱٦ ...... محکښې ٤ کښې اووے ،وینذرالذین قالوا ،نو دی سورة ۹۷ کښې وائی ،وتنذربه قومًالدًا،

امتیازات السورة المریم

۱ ...... دا سورة ممتاز دے په تفصیلی بیان دحضرت زکریاعلیه السلام اومریم علیها السلام باندی ،

۲ ...... دا سورة ممتاز دے په بیان د جبرائیل علیه السلام چه هغه وائی ،

ومانتنزل الابـ ـربك

۳ــــ دا سورة ممتاز دے په دعاء د زکریاعلیه السلام باندی،

٤ــــ دا سورة ممتاز دے په ذکرد سپین کیدود سردزکریاعلیه السلام باندی ،

دعوی السورة المریم

عجز المصطفین الی الله تعالی،اونفی دشرك فی الدعاء،

ــ تقسیم السورةالمریم

دا سورة دوه حصے دے

۱ــــ اوله حصه ٦٣ آیتونه دی ،په دی کبنی عجزد انبیاؤعلیهم الصلوة ذکرکوی چه اوګوره زکریاعلیه السلام ،عیسیٰؑ،مریمؑ، یحیٰؑ ،ابراهیمؑ،اسماعیلؑ،موسیٰؑ اوهارون علیهم الصلوة والسلام ټول الله ته محتاج دی ،

۲ــــ دویمه حصه ٦٤ نه ترآخره په دی کبنی عجزملائکوذکرکوی،

خلاصة السورةالمریم

په ٦٥ کبنی ،فاعبده واصطبر، دلته زیادة دحروفودے،

وزیادة الحروف تدل علی زیادة المعنی،اوفاء د پاره د تفریع ده چه ټول انبیاء الله ته محتاج دی ټول فرشتے الله ته محتاج دی، تو،فاعبده، خاص دهغه عبادت او کړه،

حل مشکلات السورة المریم

(نِدَاءً خَفِيًّا)ایت۳په دی خائی باندی دحضرت قتادهؓ قول دے هغه وائی ،

ان الله یحب الصوت الخفی والقلب النقی،

(واشتعل الرّأس) ایت ٤ عرب وائی اشتعلت النار، دا هغه وخت کښې وائی چه کله اور ډیر تیز والی ته سپین شي او ګوره سر ذکر کوی ګیره نه ذکر کوی اصل، کښې سر اوّل سپینیږی نودی وجې نه ئې اول ذکر کړو،

(یرثنی) ایت ٦ دانبیاء میراث څه وو، حدیث، کښې راځی،
انّ الأنبیاء لم یورثوا دیناراً ولا درهما انّما ورثوا العلم،

(سمیّاً) ایت ٧ که چرې دا د، سام، یسام، نه شي نو په معنی دهم مثل او که د تسمیة نه شي نو په معنی د هم نام دے،

(فاوحٰی الیهم) ایت ١١ (اشاره وکړه) داځه ته ذکر کوی،
جواب ..... دا دی د پاره چه که چرې په خوله دحق بیان نشے کولے نو په اشاره ئې کوه،

(یٰبحیٰ حنیا) ایت ١٥ (خلاصه اول نه) او ګوره زکریاعلیه السلام ته اتیا کالو بوډادے بچې ئې نیشته اوفریاد یو الله ته کوی او یحی علیه السلام او ګوره الله ته دے عاجز،

(فحملته) ایت ٢٢ فرښتې پوکے اووهلو، نو حامله شوه او حامله څنګه شوه،
جواب ..... داځکه چه سړی دپاره خپله منی وی او ښځې د پاره خپله منی وی دادواړه چه کله یو ځائی شی، نو بچې پیدا کیږی (د سړی منی اصل خصیتین نه وځی او شاته چه نسبت کوی هغه دی وجې نه چه مورخینه، کښې اصل کښې شا کښې وه او دښځې منی سینه کښې وی نومریم کښې د سړی او ښځې دواړو منی الله پیدا کړی وه، نو پوك سره یو ځائی شوه اوقرطبی دی باندی تحقیق کړے دے،

(مِتُّ قَبْلَ هٰذَا) ایت ۲۳ دمرگ غوښتل ناجائزدی نودلته ځنګه غواړی،

جواب ...... یاخودا په دهغی ادیانو کښی جائزوو ، یا اصل کښی علماء وائی چه کله یوه فتنه کښی مبتلا کیږے او دهغه نه مرګ غواړے نو جائزده،اودلته مریمؑ باندی بهتان لګیدو،نومرګ ئی اوغوښتو،

(اُکَلِّمَ الْیَوْمَ اِنْسِیًّا) ایت ۲۶ چه مریمؑ وائیل زه خبرے نه کوم نوداخبرے نه وے ،فلن اکلم،

جواب ...... دادهغه دړے کسانو قصه ده چه مانځه ته ولاړوو،د دی جواب دادے چه دائی اشارے سره وائیلی وو ،الله جل جلاله ترے تعبیر په، ،فلن اکلم ، سره او کړو،

(تَحْمِلُهٗ) ایت ۲۷ حمل بمعنی دپورته کیدلوراخی دا معنی ئی نه ده چه په غیږه ئے واخستو ،دَا وَلے معنٰی تائیدچه حمل معنی پورته کړے ئے ووبه لاس کښی داشعاردعرب نه معلومیږی لکه ابن عقیل په شرح دالفیه کښی په باب د،اکتعُ وابتعُ،دحمل معنیٰ لاس کښی پورته کوُل وائی،

یالیتنی کنتُ صبیاًمرضعاً   تحملنی الزّلفاءُ حولاوا کتعُ

اذابکیتُ قبلتنی أربعاً   اذاضَلَلْتُ الدّهرتکبهُنَّ أجمعُ

(قَالَ اِنِّیْ عَبْدُاللهِ) ایت ۳۰ مفسرین وائی چه عیسی علیه السلام کوته وچته کړه او چغه ئی کړه،انی عبدالله ،خوګوره مخکښی مورباندی دزنا تهمت لګیدلے وو،نودے وائی،انی عبدالله ،نوولے داځه محال ده چه الله بنده به وی اوهغه به حرامی نه وی،

جواب .... اصل کښی وروسته وریښی ذکرکوی،اٰتنی الکتب،الخ نودی سره

الله حرامیانوته نه ور کوی
دفع د تهمت کوی چه د نبوت پاکه ډیوتی
(فاختلف الاحزاب) ایت ۳۷ ډلے مختلفے شوے، علیؓ ته نبی علیه السلام وے،
انی اجدفیك شبة ابن مریم، دائے ډلے وے،
جواب ...... دا خکه چه عیسی علیه السلام باره کښی مختلف ډلے وے
یوے ډلے ورته د خدائیتوب درجه ورکړی وه،
دویمے ډلے لے قتل جائزل، گنړلو،
او دریمے ډلے نبی گنړلو یعنی خپلے درجے باندی،
نو علیؓ باره کښی هم دغه شان اوشول،
یوے ډلے خدائے جوړ کړو، لکه روافض،
او دریمے ډلے ئے قتل روا، او گنړلو، لکه عبدالرحمن بن ملجم
اوشیعه وائی چه دا معاویهؓ تیار کړے وو دا بهتان دے، اودروغ دی
عبدالرحمن بن ملجم باره کښی خوارج وائی،

یاضربة من تقی ماارادبها ... الا لیبلغ ذی العرش ...... رضوانا
انی لاذکره یوما فاحسبه ... اوفی البریة عند الله میزانا

ا د دی رد اهل السنة والجماعة په کتاب، الفرق بین الفرق، کښی کوی هغوئی
ئی

یاضربة من شقی ماارادبها ... الا لیبلغ ذی العرش غضبانا
انی لاذکره یوما فاحسبه ... اشقی البریة عند الله میزانا

ریمے ډلے (چه هغه مونږه یو) په خپله درجه ئی گنړو، چه جلیل القدر صحابی دے
حق ویعقوب) ایت ۴۹، ابراهیم علیه السلام چه صرف ... بلار پریخودو، نو الله

ورته ديو په خائی دوه ورکړل . يوملګرے دين دپاره پريږده ،الله به دوه درکړی،

(مَكَانًا عَلِيًّا) ايت ۵۷ دلته خلق يوروايت ذکرکوی (او په دی روايت باندی کلام دے اود احسن المطالب ۲۵ کښی اوضياء النورکښی هم دے) چه ادريس عليه السلام ملك الموت سره دوستی وه نو يوځل ئی ملك الموت ته اووے چه ما آسمان ته بوځه ملك الموت اووے تيهك ده ، چوداوعده اوکړه چه بيابه واپس راځم،نووعده ئی ورسره اوکړه کله چه آسمان ته لاړو، نوچه هلته نه واپس راتلونوادريس عليه السلام په څلورم آسمان کښی پاتے کړے،ادريس عليه السلام ملك ته اووے، (چه کله ستله راغلل)چه زما نه خوپانړے پاتے شوے،ملك الموت ورته اووے چه تا لار ليدلی ده لارشه نوچه لاړونوهلته ئی څپے آرمے کړے چه نه ځم ،نوملك الموت ورته اووے چه هغه وعده چه کړی وه، ادريس عليه السلام ورته اووے چه هغه می پوراکړی ده، تا سره ځم ، دريم آسمان ته،لاړم بياخوخپله راغلم نواوس ادريس عليه السلام آسمانو کښی جنتيانوته کپړے جوړوی تيلرماسټر دے نوورته وايه چه ناپ به ته ورورے کله نه ،دلته دامعنی نه ده بلکه ،مکاناعليا،درجه اوچته،

(بُكْرَةً وَّعَشِيًّا) ايت ۶۲ صبا، بيګا،يعني هروخت،

(وما نتنزل)ايت ۶۳ دی خائی نه ترآخره دريمه حصه ده،سورة کښی ،محکښی عجز دانبياء کرام عليهم الصلوٰة والتسليمات بيان شو،نودلته نه اوس عجز د ملائکوذکرکوی جبرائيل عليه السلام دخوورځونه نه وو راغلے کله،

چه راغلو نبی علیه السلام ترے تپوس او کړو چه ولے نه راځے ،نو هغه ورته اووے ،وما نتنزل الا بامر ربك ،چه مونږ الله ته محتاج يو ،

(فَاعْبُدْهُ) ايت ٦٥ خلاصه د سورة چه او ګوره زكريا عليه السلام الله ته محتاج، مريمؑ الله ته ده محتاج، يحى عليه السلام ،الله ته محتاج دے ، عيسى عليه السلام عليه السلام ،ابراهيم عليه السلام ، اسحاق او اسماعيل عليهما السلام ،موسى او هارون عليهما السلام سره دملا تكو نه الله ته دى محتاج ،نو ،فاعبده...... فاء تفريعيه ،راوړى نو بيا خاص د الله عبادت كوه، واصطبر ...... كلك شه د الله په عبادت زيادة دحروفو ،د كر كوى، وزيادة الحروف تدل على زيادة المعنٰى ،

،قدتم السورة المريم،

بسم الله الرحمٰن الرحيم

سورة طٰهٰ

مکی سورت دے په اعتبار دنزول کښی ٤٥ نمبر پس دسورة مریم نه نازل شوے دے

روابط السورة طٰهٰ

ربط ١......محکښی کهف نه مضمون درد شرك شروع وو،او کهف کښی نفی دعلم غیب د مصطفینو نه، مریم کښی نفی د تصرف دمصطفینو نه پسره دعجز دهغوئی ،نو دی کښی ابتلاء دمصطفینو ذکر کوی،

ربط ٢......محکښی ایت ٤٢ وائیلی وو، یآبت لم تعبدمالا یسمع ......نو دی کښی وائی چه ارګوره ابراهیم علیه السلام مقابله کړی وه د توحیدد پاره، نواوس د سورة کښی مقابله دموسی علیه السلام د بادشاه سره ذکر کوی،

ربط ٣......محکښی نی وائیلی وو،واذکر فی الکتب موسٰی،نو دی سورة کښی دهغی تشریح کوی،

ربط ٤......محکښی نی وائیلی وو،واذکر فی الکتاب موسٰی انه کان مخلصا،ایت ٥١ چه موسی چاړ شوے دے ،نو دی سورة کښی مقام دچاړ کیدو ذکر کوی تفصیل دهغی کوی،

ربط ٥......محکښی ایت ٥٣ کښی نی اووے ،ووهبنا له من رحمتنا،الخ،نو دی سورة ایت ٣١ کښی تفصیل کوی چه هغه دی د پاره م ور کړی وو،

ربط ٦......محکښی ایت ٤٢ کښی نی اووے ،لایسمع ولایبصرولایغنی عنك شیئاً ،نو دلته ایت ١٩ کښی ساعری مرګوته موسی علیه السلام وائی،

ولایملك لهم ضرا ولا نفعا،

۷۔۔۔ معکبنی ئی اووے چه، مسئله بیان کړه ،الامن اتخذ عند الرحمن عهدا، نودی
سورة کښي والي چه مصائب به راځي خو موسی علیه السلام پشان زړه به لوے،

امتیازات السورة طٰهٰ

۱۔۔۔ دا سورة ممتاز دے په دعاء دهارون او موسی علیهما السلام باندی،

۲۔۔۔ دا سورة ممتاز دے په مناظرے دموسی علیه السلام ،یوم الزینة ، کښي

۳۔۔۔ دا سورة ممتاز دے په ذکر دسوزولو د سخی باندی،

٤۔۔۔ دا سورة ممتاز دے په قول د سامری لامساس باندی،

دعوی السورة طٰهٰ

ابتلاء المصطفین چه چرته شوی دی بیاهم خان نه تکلیف نشی دفع کولے،

خلاصة السورة طٰهٰ

اول تسلی نبی علیه السلام ته ورکوی، او بیا ترغیب الی القرآن او تخویفات هغه چا ته چه قرآن نے پریخودو،

حل مشکلات السورة طٰهٰ

(طٰهٰ) ایت ۱ ۔ طٰه، حبشی زبان کښي په معنی د،یارجل، باندی راځي لکه البیان کښي ابن الانباریؒ والی نو معنی دا شوه، اے په رجلیت کښي کامله، پاسه مسئله بیان کړه،

(الرحمٰن علی العرش استوی) ایت ۵ نن صبا به تپوس کوی چه استواء علی العرش څنګه ده، بس دا صرف الله ته معلومه ده، او غیر مقلد نه تپوس وکړه چه دلته وائی ،الرحمٰن علی العرش استوی، او بل ځائی وائی ،مایکون من نجوی ثلثة الاهو رابعهم ،

بل خائی وائی، فأینما تولوا فثمّ وجهُ اللّٰه، بل خائی وائی، وهومعکم اینما کنتم، نو اللّٰه
چرته موجود دے خکه که ته وائی چه هر خائی په اعتبار د ذات، اللّٰه، موجود دے نو ته
مشرك شوے، او که نه ته تاویل کوے چرته ئی په اعتبار دعلم او چرته ئی په اعتبار د
ذات آخلے نو بیا خود تأویل - وجے نه هم مشرك شوے،

(السّرّ وَأَخْفَى) ایت ۷ السر ماهو غیر خفی علی حبیبك والأخفی ماهو خفی علی حبیبك

(وان تجهر) ایت ۷ کهف کښی وائیلی عالم الغیب یو اللّٰه دے نو دی سورة کښی
ورته اشاره په، انّه یعلم السِرّ سره او سورة مریم کښی وائیلی وو،
المتصرف فی کل شیء هو اللّٰه، نو دلته ورته اشاره په، اللّٰه لااله الاهو، سره

(اِذْ رَاٰنَارًا) ایت ۱۰ مسعودی، مروج الذهب، کښی وائی، کانت لیلةٌ مظلمةٌ باردةٌ
او بی بی به ئی د ورخے کینزله، او ده به کښے ځرولے، او دشپے به ئی بوتله
داخکه چه انبیاء علیهم السلام نهایت غیرتیان دی،

(بِقَبَسٍ) ایت ۱۰ دلته ذکر د قبس کوی او سورة قصص ۲۹ کښی وائی،
او جذوة من النار (سکروتی) ته وائی، داخکه چه سکروټه به ئی راوړه او اور
به ئی بل کړو،

(فَاخْلَعْ نَعْلَيْكَ) ایت ۱۲ دا - حکم ورته ولے کوی،
جواب ...... دا، أدب د پاره وائی اوس د اللّٰه دربار کښی دے نو دا به کوے دا
بوج به وے.

هر کی عاشق شد اگرچه نازنین عالم است ناز او در دل یار میباید کشید

بیا به بوجرنه وے چه اللّٰه په دین مئین وے نو ځان او هر څه به قربانوے،

(وَأَهُشُّ بِهَا) ایت ۱۸ دلته، اهش، وائی، اضرب، ولے نه وائی،

جواب ... اصل کښې هش او ضرب کښې فرق دے ضرب چه ګداراو کړی اوهغه زخمي شي او و نه چه زخمي شي نوبیا پکښې چیںنجے پیدا کیږی اوهش هغه ته وائي چه لختے ته کوبده وروا چوی اوهغه خښږهے نوبیا ژنه ترقی کوی او کوره موسی علیه السلام کډی ولے ساتي ،حدیث کښي راځي،

مامن نبي الارعی الغنم، داولے هر پیغمبر څرولی،

جواب داځکه چه ګډے اوبیزے سختے شیطانیے وی یو ځل یوه طرف ته ځي اوبله بل ته طرف ته ځي نو سړے سخت ستړے کوی نو بیا چه کله نبوت ملاو شي،نود نبوۃ کار کښي سخت ستړے والے دے، نوبي دینه عادت کړے وو،داسے نه چه عادت نه وی،

(مَارِبُ اُخْرٰی) ایت۱۸ یو عالم خوب ولیدو چه قیامت ورځ ده نبی علیه السلام ته موسی علیه السلام اووے ته د خپل امت یو عالم راوله چه زه تپوس نه ترے او کرم ،نبی علیه السلام ورته امام غزالیؒ راوستو، موسی علیه السلام ورته تپوس او کړو، نو امام غزالیؒ ورته لس جوابونه ور کړل موسی علیه السلام ورته اووے ما خو درنه یو تپوس او کړو ،او ته لس جوابونه را کړل دا ولی، امام غزالیؒ ورته اووے ،چه ستا نه اللّٰه یو تپوس کړے وو.

وَمَاتِلْكَ بِيَمِيْنِكَ يٰمُوْسٰى ،نو ته درے جوابونه ور کړی وو داولی ،

موسی علیه السلام ورته اووے چه اللّٰه څمامحبوب وو، ماځکه ورسره کلام اوږدولو،امام غزالیؒ ورته اووے خوته هم څمامحبوب نی ځکه م درسره خبره اوږده کړه،

(اِذْهَبْ اِلٰی فِرْعَوْنَ) ایت ۲٤ مؤرخین وائي چه موسی علیه السلام لسو شپو منزل یوه

بيه كښي كړي وو ،او سخه ترې پاتې وه هغه بلاركړه لاړه وه او هغه
ترې هيره وه ،څكه چه الله ورته وانيلي وو ،اذهب ،او بيا به خلوت كاله
موسيٰ سره دورروره فرعون دربار ته به سحروختي ورغلي وو ، يا به د دربار
دروازې نه وی كهولاؤشوې اوتوحيدچغې به ئې وهلې ،

(وَزِيْرًامِّنْ اَهْلِيْ) ايت ۲۹ عبدالله بن مسعودؓ وائي درې كسانوهوښيارتيرشوي دي

۱ ..... يو موسي عليه السلام چه هارون عليه السلام باره كښي د نبوت سوال ئې كړي وو ،

۲ ..... دويم ابوبكرصديقؓ چه مونږه ته ئې عمرؓ خليفه جوړ كړو ،

۳ ..... دريم دشعيبؑ لور چه پلارته ئې دموسي عليه السلام باره كښي چه مشوره وركړې وه ،

(بِالسَّاحِلِ) ايت ۳۹ ساحل معنی څكه آچول چه دشمن قبلونه كول دصندوق پسې يوحنا د موسي عليه السلام خوروپسې تلله ، او دا نهر د فرعون كورته لاړوو نوصندوق په هغه روان شونوبيا بي بي آسيه اوچت كړو ، نو دهغې زړه پرې ولګيدو ،

(اِلٰى اُمِّكَ) ايت ۴۰ موسي عليه السلام ژړيدو ، فرعون ورته ښځې لټولې چه پئي وركړي ،نوموسيٰ دچاپئي نه څكلې موسي عليه السلام خورورته اوې چه زه به درته يوه ښځه اوښائم ،چه پئي وركړي نوموسي عليه السلام مور پسې جواب ئې واستولو هغې ورته اوې ،چه زه خود فرعون كورته نه ځم غيرتمنده ښځه داونګه وی چه د دشمن كورته نه ځی نوفرعون موسي عليه السلام ورته كورته راواستولو ،

(مِنَ الْغَمِّ) ایت ۴۰ کوره دلته قرآن قتل قبطی ته غم وائی گناه نه وائی بس هسی یوغم وو (ابن جریرؒ دلته یو اورد روایت ذکرکوی هغه صحیح نه دے)

(قَوْلًا لَّيِّنًا) ایت ۴۴ دلته نرماوینا ورته وائی او محکښې بنی اسرائیل کښې ذکر ووچه موسی علیه السلام ته فرعون وے انی لأظنك یٰموسٰی مسحوراً نوموسی ورته وائیلی وو، انی لأ ظنك یفرعون مثبورا، نودا څوقول لین نه وو جواب ...... اصل کښې اول کښې خبره نرمه وه او بیا چه ضدی شول نو بیا ورته سخت شو.

(فَمَنْ رَّبُّكُمَا) ایت ۴۹ دارب ورته ولے وائی، جواب...... داځکه چه رب ساتونکے ته وائی نودی سره فرعرن په موسی علیه السلام احسان اومننه کوی چه ما لوئی کړے ئی اودا احسان همیشه دفرعونیانو کاردے، ته چه کلی ته لاړ شے نوستا باندی به هم احسان کوی، اوموسی علیه السلام ورته د الله احسان یادوی چه ستاباندی زما د الله احسان دے نوخه وشو، او کوره بیا به تاته کلی کښې وائی، فمابال القرون الاولی.

(فَمَابَالُ الْقُرُوْنِ الْأُوْلٰى) ایت ۵۱ څه دے حالت دپخوانونودا تپوس چه وکړی نوداسے نه وی چه ته ورته وائی هغوئی ټول مشرکان وو، پلارئی هم مشرك ور، نوته به وائی انماعلمها عندربی فی کتٰب، دموسی علیه السلام جواب کوه

(نُخْرِجُكُمْ تَارَةً أُخْرٰى) ایت ۵۵ په دنیاغښ ظالم حجاج بن یوسف تیرشوے دے چه هره ورځ به ئی یو پاؤسترگے تللے اوچه سړیدو نو یو لاکه تابعین دهغه جهیل کښی وو، سعیدبن جبیرؒ ئی گرفتار کړو، کله چه ئی قتلولو، نومخ ئی ورته قبلے ته کړو، نوسعیدبن جبیرؒ دا آیت اووے، اینما کنتم فولوا وجوهکم شطره

حجاج اووے مخ ورته مشرق ته کړئ چه کله ئې کړو، نو سعیدؒ دا آیت اووے،وللّٰه المشرق والمغرب فأینما تولوا فثم وجه اللّٰه، بیا حجاج اووے،چه مخ ورله زمکې ته کړئ نو کله ئې چه ئې کړو،نو سعیدؒ دا آیت اووے،منها خلقنکم حجاج اووے،هارا ولے ئې نه شم خو قتل ئې کړئ چه قتل ئې کړو نو ډیره وینه ترے لاړه حجاج حکیمانو نه تپوس وکړو،هغې اووے چه د ده وینه جوش کښې وه نو ځکه ترے توله اووته،

(قَالَ اَجِئْتَنَا)ایت ۵۷ دا د فرعون دریم آتیك دے ، په موسی علیه السلام باندی اول آتیك په ایت ۴۹ کښې، دویم په ایت ۵۱ کښې، دریم دی ځائی دے

(وَاَنْ يُّحْشَرَ النَّاسُ ضُحًى)ایت ۵۹ او ګوره دخوشحالی ورځ ده او موسی علیه السلام خه کوی،

یو سالك وائی،

ہر کی عاشق شد اگر چہ نازنین عالم است ناز او ور دل بار میباید کشید

عاشق هر خه کوی دعلامه ابن قیمؒ المتوفی ۸۱۶ ه دهغه شاګرد مجدالدین فیروز آبادی (ډیر کتابونه ئې هم لیکلی دی دوه مشهور دی ـ ۱ ...... القاموس ـ ۲ ...... بصائر ذوی التمیز،

فیروز آباد ایران کښې ځائی دے،نو د ایران بادشاه اعلان وکړو چه که چا دصحاباؓ صفت خطبه کښې وکړو،دهغه به سر قلم کولے شی نو مجدالدین فیروز آبادی چه راغلو نو هغه خطبه کښې دصحاباؓ صفت وکړو،بادشاه ګرفتار کړو،او حکم جاری کړو چه شاهی سپی وږی کړئ شی نو شاهی سپی ئې وږی کړل،او اعلان ئې وکړو چه فلانی ځائی کښې چاچه دَ صحاباؓ صفت

بیان کړے و وهغه ته به سزاور کولے شی تول راجمع شی، خلق راجمع شو مجدالدین ئی په رسو ترلے میدان ته راواستو، نوشاهی سپی دهغے و ګی ئی ورخلاص کړل نو اول سپی سخ تیزو رغلل او کله چه ورنزدے شول، نو اودریدل، او بیا ئی شروع وکړه اوهغه پری ئی په شلولو کړلو نو پری ئی وشلول او ترے لاړ وخلق تول حیران شول او بادشاه راغلو دهغه نه ئی معافی وغوښته او ۲۲ کلی ئی ورته انعام کښی ورکړل،

(اِنْ هٰذٰنِ لَسٰحِرٰنِ) ایت ۶۳ د دی کښ معنی دی له وجے دمختلفو تراکیبو نه،

۱ ...... یو داچه، ان، مخفف دمثقل نه دے نو معنی ده تحقیق دا دواړه جادوګران دی

۲ ...... دویم داچه، ان، نه مراد، مانافیه، دے او، لسحران، کښی لام بمعنی، الا، دے، نو معنی ده ندی دا دواړه مګرجادوګران وی،

۳ ...... دریم داچه، ان، بمعنی، نعم، دے، نو معنی ده، نعم هذان لسحران، (آؤ آؤ دا دواړه جادوګردی)

اعتراض ...... قاعده دا ده چه، ان، اسم ته نصب او خبرته، رفع، ورکوی خودلته ئی دواړه ته رفع ورکړی ده،

جواب ...... عبدالرسول ذکر کوی ده چه کله دواړوته رفع ورکوی اوهغه دلته ده، اودویم دلته خبرباندی لام داخل شوے دے،

(بِرَبِّ هٰرُوْنَ وَمُوْسٰی) ایت ۷۰ هارون علیه السلام ئی دلته مقدم کړو، اونوروځایونو کښی موسی علیه السلام مقدم کوی دا ولے،

جواب ...... دا ځکه چه بعض خلق د اول نامه د موسی علیه السلام واله آخسته اوبعضو دهارون علیه السلام، نو کله یو دِلے قول ذکر کړی کله دبلے ډلی

قول ذکر کړی.

(غَضْبَانَ اَسِفًا) ایت ۸۶ ولد د غصے اوغمجن خکه چه خلوبیت کاله ئی مسئله بیان کړی وه نوفرعون خوالله غرق کړو ،خواوس ورته خپل پیداشوچه کله خپل سامری پیدا شی نوبیامسئله گرانه شی،

(سامری زر گرنه وو بلکه سامرد کلی نوم و وهغه ته نسبت کوی)

شیخ القرآنؒ به خکه وائیل،

واخوانٍ حسبتهم دروعا	فکانواهاولکن للأعادی
وخلتهم سهاماصائبات	فکانواهاولکن فی فؤادی
وقالوا قدصفت مناقلوب	فکانواهاولکن عن ودادی

(لَه خُوَارٌ) ایت ۸۸ دلته خلق وائی چه سامری د جبرائیل علیه السلام د آس خپو خاوره پکښی آچولی وه بلکه قرطبی وائی چه دا سورنگ وو، هغی آواز کولو،

(فَنَسِيَ) ایت ۸۸ دوه معنی دی،

۱...... هیر کړے دے موسی علیه السلام خدائی لره،

۲...... یاهیر کړی سامری خپل خدائی لره،

(وَلَقَدْقَالَ لَهُمْ هٰرُوْنُ) ایت ۹۰ دا دفعه د وهم کوی چه گوره موسی علیه السلام نه وو، هارون علیه السلام خووهغه به ورته بیان کړے وو کنه،چه دوئی گمراه کیدل نودی سره دفعه دوهم ئی و کړه،

(لَاتَاْخُذْ) ایت ۹٤ و گوره موسی علیه السلام یوخت داسی ووچه خلوبیت کاله جدائی ئی تیره کړی وه اوهغه کښی هم ورته یاد وو ،اود الله دربار کښی

وائی (هرون أخی أشدد به أزری)اوس ورته هم یاد دے،دومره زیاته مینه ده خو کله ئی چه مسئلے کښی ورته ښکاره شوی ده نو بیا وروړ ګڼړے اوس نه نیسی، ګوره دین کښی د چا لحاظ نشته،

(قَبْضَةً)ایت ۹۶یو،قبضه،ده اوبل،قُبصة ،قبضه،موټی کښی نیولوته وائی ،او،قُبصه، ګوتوکښی نیولوته وائی،نومودودی د قبضه نه قبصه جوړه کړه، اودا فرق دی خائی کښی قرطبیؒ ذکر کوی،

(أَثَرِ الرَّسُوْلِ)ایت ۹۶(تابعداری د پیغمبر) دوئی وائی دلته عبارت محذوف دے

۱......اصل کښی داده ،من اثرحافرفرس الرسول چه آسپه راغله او موسی علیه السلام سره آس وو،اودریاب ته نه کوزیدو،نوهغه قدم لاندی به خائی شین کیدو، نوسامری لګیاووهغه خاوره ئی راخسته مونږ وایودا سامری دومره بهادرنه ووچه وروسته وریسے دشمن دے اودے خاوره ټولوی،

۲......دویم د دی صحیح ثبوت نشته،اواصل کښی دَ ،اثر،معنی تابعداری ده، او امام رازیؒ دیته ترجیح ور کړی ده،

(وَيَسْئَلُوْنَكَ عَنِ الْجِبَالِ)ایت ۱۰۵ ربط...... ماسبق سره،هر کله چه موسیٰؑ ته سامری پیداشو،دارنګه ته نه به هم تپوسونه کوی،

(یعنی سامری به درته پیداشی)خوخفه کیږه مه،

(وَلَقَدْعَهِدْنَا)ایت ۱۱۵ ربط ماسبق سره منځکښی اووے ،وقل ربِّ زدنی علمًا، دا دعا وایه ځکه چه ستا نیکه نه هم خبره هیره شوی وه ستا نه به هم هیرشی،

(وَعَصٰى)ایت ۱۲۱(سورة عصیان کښی راغلو)لکه سړے روژه کښی اوبه وڅکی نوصورت د عصیان کښی صرف راغلو،

بسم الله الرحمٰن الرحیم

سورة الانبیاء

دا مکی سورة دے په نزول کښې ۷۲ پس د سورة ابراهیم نه نازل شوے دے

روابط السورة الانبیاء

ربط ۱ ...... مخکښې ابتلاء دموسی علیه السلام ئې ذکر کړه نودې کښې د نورو انبیاء علیهم السلام ابتلاء ذکر کوی.

ربط ۲ ...... مخکښې سورتونو کښې نفی د دوو اقسامو د شرك (فی العلم والتصرف) اوشوه مخکښې سورة کښې واقعه د ابراهیم علیه السلام وه مختصره، نودوئې الله ته محتاج دی نوتولو الله رابللو،

ربط ۳ ...... مخکښې سورة کښې واقعه دابراهیم علیه السلام مختصره نودې کښې تفصیلاً واقعه ذکر کوی،

ربط ٤ ...... مخکښې ئې دموسی علیه السلام واقعه تفصیلاً ذکر کړې وه ،نودې سورة کښې خلاصه دهغې ذکر کوی،

ربط ٥ ...... مخکښې دځوانبیاؤ بیان ئې اوکړونودې سورة کښې خبره دهغوئې ذکر کوی چه مسئله د توحیدئې بیان کړې وه،ومآارسلنا،

ربط ٦ ...... مخکښې نه یومضمون راروان وو، کهف کښې، نفی علم غیب،وه، مریم کښې،عاجزی دمصطفینو، طٰهٰ، کښې،ابتلاء دمصطفینو،نودې سورة کښې وائی،ویدعوننارغبًاورهبًا،

ربط ۷ ...... مخکښې بیادوئې دموسی علیه السلام په ماتولو دسخی ذکروه نودې کښې

بهادرنی دابراهیم علیه السلام ذکر کوی ،

۸...... مخکښی ذکرد تباهی دقومونو په ایت ۲۸ کښی ، نودی کښی ذ علت د تباهی په ایت ۱۱ ،

۹...... مخکښی نی وائیلی وو ،قل کل متربص فتربصوا،نودا انتظار به خومره وی ، نودی کښی وائی ،اقترب للناس حسابهم ،

۱۰...... مخکښی نی وائیلی وو ،ومن اعرض عن ذکری فانّ له معیشةً ضنکا، چه ژوند به ئے تنگ وی نودی سورة ۲ کښی تفصیل کوی اوزیادت په هغه کوی ،

امتیازات السورة الانبیاءٔ

۱...... داسورة ممتاز دے په واقعه د ایوب علیه السلام باندی،

۲...... د اسورة ممتاز دے په بیان د دعاء د یونس علیه السلام باندی،

۳...... د اسورة ممتاز دے په بیان د دی چه نبی علیه السلام ته اللّٰه ، رحمة للعالمین،وائیلی دی،

٤...... د اسورة ممتاز دے په بیان د ماتولود بتانو دابراهیم علیه السلام،

۵...... د اسورة ممتاز دے په حکم د اللّٰه باندی اورته ،

٦...... د اسورة ممتاز دے په واقعه د،اذنفشت فیه غنم القوم،باندی ،

دعوی السورةالانبیاء

نفی دشرك فی الدعاء اوورسره اثباة د مقاصداربعه،

خلاصة السورة الانبیاء

دی سورة کښې په نفی دشرك فی الدعاء باندی واقعات ذکر کوی دانبیاءٌ
ایوب علیه السلام او گوره بیمار دے ،صرف الله ته فریاد کوی ،و گوره یونس
علیه السلام دماهی گیډه کښې دے ،یو الله ته را مدد شه وائی،
زکریاعلیه السلام وگوره بچی نیشته، نو الله ته فریاد کوی، او گوره ټول
انبیاء کرام علیهم السلام الله ته رامدد شه وائی،
نو خلاصه په ایت ۹۰ کښې،
کانوایُسٰرعون فی الخیرٰت ویدعوننا رغبًاورهبًاچه ټولو ماته ژارا کوله،

تقسیم السورة الانبیاء

دی سورة کښې شپږ بابونه دی،

اول باب کښې ۱۶ آیتونه په دی کښې اثباة القیامة،اوبیازجر للمنکرین اوبیااثباة الرسالة د جناب رسول الله ﷺ کوی،

دویم باب د ۱۷ نه په دی کښې ادله عقلیه باثباة التوحید،

دریم باب د ۳۰ نه په دی کښې ادله عقلیه او تسلّی نبی علیه السلام ته، په ۳ کښې بیا زجرمنکرینو ته، بیاتخویف اخروی په ۳٦ کښې،

څلورم باب د ٤۸ نه په دی کښې تنویرعلی ماسبق بواقعات الانبیاء،

پنځم باب د ۹۷ نه په دی کښې بشارة للمؤمنین اوزجراوتخویف د پاره دمنکرینو

شپږم باب د ۱۰۵ نه په دی کښې بشارة الدینویة دے اودا تر آخرد سورة،

حل مشکلات السورة الانبیاء

(مَایَاْتِیْهِمْ)ایت ۲ (زجربانکارالقرآن) ربط...... دونی چه قیامت نه منی نو څکه چه

قرآن نه منی.

(بَلْ هُوَشَاعِرٌ) ایت ۵ او گوره دلته لفظ بل ذکر کوی.

جواب..... داځکه چه جر که ناست وه، یو به وے، واه فلانی خان نه

خبرے جوړوی،بل به اووے نه وے خوبونه گوری ،بل به وے نه مړه شاعردے.

(مَآ اٰمَنَتْ قَبْلَهُمْ) ایت ٦ دی آیت کښی یوقسم تسلی ده څه مطلب ستانه مخکښی هم

ټول کلی ایمان ندے راوړے نوستاکلے به څه راوړ خفه کیږه مه.

(فَسْئَلُوْٓا اَهْلَ الذِّكْرِ) ایت ۷ ،دے ایت کښی بحث دتقلید دے او انشاء الله څو به

دسورة عنکبوت ایت ۱ ٤ کښی بحث کوم اوهلته و ګوره

(وَمَا جَعَلْنٰهُمْ جَسَدًا) ایت ۸ دفعه د دوئی دخبرے دوئی وے ،هل هذاالابشرمثلکم،

نو دلته وائی چه ټولوانبیاء خوراك کړلو.

(وَمَاكَانُوْا خٰلِدِيْنَ) ایت ۸ هذا دلیل علی موت خضرعلیه السلام.

(وَكَمْ قَصَمْنَا) ایت ۱ ۱ تخویف ورکوی ،ربط..... ماسبق سره که دوئی قرآن نه منی

نو مخکښی م هم ډیرهلاك کړی دی (قصمنا) ایت ۱ ۱ دځ شان درے الفاظ دی

(۱)......فصم (۲)......قصم (۳)......قضم

فصم وائی ماتول بے دبیلولو نه ، قصم ماتول سره دبیلولو نه، قضم په غاښونو

سره ذرے ذرے کولوته وائی

(يَرْكُضُوْنَ) ایت ۱ ۲ رکض دیته وائی چه په آس سورشے او پونده ورکړے،

(فَيَدْمَغُهٗ) ایت ۱ ۸ دمغ دیته وائی چه سر ورته په کوتك اووهی اومازغه ورته ګډوډ

کړے!

(اِلَّا اللّٰهُ) ایت ۲ ۲ الابمعنی غیر دے ،اوقیاس استثنائی ته حاجت نشته ،غیرمعنی چه

شی نودوه شوے ،یو تردید د الهه وُباطله . دویم اثبات د الله واحد.
او د محققینو دا مسلك هم دے چه کله جمع نکره راشی نو دهغه نه استثناء نه صحیح کیږی،

(وَهُمْ يُسْئَلُوْنَ) ایت ۲۳ هغه یو سالك هم وائی،

أَعُبَّادُ الْمَسِيْحِ يُخَوِّفُنَا   وَنَحْنُ عُبَّادُ مَنْ خَلَقَ الْمَسِيْحَا

(هَاتُوْبُرْهَانَكُمْ) ایت ۲٤ ،امام مالكؒ واثق دربار کښې مناظره کوله نو آخر کښې اووے ،ایتونی شیئامن کتاب الله وسنة رسوله،او گوره قرآن ډیره عجیب لهجه ده،اول ئے خپله مسئله بیان کړه بیا دلائل ،نو خصم باندی ئے ئے ردَو کړو،نو بیا ورته وائی دلیل راوړئی کنه،او دا لهجه لکه مشرکینو سره استعمالوی دغسی یهود و سره هم لکه بقره ۱۱۱،

(لَآاِلٰهَ اِلَّآاَنَا) ایت ۲۵ ،امام رازیؒ دی ایت لاندی ذکر کوی چه دا جمله قرآن کښې ۳۷ ځایه ذکر کوی.

(اِنِّیْ اِلٰهٌ) ایت ۲۹ حسین بن منصور الحلاج (شاعران وائی چه منصور په دار شو، دا منصور نه وو ده نوم حسین وو ،او منصور ئے د پلار نوم وو،
ضیاء النور ۲۱ کښې په دی شیخ نورالله مرقده بحث کوی چه ناکاره سړے وو) د خان نه ،اناالحق،وائیلی وو هغه زمانه کښې (۱۰۰) سلو علماء د کفر فتوی په ده کړی وه،

(وَمَاجَعَلْنَالِبَشَرٍ) ایت ۳٤ ربط ......ماسبق سره مخکښې دلائل ئې بیان کړل نو چه بیا منی نو تسلی ورکوی چه پروا مکوه،

(وَلَاهُمْ مِّنَّايُصْحَبُوْنَ) ایت ٤۳ د دی درے معنے دی،

4

شوی په امداد
(۱)......نه دی نیکان بندیګان خمونږ د طرف نه ملګری
(۲)......یا ملګری شوی په حفاظت د دوئی
(۳)......یا نه دی ملګری شی زمونږ سره په څه کار کښی
(یٰوَیْلَنَآ) ایت ٤٦، اول خل ١٤ کښی دغه شان وائی بیا ۲۹ کښی تو دلته هم دغه
شان دے
(وَنَضَعُ الْمَوَازِیْنَ) ایت ٤٧ موازین جمع باعتبار دموزونات وائی نه داچه تلے به
زیاتے وی،
(وَهٰذَا ذِكْرٌ مُّبٰرَكٌ) ایت ٥٠ قرآن خو مره عجیب کتاب دے،
علامه اقبال وائی،

تو ہمی دانی کی آئین تو چیست　　زیر گردون سر تمکین تو چیست
آن کتاب زنده قرآن حکیم　　حکمت او لا یزال است وقدیم

(اِذْ قَالَ لِاَبِیْهِ) ایت ٥٢ مفسرین وائی چه ابراهیم علیه السلام کله مسئله د توحید
شروع کوله نو دی وخت کښی د ابراهیم علیه السلام دپلار په کور کښی
٤٠٠ خلورسوه پیغلے جینکئ وے،
(بَلْ فَعَلَهٗ) ایت ٦٣ د دی ګنړے معنے دی،
۱......داکار به کړی وی څوك چه تاسو یا دوئی (یعنی ابراهیمؑ)
او کبیرهم خان ته کلام دے (دامشرتاسو ددینه تپوس وکړئی کچرته خبرے
کوی)
۲......بلکه داکار کړے دے مشرددوئی چه دادے، او دائی الزامًا، اووے
۳......بلکه کار کړے دے مشرد دوئی (یعنی الله چه هغه د بتانو هم مشردے

یاد الله په طاقت دا کار شوے دے)

(اَفَتَعۡبُدُوۡنَ) ایت ۶۶ کله چه ابراهیم علیه السلام خبره وکړه نو ددوئی بله لاره نۀ وه، نو اُووے چه جهیل ته ئے کړے،

طبقات الکبری کښې ابن سعد ؒ ذکر کړی دی چه کله ئے اووه کاله جهیل کښې تیر کړو او راووتو نو بیا ئې دا بیان او کړو ،قال افتعبدون،الخ

(اِنۡ کُنۡتُمۡ فٰعِلِیۡنَ) ایت ۶۸ طبری ذکر کوی چه کله ئې ابراهیم علیه السلام سوزولو نو بادشاهی کښې اعلان وشو چه شپږ میاشتے خوك صدقه کوی،نو دَ ابراهیمؑ سوزیدود پاره دی لرګی آخلی نو لرګی به اخستلے شو،او دَ ټولو نه زیات لرګی دَ ابراهیم علیه السلام پلارور کړی وو ،نو کله چه اور بل شو دومره زیات وو ،چه دَ پاسه پرے مارغان نشو تیریدے نو نمرو دیانو ته دا ابراهیم علیه السلام دَغور خولو چل نه ورتلو ، نو مناره ئې جوړه کړه او ابراهیم علیه السلام پلار یو طرف رسّی ،او نمرود بل طرف نیولی وو ،

امام رازیؒ وائی چه جبرائیل علیه السلام ورته راغلو ،ابراهیم علیه السلام ته چه زه به دی وچت کړم نو ابراهیم علیه السلام اووے ،

حسبی سؤالی وعلمه بحالی،نو ابراهیم علیه السلام ئې اورته وروغورخولو نو کربوړے راغلو او پوك ئې ورکولو خپله بے ایمانی ئې ظاهروله،

نو نبی علیه السلام د کربوړے باره کښې حکم وکړو،

اقتلوه فی الحل والحرم،او بل طرف ته تورنکے او به راوړے او دَ پاسه نه ئې آچولے نو هغه لوئی تپس راو نیسی او په سر سر ئې وهی

(د کربوړئی په شان دمؤحدینو خلاف مکوه بلکه د تورنکے په شان شه

نولونی تیس به اووهے)

(كُوْنِيْ بَرْدًا) ایت ۶۹، ابراهیم علیه السلام نی چه کله اور کښې و اچول نو سلامت وو، اولاس کښې ئې دانګوروغونچه وه، نمرود د خپل محل نه ولیدو نو هغه اووے چه زه به د ستا خدائی په نوم ځلورسوه غواګانے حلالوم، حلالے ئے کړی خو هغه چرته قبلیدے ،ځکه ایمان نه وُو،

(بَرْدًاوَّسَلٰمًا) ایت ۶۹ مسعودیؒ مروج الذهب کښې ذکر کوی چه کله الله دا حکم او کړو نو د ټولے دنیا اورونه مړه شول،

(فَجَعَلْنٰهُمُ الْاَخْسَرِيْنَ) ایت ۷۰ دلته وائی ،فجعلنٰهم الأ خسرین، بل ځائی صفت کښې وائی ،فجعلنٰهم الأ سفلین،

جواب...... داځکه چه دوئی ابراهیم علیه السلام ذلیل کولو ،نو الله دوئی ذلیل کړل اودوئی ابراهیم علیه السلام بښکته وغورځولو ،نو الله وائی دوئی م سم ښکته کړل،

(اِذْنَفَشَتْ فِيْهِ) ایت ۷۸ واقعه داوه چه د یو کس چیلئ دبل سړی په فصل کښې ځریدلے وے نو د سلیمان علیه السلام پلار حضرت داؤد علیه السلام ته ورغلل ،وی چه دارنګه کاردے نو هغه چیلئ زمیندارته ورکړے

سلیمان علیه السلام اووے چه مابه ښه فیصله کړی وه ،نو داؤدعلیه السلام واؤریده هغه ورته اووے ځرنګه نوسلیمان علیه السلام ورته اووے چه مابه زمیندارته چیلئ ورکړی وے ،اوشپونکی ته فصل، کله چه فصل غټ شوے وے نوزمیندار به چیلئ شپونکی ته واپس کړی وے،

(وَعَلَّمْنٰهُ) ایت ۸۰ دلته یوه واقعه چه داؤدعلیه السلام د کسب د پاره سبب څه وو

سورة مائدة ایت ٤٢ لاندی او گوره،

(تَجْرِیْ بِاَمْرِهٖ)ایت ۸۱سلیمان به شام کښې فیصله او کړه،او دغرمے خوب به نی کابل کښې کولو او ژمی کښې به نی آزربائیجان ته خوب ته تلل،

(وَاَیُّوْبَ)ایت۸۳دی خائی کښې ئی من گهړت واقعات جوړ کړی دی ،

مفسرین ئی ذکر کوی چه ایوب علیه السلام بدن کښې چینجی وشول، خوداغلط خبره ده د پیغمبر په بدن په مرگ څه نه کیږی نو په ژوندبه څنگه اوشی،احسن المطالب صفحه ۲۱۳ کښې وائی ،کلهَازورٌو کِذبٌ،

(اَنِّیْ مَسَّنِیَ الضُّرُّ)ایت۸۳په پنجاب کښې جلال الدین نومی یو کس بیمارو و، ډاکټرانو به وائیل چه دده علاج نه کیږی یوه شپه خلق ورغلل نوخلقو وے چه صبا به جلال الدین مړوی نوجلال الدین شپه کښې پروت دے په ملاکښې ئی درد راغلونو په یوطرف اوبل طرف آوړیدو کوشش کوی، خوآوړ یدے نشی اونزدے کسانو ته آواز کوی آوازنشی کولے آخرئی الله ته فریادو کړوچه ای الله ته هغه رب ئی چه ایوب علیه السلام دی جوړ کړے وو، ما هم جوړ کړه نوهغه وے مازړه کښې اووے چه واوره نوواوړ یدم نوبیا کیناستم نوبیاروان شوم څان چیچم چه خوب کښې خونه وینم، خوچه کله مطمئن شوم چه الله جوړ کړم نواودس م او کړو،او الله ته شکریه مونخ باندی اودریدم ، سحرمانخه کښې شریك شوم خلقوترے تپوس او کړو، هغه ورته ټوله واقعه بیان کړه،

(وَذَاالْكِفْلِ)ایت ۸۵دایاپیغمبرو و،اویامهات مَعبُدنامه وه،مهات معبدتفصیل، دسورة ۱۰۷ لاندی او گوره،

(فَنَادٰى فِى الظُّلُمٰتِ) ایت۸۷یونس علیه السلام چه کله کشتئ کښی کیناستو نو کشتئ دریاب مینځ کښی ودریده،ووبیده ،خلق وائی چه هغوئی ته چه خوك د خپل آقانه تښتیدلے دے، خودا خبره غلطه ده بلکه وجه داده چه کشتئ د دروندوالی نه ووبیده،کسان زیات وو،نوقرعه اندازئ ئی او کړه اوپه هغه کښی دده نوم راووته،

(اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنْتَ) ایت۸۷دعاء کښی درے شرطه دی،

۱...... یو دهغه سرې صفت وکړه،

۲...... دویم چه چانه څه غواړے نوخپل حاجت هغه سره وګړه،

۳...... دریم داچه خپل حاجت ورته پیش کړے ،اودلته دا درے واړه شرطو نه شته

(مِنَ الظّٰلِمِيْنَ) ایت۸۷مو دودی لیکی،

یونسؑ نے اپنے منصب نبوت میں کچھ کوتاہی کی،

خودے دظلم په معنی نه وپوهه، ظلم په معنی د کمی سره راځی لکه سورة کهف ۳۳ کښی یو صحابی ته نبی علیه السلام دعاښائی،

اللّٰهم انی ظلمت نفسی ظلمًا کثیرًا ،نودلته هم ظلم په معنی د کمی سره دے نودلته معنی ده چه زه دهغه چانه یم چه اسباب د نجات ورسره کم وی یوروایت کښی راځی،لاتفضّلونی علٰی یونس بن متّٰی،ددی حدیث مطلب دادے چه پاسه خمانه خوك نه دی تلی اوښکته باندی یونس بن متٰی نه بغیرخوك نه دی تلی،

نو که ما پاس فریادکولونو اللّٰه آوریدو،او که یونس علیه السلام ښکته فریاد

کولو ،نو الله آؤریدو ،او دواړه ئے قبلول،او دی قبولتیا کښې څه فرق نه وو نو دامطلب دے او دا مطلب نه دے چه نبی علیه السلام یونس بن متی باندی بهتر نه وو،

(كَانُوْايُسٰرِعُوْنَ) ایت ۹۰ خلاصه د سورة سورة کهف کښې وائیلی وو،

له غیب السموٰت والأرض،

سورة مریم کښې وائیلی وو ،فاعبده واصطبرلعبادته،

سورة طه کښې عجز المصطفین ذکر کول،

نودی سورة کښې وائی ابتلوابالمصائب اودی آیت کښې خلاصه دد سورت ده

(فَمَنْ يَّعْمَلْ) ایت ٩٤ ربط ...... هرکله چه انبیاؤ کرامو بیان ئی او کړو چه الله دهغوئی امداد کړے وو نوته هم عمل صالح یعنی بیان د توحید او کړه الله به ستاهم امداد او کړی،

(حَتّٰی اِذَافُتِحَتْ) ٩٦ د ١،اذا شرطیه،ده او جواب شرط یا یاجوج ده او دابیادا أجج یاجج نه په معنی د فسد ، یفسد واخلے ۲ یا جواب شرط،فاذاهی شاخصة ، دے ۳ یاجواب شرط ،قد کنافی غفلة،دے،

(اِلَّا رَحْمَةً لِّلْعٰلَمِيْنَ) ایت ١٠٧ مهات معبُدنومے سرے چه دعیسٰی علیه السلام نه (٣٠٠) کاله مخکښې تیرشوے دے اودے ټیکسلا کښې اوسیدو ،هندوستان دهغه تاریخ هم شائع کړے دے هغه چه،مړ کیدو نو خپلو پیرو کاروته ئے اووے ،چه ستانه بعدمونږ چاپسے لاړ شو،مهات معبد ورته اووے چه ماتیرین پسے لاړشئ(ماتیرین سنسکرت زبان کښې ،رحمة للعالمین، ته وائی مریدانو ،ورتهٔ اووے چه نښه به ئے څهٔ وی،هغه ورته اُووے د پلارنوم به ئے

د الله بنده وی او دَ مور نوم به نے آمن والی (آمنه) وی، اشاره نبیؐ ته،

(اٰذَنْتُكُمْ عَلٰى سَوَآءٍ) ایت ۱۰۹، علی سواء، کښې څو تراکیب دی،

(۱) ...... یا دا صفت دے د پاره دمصدر محذوفه نو عبارت داشان ده،

اذنتکم ایذانا علی سواء، زه اعلان کوم تاسو ته داسے اعلان چه برابر دے

(۲) ...... یا داحال د پاره د فاعل په اذنتکم، کښې دے معنی دا، اعلان کوم

تاسو ته په داسے حال کښې چه زه برابر یم،

(۳) ...... یاحال دے دپاره دمفعول په اذنتکم، کښې نو معنی دا، اعلان کوم زه

تاسو ته په داسے حال کښې چه تاسو برابر یئی،

(يَعْلَمُ الْجَهْرَ) ایت ۱۱۱، اول سر د سورة کښې وائیلی وو، انه یعلم الجهر، ایت ٤

نو هغی ته اشاره کوی ربط دپاره په اوّل او آخر د سورت کښې،

دارنګه سورة کهف ته څکه هلته نفی دعلم غیب عن غیره تعالی وو، نو دلته

وائی انه یعلم الجهر،

بسم اللہ الرحمٰن الرحیم

سورة الحج

سورة حج مدنی سورة دے په نزول کښې ۱۰۳ پس دسورة نورنه نازل شوے دے

روابط السورة الحج

ربط ۱...... مخکښې نفی دشرك اعتقادی ئی وکړه نودی کښې نفی دشرك فعلی کوی

ربط ۲...... مخکښې نفی دشرك وکړه نودی کښې هغه خلق ذکر کوی چه هغوئی د شرك په تائید کښې جهګړے کوی ایت ۵ کښې،

ربط ۳...... مخکښې ذکر د انکارعن القیامة، وو نودی کښې ذکر د انکارعن القرآن، دے،

ربط ٤...... مخکښې سر کشي د انسان ذکروه نودلته حقیقت د انسان ذکر کوی

ربط ٥...... مخکښې د قرآن بیان وو، هذاذکرمبٰرك انزلنه، نودی سورة کښې د هغه چا حالت چه د کتاب نه مخ آړوی،

ربط ٦...... مخکښې نفی دشرك ئی او کړه نودی کښې یومثال پیش کوی چه که چرته مچ ورنه یوشئ اوتختوی نونشی ئی بچ کولے،

ربط ٧...... مخکښې آخر کښې اووے، رب احکم باالحق، نودی سورة کښې هغه فیصله ذکر کوی،

ربط ٨...... مخکښې وائیلی وو، اقترب للنّاس حسابهم، نودی سورة کښې، نښه دهغه عذاب ذکر کوی، انّ زلزلة الساعة ......



امتیـــازات الســورة الـحـج

ـ ۱ ......دا سورة ممتاز دے په او امرو باندی حاجیانو ته، ثم لیقضو اتفثهم،

ـ ۲ ......دا سورة ممتاز دے په بیان د مثال باندی ۷۳ کښی

ـ ۳ ......دا سورة ممتاز دے په بیان دحالت دهغه چاچه قرآن پری بد لګی،

دعوی السورة الحج

دی سورة کښی نفی دشرك فعلی کوی او څلور مسئلے ذکر کوی،

(۱)......تحریمات الله، (۲)......تحریمات العباد،

(۳)......نذور الله، (٤)......نذور العباد،

تقسیم السورة الحج

دا سورة څلور بابونه دے،

اول باب کښی لس آیتونه دی اول د سورة کښی اثباة القیامة،بیا دلائل عقلیه باثباة التوحید ذکر کوی ،

دویم باب ایت ۱۹ نه په دی کښی زجر للمشرکین مرار او مطالبة الدلیل عن المشرکین،

دریم باب د ایت ۳٦ نه په دی کښی رد دشرك فعلی،

څلورم باب وفیه حکم القتال لأ شاعة التوحید و تردید الشرك وقمعه ثم ذکر الامور المصلحة عندالابتلاء وبیان الاقوام المهلکة المکذبة،

حل مشکلات السورة الحج

یَآ یُّهَاالنَّاسُ)ایت ۱ دلته نه اول باب په دی کښی اثباة د قیامت او ورسره ورسره

ایت ۵، ٦ کښی دلائل عقلیه باثبات التوحید ذکر کوی،

(تَذۡهَلُ) ایت ۲ دلته دوه خبرے ذکر کوی یو داچه هره یی ورکونکی ښځه به رضاعت نه غافله وی دویمه داچه حامله ښځه به حمل وغورځوی چه کله دویمه نفخه (یو کښی وشی) حالانکه کله چه نفخۀ اولیٰ اوشی نوټول خلق به مړهٔ شی نو بیا به حامله اومرضعه ښځه چرته وی،

جواب...... دی کښی تمثیل دے په زیات هیبت سره، چه که مرضعه وی یاحامله نو هغوئی به د هیبته حمل غورځولے وو،

(مَنۡ یُتَوَفّٰی) ایت ۵، ای فی الشباب، ځوانی کښی لاړشی،

یو سالك وائی،

كَمۡ مِنۡ صَحِيحٍ مَاتَ مِنۡ غَيۡرِ عِلَّةٍ وَكَمۡ مِنۡ عَلِيلٍ عَاشَ حِيۡنٌ مِّنَ الدَّهۡرِ

وَكَمۡ مِنۡ عَرُوۡسٍ زَيَّنُوۡهَا لِزَوۡجِهَا وَقَدۡ قُبِضَتۡ أَرۡوَاحُهُمۡ لَيۡلَةَ الۡمَقَادِرِ

(وَتَرَى الۡاَرۡضَ) ایت ۵ دادویم مثال دبعثت دانسان د پاره یوم القیامة کښی اول مثال په اناخلقنکم ۵ سره ذکرو، دادوه مثالونه ذکر کوی چه واه انسانه ستا کښی ئے انقلاب راوستو، اوزمکه ئی تازه کړه نوورپسے تفریع په ۷ کښی ،وان الساعة، سره،

(اِهۡتَزَّتۡ) ایت ۵ خوشحاله شوه، حدیث کښی راځی،

اهتزعرش الرحمٰن لسعد بن معاذؓ، نو جهر کیدل نه دی مراد بلکه خوشحاله شو

(وَاَنَّ اللّٰهَ لَيۡسَ بِظَلَّامٍ لِّلۡعَبِيۡدِ) ایت ۱۰ گوره نفی کله صِرف نفی ذ قیدته متوجه شی خو کله قیداومقیددواړ و ته متوجه شی لکه دلته،

(وَمِنَ النَّاسِ) ایت ۱۱ دلته نه دویم باب په دی کښی زجرللمشرکین مراراومطالبة

الدلیل من المشرکین،

(یَدْعُوْا)ایت ۱۳دی خائی کښې دوه اشکالونه دی،

یو اشکال باعتبار د معنے سره،   دویم اشکال په اعتبار د لفظ سره،

۱...... اشکال په اعتبار د معنے دادے چه مخکښې اووے په باره دغیر الله کښې مالایضره ولاینفعه چه بغیر د الله دولی څوك رامدد کوی هغوئی نه ضرر ور کوی نه نفع اودلته وائی ،لمن ضره اقرب من نفعه، چه ضرر ور کولے شي اونفعے نه زیات ور کوی دلته دینه دا معلومیږی،

جواب...... دا دے چه مخکښې چه وائي چه ضرر،نفع، نشي ور کولے نومراد دادے چه بابا پخپله نشي ور کولے او کوم خائی کښې وائي چه ضررئی د نفعے نه نژدے دے نودینه مراد دهغه دعاء اورابللوضرردے نه د بابا پخپله ضرر یعنی دعاء دغیر الله ضررمراددے،نه دا چه بابا بنفسه ضرر ور کوی،

۲...... اشکال په اعتبار دلفظ اوترکیب دادے چه دلته من په خائی دمفعول کښې واقع دے اوقاعده داده چه مفعول باندی لام نه داخلیږی،اودلته،لمن، کښې لام داخل دے،

۱...... اول جواب دادے چه لام په اصل کښې په ضره داخل دے،اودلته لام چه مقدم دے اودخول ئی من باندی راغلے دے ، دا د دی وجے په حرف تقاضا کوی صدارت دکلام اودا جمله تاکیدماقبل یدعوا د پاره دے،نواصل عبارت دادی ،یدعوامَنْ لضَرُّهُ أقرب،

۲...... دویم جواب دادے چه ،یدعوا،خان ته کلام دے اووروسته ،لمن ضره،خان ته مبتداء ده اوخبر ئی محذوف دے نواصل عبارت داسی دے،

لمن ضره اقرب من نفعه کناندعوه، یا یدعو،

ف ۳ ...... دریم جواب دادے چه ،یدعوا، بمعنی ،یقولوا،سره اودی د پاره مفعول محذوف قولا دے نوعبارت داسے ده یقولون قولا (فی القیامة)لمن ضره اقرب من نفعه کناندعوه (نوورروسته جمله مقوله دقول ده.

(مَنْ كَانَ يَظُنُّ اَنْ لَّنْ يَّنْصُرَهُ اللّٰهُ)ایت ۱۵ دا آیت مشکل ده پاعتبار د فهم.

ف ۱ ...... یا دا متعلق دے ایت ۱۳ نمبر پورے چه دوئی مشرکینوشرك کولوچه ورته وائی داشرك ولے کوے نودابه وائی چه الله م امداد نه کوی نوځکه بابا رامدد کوم نو الله وائی داپه دِغصه دے نوفلیمدُد الخ.

ف ۲ ...... دویم داچه منکرین درسالت وائی چه الله ولے د نبی علیه السلام امداد کوی نو الله وائی زهٔ ئے امداد کوم او که تے وائی ولے ،نوپه دی دَ غصه نه ورخی بلکه فلیمددبسبب نو که اول توجیه شی نو بیا، یظن، کښې ضمیر مشرك ته ،اولن ینصره کښې ضمیر مشرك ته راجع دے او که دویمه توجیه شی نویظن کښې ضمیر منکردرسالت ته اولن ینصره کښې ،ه، ضمیر نبی علیه السلام ته راجع دے،

(وَاِذْ بَوَّاْنَا)ایت ۲۶ ددی خائی نه څلورمسئلے ذکر کوی،

ف ۱ ...... تحریمات الله، ف ۲ ...... تحریمات العباد،

ف ۳ ...... نذورالله، ف ٤ ...... نذورالعباد،

(ضَامِرٍ)ایت ۲۷ ضامرهغه اوښ ته وائی چه خوراك ډیرورکوی اوخوراك سره سره منبه پهٔ وهی،

(ثُمَّ لْيَقْضُوْا تَفَثَهُمْ)ایت ۲۹ دی خائی نه پنځه اوامر ذکر کوی،

(۱)......ثم لیقضوا تفثهم (۲)......ولیوفوا نذورهم

(۳)......ولیطوفوا بالبیت العتیق (٤)......فاجتنبوا الرجس

(۵)......واجتنبوا قول الزُّور،

(وَالْبُدْنَ) ایت ۳۶ دلته نه دریم باب په دی کښی ردّ دشرك فعلی کوی،

(اذا ذکر اللّٰه) ایت ۳۵ ذکر بالجهر ناجائز دے لکه مدخل صفحه ۱/۶۵، ۱/۸٤،

۱/۱۱۱، شامی صفحه ۱/۷۷۸ مرقاة ۱/۳۵۷ ماته مسائل صفحه ۹۵

فتاوی رشیدیه صفحه ۱۲٤، فتح الملهم صفحه ۱/۱۷۱، ۲/٤۲۹

مستدرك للحاکیم صفحه ۱/۳۶۸، المقاصدالحسنة ۹۸،

(یُدَافِعُ عَنِ الَّذِیْنَ) ایت ۳۸ ربط...... ته چه مسئله د نذر بیانوے نو منجوران درسره جنگ کوی، نو دفاع بهٔ درنه اللّٰه کوی،

(اُذِنَ لِلَّذِیْنَ) ایت ۳۹ ربط ......مسئله د نذر بیانوله اوّل ، دِاللّٰه ته وسپارل خوونشوه نو اول حکم د قتال ذکر کوی چه بیا جنگ ورسره کوه،

(رَبُّنَااللّٰه) ایت ٤۰ ....(اکبر اله آبادی) شاعروائی،

رقیبوں نے رپورٹ لکھوائی ہے جاجا کے تھانے میں کہ اکبر یاد کرتا ہے خدا کو اس زمانے میں

(لَهُدِمَتْ) ایت ٤۰ اللّٰه بهٔ حق پرست هر دور کښی پیدا کول،

شیخ القرآن نوراللّٰه مرقده البصائر...... کښی لیکی،

من الدین کشف العیب عن کلّ کاذب وعن کلّ بدعیّ اتی بالمصائب

ولولا رجالٌ مُسلمون لهدمت صوامع دین اللّٰه من کلّ جانب

(صَوَامِعُ) ایت ٤۰ گرجے دنصارا اؤ دابهٔ هم ورانے شوی وے که دهغونی کښی مؤحّدین نه وے،

(وَلَيَنصُرَنَّ اللهُ) ایت ۴۰ شیخ القرآن نور الله مرقده ۱۹۸۰ء کښې ۲۷ جولائی وه
او ۱۵ رمضان وو، یولس بجے وے، د دی خائی تفصیل لے کولو نوهغه وخت
کښې یوملا ته وزارت ملاوشوے وو، بیاهغه داتا گنج بخش باندی نے حلوه
تقسیم کړی وه، اخبارونو کښې هم دا خبره راغلی وه نوشیخ په هغه باندی
ردشروع کړوبیائی وے چه یکه م خوب لیدوچه، تول لیدوان راته ناست دی
اوزه هر یو باندی رد کوم نویو کس ماته وائی چه تاهیڅوك نه پریخودو، نوبل
یو خائسته انسان ووهغه ورته وے چه چپ شه اوماته وائی شابه، په دوئی
رد کوه بل څوك خونه کوی ته خو کوه کنه،

(قُلْ يٰۤاَيُّهَاالنَّاسُ) ایت ۴۹ ربط......مخکښې انکارد اقوامو ذکرشونو اوس،
اثباة الرسالة ذکر کوی،

(وَمَآ اَرْسَلْنَا) ایت ۵۲ ربط...... کله چه ته اثباة الرسالة کوے نوشیطان به هم خپل
کار کوی(وساوس به آچوی)

(اِذَاتَمَنّٰى) ایت ۵۲ تمنّٰى په معنی دلوستلوراخی لکه عثمانؓ باره کښې راخی،

تمنّٰى کتاب الله اوّل لیلةٍ وآخرهالاقی حمام المقادر

هر پیغمبر به چه بیان کول نوشیطان به وسوسه آچوله نوخلق به درے قسمه
شول،

م ۱ ......یوقسم به خالص مؤمنان شواوهغه وسوسه دشیطان به الله لرے کړه نوهغه
بیان، په ،فینسخ الله الخ سره کوی،

م ۲ ......دویم قسم به خالص کافران شول نوهغوئی بیان، په، والقاسیة قلوبهم الخ
سره کوی،

۳..... دریم قسم به مذبذبین شول نو الله د هغه بیان ،په، لیجعل الخ سره کوی بعض خلق دلته روایت ذکرکوی چه نبی علیه السلام سوره نجم وائیلو نو دا آیتونه (افرء یتم اللّٰت والعزّٰی ومنٰوة الثّالثة الاُخرٰی) ئے وائیل نوشیطان د نبی علیه السلام په ژبه جاری کړل(تلك العرانیق العلٰی)او دوغاړو واله دی (وانّ شفاعتهُنّ لتُرتجٰی) امید کولے شی خو دا روایت صحیح نه دے دځو وجوه نه،

۱..... اوله وجه داچه سورة نجم نزول کښی ۲۳ اوسورة حج ۱۰۳ دے نو الله ولے ۱۸ کاله وروسته جواب وکړو،

۲..... دویمه وجه داده چه سورة نجم مکه کښی راغلے وو او سورة حج مدینه کښی نازل شوے دے او رد ئے مدینه کښی کولو،

۳..... دریمه وجه داده چه سوره حاقه ٤٤ کښی وائی،

ولوتقوّل علینابعض الاقاویل لأ خذنامنه باالیمین ثمّ لقطعنامنه الوتین،

٤..... څلورمه وجه داده چه سورة اسراء ۷۳ کښی وائی،**ولولآان ثبّتنك لقدكدتّ**، نو الله وائی مامضبوط کړے ئے نو څنګه بیاددی پهٔ ژبه شیطان جاری کړه،

۵..... پنځمه وجه داده چه که دارنګه وی نو بیاخو وحی محفوظه نه شوه،

٦..... شپږمه وجه داده چه دی روایت باندی امام رازیؒ وائی وماقال المفسرون فهومردود،دارنګه تفسیر خازن زادالمسیر او علامه قرطبیؒ،امام کاظمؒ او احکام القرآن کښی ابن عربیؒ پری رد کوی او ګوره ده لکه نبی علیه السلام خلاف ولے جوړیدے لکه دلته وائی،دارنګه دهرمؤحدخلاف به ولے جوړیږی،

(وَاِذَاتُتْلٰی عَلَیْهِمْ)ایت ۷۳ ربط ـــــ ته چه کله رد دشرك کوے نو دا په قرآن باندی کېږی خو کوره دلته حالت ذکر کوی چه تا په منبر ناست نے قرآن درسره دے قرآن بیانوے نو ستامقابل به څه کوی، کله چه قرآن بیانوے نو داسے نه 5
وی چه ستر کے دی پتے کړی وی بلکه حلقوته به گورے چه څوك دی اونه وهی نو که پوهیدے چه چانیت راته خراب دے نوته به وائے چه ایماندارو الله قرآن کښی فرمائی که چه کله کافرته قرآن بیانیږی نوتندئی به نی تیروه کړے وی نوهغه مخالف به زرخپل تندئی په لاس سموی چه څوك م اونه گوری بیابه ته گورے چه څوك لاس درته اوږنه کړی،نودی به اراده کړی وی تاته به وائی نیم پوره دے ،بس کړه اوقرآن به درنه آخلی نوته به زروائی چه ایماندارو ،الله قرآن کښی فرمائی،

يكادون سيطون باالّذين يتلون عليهم آياتنا

نودے به زر لاسونه په سینه بند کړی تاته به وائی،وایه جی ،وایه جی، وایه کنه مونږناست یوجی، کله چی دی اوتړلو،نواوس نی په سینه سینه کښی واهی نوورپسے ،قل افأنئبكم بشرمن ذالكم النار، گوره مفرد ذکر کوی متعلقات گټراوځی،لك النار ، فيك النار،عليك النار،منك النار نوپه سینه سینه کښی اوواهه دا قرآن درته چل ښائی،

(يَآ يُّهَاالنَّاسُ)ایت ۷۳ ربط کله چه دی ورسره مخکښی کاراو کړونواوس شروع شه،

(لَنْ يَّخْلُقُوْاذُبَابًا)ایت ۷۳ دا مچ نی ولے ذکر کړوجواب...... داخکه چه دے ناقص الخلقة دے ،د دی پردے اوبانړه نیشته(دبانړواوپردوسره د ستر گوصفائی

کیږی او ګرده بره بشکته کوی او دا ګرده بیاسترګو کښی اوبه شی او او سکو په شکل کښی راوځی،علامه ابن قیمؒ ذکر کوی چه په سترګو کښی ۱۵۰ پردے دی،اوهره پرده خپل کار کوی)

او ګوره د مچ دا بانړهٔ اوپردے ولے نیشته داځکه چه دمرئی نرئی ده،نووزن برابرولو د پاره ئی داورنه کړو او دی ځائی باندی اللّٰه ورته دوه خپے ورکړے دهغوئی سره سترګو صفائی کوی (لکه مچ ته چه وګورے)او ګوره څنګه لکه دامچ دے دارنګه منجورهم دے،التامه نامی کتاب کښی ملاعبدالمؤمن لیکی (دا یوتوقی ملاوو،نزهة الخواطر کښی دهغه حالت ذکر کوی)هغه په هر یولفظ باندی الف لام داخلوی اویوه معنی دهغه کوی نوهغه وائی، البیګم فساد درپرده،الکتوال(تهانیدار)نمونه ملك الموت القاضی میخ درګل (ختهہ کښی)النواب مجموع د تغافل ،الوکیل متجهددروغ ،الزیارت بهانه ګاه فسق،المنجورمګس بے حیا،

لکه مچ ناقص الخلقة دے درنګه دبهٔ هم وی، دامنجوران چابهٔ خپه ماته وی چابهٔ پوزه نه وی،نوچه بابا جوړول کولے نوهغه به ئی جوړ کړے وے،

دارنګه مچ صبائی وختی پاسی او ګنړ، ګنړ کوی،دغسی دے هم سجروختی پاسی درګاه کښی ناست وی او ګنړ، ګنړ کوی، مچ چه چاکره او سپری دهغه نه غله کوی،دارنګه دامنجورهم وی،او څنګه مچ سخه ځائی ته ځان رسوی دغسی مجنورهم چرته سخه ځائی وی هلته به ناست وی،

(لَقَوِیٌّ عَزِیْزٌ)ایت ۷۴ مخکښی اووے،ضعف الطالب والمطلوب،طالب هم کمزورے دے اومطلوب هم ،نودادوه صفتونه قوی او عزیز دهغه مقابله کښی

ذکر کوی قوی صفت دطالب مقابل کښي **ذکر کوی** یعنی قوی علی الطالب او عزیز دمطلوب مقابلك کښي **ذکر کوی**،

؟؟؟؟؟؟

بسم الله الرحمٰن الرحیم

سورة المؤمنون

مکی سورة دے په نزول کښې ۷٤ پس د سورة انبياء نه نازل شوے دے

روابط السورةالمؤمنون

۱......مخکښې هغه صفات ئې ذکرکړل چه هغه نه تخليه پکاروه يعنې خان پاکول نودی کښې هغه صفات ذکر کوی چه هغه سره تحليه خان خائسته کول راځي،

۲......مخکښې رد د شرك وشومکمل نودی کښې اثباة التوحيدباالأ دلة ذکر کوی

۳......مخکښې ردد شرك فعلي وو،نودی کښې ردد شرك اعتقادی کوی،

٤......مخکښې زيات بيان دعقائدو وونودی کښې زيات بيان د اعمالو کوی،

٥......مخکښې اوړے ،ان زلزلة الساعة شیءٌ عظيم ،نودلته هغه اعمال ذکر کوی چه قيامت کښې فائده ورکوی،

٦......مخکښې اوصاف دمشرکينوئے ذکر ل ۷۲ کښې نودی کښې اوصاف دمؤمنينو ذکر کوی،

۷......مخکښې وائيلي وو ٤٨ کښې،وکأين من قرية امليت لهاالخ،نودی ٥٥ کښې وائي .أيحسبون انّمانمدهم ...... چه څرنګه م هغه ته مهٰلت ورکړے وو ،دارنګه دوئی ته هم مهلت دے،

۸......مخکښې ايت ۷۲ کښې ئے وائيلي وو،

تعرف فی وجوه الّذين کفروا المنکر، مخ ئے تريوۀ کړه قرآن پری بد لګيدو

نودی سوره ایت ۱۰٤ کښې وائي،تلفح وجوههم النار. چه جهنم کښې به وریت شي اوپرسیرې به،

۹......محکمې مسئله د توحیدوه نودی کښې ادله په اثباة التوحید،

۱۰......محکمې نفی د دلائلو وشوه مشرکینو نه چه دلائل ورسره نیشته نودلته ادله دمؤحدینو ذکر کوی،

امتیازات السورة المؤ منون

۱......دا سورة ممتازدے په بیان دحالت د جهنیمانو،اخسئوافیها،

۲......دا سورة ممتازدے په بیان دهغه ځائ چه عیسی علیه السلام او مورد عیسی علیه السلام ته ئے ورکړے وو،وأوینٰه الیٰ ربوةٍ ذات قرارٍوّمعینٍ،

۳......دا سورة ممتازدے په بیان دهغه وني چه طورسیناء کښې راووتي ده،

٤......دا سورة ممتازدے په بیان د فائدے دزیتون تیل، وصبغ للاّ کلین،

دعوی السورةالمؤمنون

اثباة التوحید بالأ دلة الثلثة(عقلی،نقلی،وحی)اورددشرك فعلی اواعتقادی،

خلاصة السورة المؤمنون

اول اوصاف دمؤمنانوذکرکوی بیا ۱۲ کښې دلائل عقلی باثباة التوحید بیانوی بیاایت ۲۳ نه دلیل نقلی باثباة التوحید،اوبیا ایت ۷۸ [illegible] عقلیه بالزام المشرکین ذکرکوی،

حل مشکلات السورة المؤمنون

(عَنِ اللَّغوِ)ایت۳دی معنی ابن جوزی ذکرکوی ای عن الشرك ا[illegible] جوزی [illegible]

سړے ووچه کله وفات کیدو، نو وصیت ئے و کړو چه زماد قلمو نو بوره جمع کړی ده زه چه کله مړ شم نو ما ته دغسل اوبه هغه سره ګرمے کړئ، نو پس د مرګ ئے ورته اوبه هم ګرمے کړے او هغه بوره بچت هم شوه،

(اَلَّذِيْنَ يَرِثُوْنَ) ایت ۱۱ میراث لفظ ولے راوړی، جواب ...... دا خکه چه میراث باندی شفعه نه کیږی نو تا ته هم خوف نیشته، تاباندی هم څوك شفعه نشی کولے،

(وَلَقَدْخَلَقْنَا) ایت ۱۲ دلته نه ادله عقلیه باثباة التوحید بیانوی،

(اَرْسَلْنَانُوْحًا) ایت ۲۳ ربط ...... هر کله مخکښی ادله عقلیه باثباة التوحید وو، نو اوس ادله نقلیه باثباة التوحید بیانوی،

(يٰٓاَيُّهَاالرُّسُلُ) ایت ۵۱ ربط ...... کله چه عقیده دی صفاشوه نو خوراك هم صفا کوه (یامخکښی رددشرك اعتقادی وشو نو اوس رد دشرك فعلی کوی،

(وَلَانُكَلِّفُ نَفْسًا) ایت ۶۲ ربط...... مخکښی ۶۱ کښی ئے اووے چه نیکئی ته منډے وهی نو دا به څوك کوی، دا ګران کاردے نو دلته جواب ولانكلف ...... الخ

(تَهْجُرُوْنَ) ایت ۶۷ دا دهجرنه په معنی د پریخودلو، او دهجرنه په معنی د بدرد وائیلو راځی،

(وَهُوَالَّذِيْٓ اَنْشَاَ) ایت ۷۸ دی ځائی نه ادله عقلیه الزامیه علی المشرکین ذکر کوی

(قَلِيْلًا مَّا تَشْكُرُوْنَ) ایت ۷۸ ګوره،، قلیلاً،، ئے راوړو، او بیا تنوین د پاره د تقلیل ئے راوړو، او قلیلاً ما کښی ماسره نورهم کلام کښی تاکید راوستو نو مطلب دا دیر کم شکر ایستونکی دی،

(رَبِّ فَلَا تَجْعَلْنِيْ) ایت ۹۴ حدیث کښی راځی نبی علیه السلام وائی،

اذا اردت بقوم سوء فاقبضني اليك غير مفتون(نه کمزورے شوے) نو دلته هم فتنة معنی کمزورے ده،

(تَلْفَحُ)ایت ۱۰٤ دنیا کښې څه حالت وونو حج ایت ۷۲ او مدثر ایت ۱٦ کښې بیان شوے وونو دنیا کښې خوني هغه حال وونو آخرت کښې ئې حال او ګوره،

(اِخْسَئُوْا فِيْهَا)ایت ۱۰۸ (کوری شي) خلق سپي ته کوری وائي دا خکه ورته کوری وائي چه دنیا کښې ئې د سپو کار کړے وو ،مؤحدینو پسے غپیدل هغه یو سالك وائي

عرفی تو میندیش زغوغائی رقیبان آوازی سگان کم نکند رزق گدارا

(لَا يُفْلِحُ)ایت ۱۱۷ ،اول د سوره کښې وائیلي وو ،قدافلح المؤمنون،نو دلته وائي لایفلح الکفرون،

(وَقُلْ رَّبِّ اغْفِرْ)ایت ۱۱۸ ،آخر کښې داوائي داسے نه وی چه ته وائي مادیر کار وکړونو آخر کښې استغفار وکړه،



بسم اللهِ الرحمٰن الرحيم

سورة النور

سورة نورمدنى سورة دے په نزول كښى ۱۰۲ پس دسورة حشرنه نازل شوے دے

روابط السورة النور

۱ ...... مخكښى هغه صفات ذكر كړه چه سړے په خائسته كيږى نو دلته هغه اوصاف ذكر كوى چه سړے په سخه كيږى نو ځان نه ئے لرے كړه دى وجے ورپسے راوړو،

۲ ...... مخكښى صفائى دانبياء بيان شوه نودى كښى صفائى دعائشهؓ بيانوى،

۳ ...... مخكښى يوقسم صفات د تزئين ئى ذكر كړه نودى كښى نور صفات بيانوى د تزئين د پاره،

٤ ...... مخكښى دنوح عليه السلام د بى بى تباهى ذكروشو،نودى كښى دنبى عليه السلام د بى بى صفائى ذكر كوى،

۵ ...... مخكښى آخر كښى اووے ،لااله الاهورب العرش الكريم ،نودى كښى امثله د پاره د وضاحت د مسئلے،

٦ ...... مخكښى آخر كښى اووے ،انه لايفلح الكفرون ،نودى كښى هغه اخلاق بيانى چه هغه كافروسره وو ،نه مؤمنانوسره،

۷ ...... مخكښى سورة اوّل كښى وائيلى وو ،قدافلح المؤمنون،نودمؤمن ښه صفات هلته وو،نوښه صفات دلته دى،

۸ ...... مخكښى آخر كښى مسئله د توحيد،ومن يدع مع الله الٰهاآخر لابرهان له به

چه هیڅ دلیل و رسره نیشته نودی سورة کښې اثباة التوحیدباندی ادله ذکر کوی چه اثباة التوحید باندی ادله شته،

امتیازات السورة النور،

(۱)...... دا سورة ممتازدے په بیان دحکم دهغه چا کښې چه پاکدامن ئې بدنام کړل

(۲)...... دا سورة ممتازدے په حکم د زانی باندی،

(۳)...... دا سورة ممتازدے په حکم دهغه چاچه پاکدامن ئے بدنام کړل، ولاتقبلوالهم شهادةً ابدًا (محکمې چه کوم داشان ذکرده نوهلته ممتازدے په حکم فجلدوهم ثمانین جلدة سره)

(٤)...... دا سورة ممتازدے په ذکرد دفعاتو په هغه چاچه پاکدامن ئې بدنام کړل

(٥)...... دا سورة ممتازدے په حکم دنهٔ ئے لیدوسرو ښځوته،

(٦)...... دا سورة ممتازدے په نهٔ ئے لیدود ښځوسرو ته،

(۷)...... دا سورة ممتازدے په ذکرددرے اقسامودخناورو په ایت ٤٥ کښې،

(۸)...... دا سورة ممتازدے په بیان دآداب سبعه لدفع الفحشاء،

(۹)...... دا سورة ممتازدے په صفائی دعائشهؓ باندی،

(۱۰)...... دا سورة ممتازدے په امثله ؤ دتوحید،اللّٰه نورالسموت ......الخ باندی،

(۱۱)...... دا سورة ممتازدے په اصول سته لبراءة الصحابة باندی،

دعوی السورة النور

بیان دهغه امور چه په هغه دفع د فحشاء راځی یعنی دبے حیائی دراوزے بندوی د دی وجے نه حضرت عمرؓ کوفے والاته خط لیکلے وو،

کتب عمر الی اهل الکوفة ان علموا نساء کم سورة النور ،او دا رنګه هلکانو ته وښائی چه ځان د بے حیائی نه بچ کړی،

خلاصة السورة النور،

په دی سورة کښی اول مبادی سبعه ذکر کوی یعنی اووه لارے چه په هغه انسانان بے حیا کیږی نو هغه لارے بندوی،

او څلور قوانین ذکر کوی دپاره ددفع الفحشاء،

(۱)......اول قانون په ایت ۲ کښی چه زنا کار سړے او ښځه سل(۱۰۰) درے اوواهی ولاتاخذ کم بهما رافةٌ فی دین الله، ځکه چه ظالم سره دی نرمی و کړه، نو معاشره دی ګډه وډه کړه او دا دمعاشرے تباهی ده،

(۲)......دویم قانون په ۳ کښی چه زنا کاره او مشرك سړے یو ځائی کیږی خو ګوره دلته آیت کښی زنا کاره او مشرك سره یو ځائی کړو ،دادی وجے نه چه لکه څرنګه دمشرك الله نه وی معلوم دا رنګه دزنا کارے ښځه خاوند نه وی معلوم دا ځکه یو ځائی کیږی چه سړے په کوم مجلس کښی کیناست نو دهغوئی نه دے

یو شاعر وائی

کند هم جنس به هم جنس پرواز کبوتر با کبوتر باز با باز

او سه پورے کونتره چا باز سره نه ولیده، پښتنه هم وائی چه د بل کلی دله نه پیژنے نو خپل کلی دله نه ئی او پیژنه، علیؒ یو خل کوفے ته لاړ و نو تقریر ئے کولو په هغه کښی او وے،

یااهل الکوفة قدعلمناشرار کم من خیار کم قالو کیف ومالك الاثلثة ایام
قال معنا شرار،وخیارفانضم خیارناالی خیار کم وشرارناالی شرار کم،
(نظم الدر کښې البقاعی ذکر کوی) حدیث کښې هم راځي نبی علیه السلام
والي،الرجل على دين خليله فلينظر احد كم من يخالل،
(چاسره دوستي وکړی)

عائشهؓ نه هم یوښواشعارمنقول دی هغه وائی

عن المرء لاتسئل واسئل عن قرینه	فكل قرين بالمقارن تقتدی
فأن کان ذاخیرٍفقارنه سرعة	وان کان ذاشرفجانبه تهتدی

پښتنه هم وائی دمینې یار سنده وی،

۳)......دریَم قانون په ٤ کښې چه په پاکدامنو بدنامه مه لګوئی، پاکدامن مه بدناموه اوپه دی بیا دفعے وروسته ذکر کوی،

٤)......څلورم قانون په ٦ کښې چه که خاونداوښځه په مینځ کښې فساد راشي چه په یوبل بدګمانه شي نوګواهی به کوی،اوجدابه شي داچه وکړی نوقتل وغارت نه به محفوظ شي ځکه چه ښځه اوخاوندپه مینځ کښېفسادراشي نوقبائل وجنګړی،

یوجماعت کښې چه فسادراشي نوبیا هغه ورانیږی،

آداب سبع للدفع الفحشاء،

هر کله چه عائشهؓ باندی تهمت ولګیدو،نوالله سورة النور،راولیږلولکه حدیث افك کښې چه څنګه راځي، اووه آداب دا دی،

۱)......اوله قاعده اوادب په ایت ۲۷ کښې،

يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَدْخُلُوا بُيُوتًا غَيْرَ بُيُوتِكُمْ الخ
عبدالله بن مسعودؓ چه به خپل کورته
چه د بل کورته به بے اجازته به نه ځی،
هم راتلو نوغاړه به ئے تازه کړه چه خوك بے پرده نه وی،
او داحکم ئے صادر کړو ځکه چه شیطان وسوسے آچوی چه فلانی کړه
لاړشه لرے جینکۍ وګوره، سترګے به دی خړے شی کنه،
نو الله سدباب او کړو، شیطان حیران شو نواوس به وائی چه پرېږده مړه
بسترو ده پردے چرته دی پرده ئے راته شروع کړه نو،
اوس به خوانان لمسوی چه لاړه کښې ودرېږه جینکوته ګوره راګوره،
نواوس به ددیوث کله سکول سره ولاړوی کله کالج سره ټول عمر به ئے
داکاروی نودی د پاره،

(۲).....دویمه قاعده اوآدب په ایت ۳۰، قُلْ لِلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّوا مِنْ أَبْصَارِهِمْ،
چه مؤمنان دِ نظرتیټ کړی خوداماده صحابهؓ کښې وه هغوئی په عمل وو،
چه کله صحابه په رُوم جنګیدهٔ نورومیانواووے چه فتح خومومی دوئی خودا
چل به او کړو چه جینکۍ به ورته خانسته کړواوپه چهتُونو به ئے کینوو
نوصحابه به دهغوئی په تماشه شی ځکه چه ډیروخته ئے خپل کورته ندی لاړ
اومونږه به ئی قتل کړو، صحابه چه خبرشو امیرراجمع کړل اوورته تقریرئی
کړوورته اووے،
اسمعوواطیعواقال الله تعالی قل للمؤمنین یغضوامن ابصارهم،
صحاباؤ دا واوریده اوپه ملك ئی حمله او کړه، ملك فتح شو صحابه چه واپس
راتلل نو یوبل نه ئی تپوس کولو چه داخار خوچهته وو، دومره پته ورته نه وه

دصحاباو کرامو داحال وو،

دارنگه محمدبن قاسم رحمة الله علیه دراجاداهر ښځې ته نے وے چه ماپسے وروستوراخه،داسے نه وی چه زما نظردرباندی پریوځی

کله چه الله دینه هم منع وکړه نوشیطن بیاحیران شو چه دا لارهم بنده شوه شیطان خوډیرحرامی جرنیل دے نواوس یې جینئ اولمسوله چه لړخودی هلك ته وګوره خومره خائسته هلك دے خائسته باډی یے ده کلب فیشن نی دے ،نوالله ددی هم سدباب اوکړواودی د پاره یے حکم راولیږلو او هغه دادے،

(۳)......دریمه قاعده اوادب په ایت ۳۱ کښې قُلْ لِّلْمُؤْمِنٰتِ يَغْضُضْنَ مِنْ اَبْصَارِهِنَّ دلته ګوره منع کوی،

بل طرف ته نبی علیه السلام عائشہؓ ته وائی راشه جبشوتیراندازی وګوره نودلته ولے ګوری،

جواب ......محدثین ګنړ جوابونه کوی ،یوجواب داهم کوی چه دا کتل جهاد مقابلے لیدودپاره وو ،نه هغه کسانولیدوپه طورنودی آیت کښې وائی چه نظرونه ټیټ ساتئ،اوس شیطان حیران شوچه اوس څه وکړم،دالارهم بنده شوه نواوس وائی راشه جینئ ته وسوسه وآچوه نوورته وائی یاجینئ چه دومره خائسته کپړے دآچولی دی دا خائسته غاړه دی ده داڅادرلړوران کړه ویجاړ کړه چه خلق خودی لړفیشن اوګوری کنه په ځپو کښې پانړایے آچولی دی لړغونده شړنګ ورکړه نوددی سدباب کوی،

(٤)......څلورمه قاعده او آدب په ایت ۳۱ کښې چه خانونه پټ کړئ اوداهم نه چه

خان دی پټ، کړے وی خو په برقعه دورته ګل کاری کړی وی،
یا په پانزیب زور کوے دشعیب علیه السلام لورچه قرآن صفت ذکر کوی نو
وائی ،فجاءته احدهماتمشی علی استحیاءٍ، هان یو خبره ده،الالبعولتهن الخ
خاوندته خان خاسته کړه نو داچه ګرځے په کور کښی به دغوجلے مؤړی
وی سخه بوئی به ترے خی زړه براستن اوچه باهرځی نو دا قسمه قسم
خوشبو یانے، عطرونه لګولی به وی کله چه دالارهم بنده شوه نوشیطان
بیاحیران شو ،نوچه دا لارهم بنده شوه نواوس یے وادہ هلکانوته وسوسه
آچوی چه یا سرپه،وروڼرو خودِ هسے وادونه کړی دی دستاغم چرته دے
غم دی نه کوی دارنګه جینئ ته وائی چه په ستاخوعمره خدمتونه کوی،
ترکومه به ناسته وے داغم خو ورسره نیشته چه کوردرته آباد کړی نواوس
بهٔ ئے بدکاری ته لمسوی دارنګه به وائی چه لړه اوخه چکراووهه نوالله د
دی په،

(۵)......پنځمه قاعده او آدب سره سدباب اوکړو په ۳۲ کښی،

وَأَنكِحُوا الْأَيَامَىٰ مِنكُمْ (ایامٰی جمع دایم ده امام رازیؒ وائی،
الأیم کل ذکرلاانثٰی معه وکل انثٰی لاذکرمعه)یے واده والاؤ ته وادونه وکړئ
دانه چه کوژدن ورته وکړے اودکښې آوازپه وکړے اوبیاواده ورته نه کوے
خمونړه یوملګری ووهغه وائیل چه دګرمی موسم ووزمامور ،پلارخبرے
کولے مورمی ورته وائی چه دی هلک ته واده کول پکاردی پلار می ورته
وائی چه خپله داوګټی نوواده به ورته وکړم ،بیامورمی ورته اووے چه دا
کورکښی ګټئی ده،دا به ذبح کړونوداخبرے ئی کولے ،اوبیائی نورے خبرے

شروع کړی ما ورته انتظار کولو چه بیا به دواده خبره وکړی آخرم ورته اووے چه یے بے هغه دکتبئی خبره بیا اوکړئ پلار راته راپاسیدو چه ستا داسے داسے کړم، ته تراوسه بیدار نے ماخان غلے کړو، نوقرآن هم اووے چه لوړانوته واډونه وکړئی دالارئے هم بنده کړه شیطان بیاراغلو، اوس غلام ته وسوسے آچوی چه ته خوټول عمر دهغه شان ئے نهٔ دوادهٔ شته نه درته کوی خودٔ مالك جینکوته ګوره نودی نی په

(٦)......شپږمه قاعده او آدب سره سدباب وکړوپه ۳۳ کبنی،

فَكَاتِبُوْهُمْ اِنْ عَلِمْتُمْ فِيْهِمْ خَيْرًا، کله چه دالارهم بنده شوه نواوس جینئی ته بله وسوسه آچوی چه لړچکراوواهه، بازارته لاړه شه زره آزاد کړه،نوددی هم قرآن کریم سدباب کوی په،

(٧)......اوومه قاعده او آدب سره ۳۳ کبنی وَلَاتُكْرِهُوْا فَتَيٰتِكُمْ عَلَى الْبِغَآءِ اِنْ اَرَدْنَ،

چه جینکئ دکنجرتوب خانی ته مه لیږئی،

دارنګه‌دی سورة کبنی یوخواصول ذکر کوی،

الاصول الستّة لبراء ة الصحابة چه الزام لګوی په صحاباؤ او پاکدامنو،

(١)......اول الزام بهٔ منافق لګوی دادمنافق کاردے په ١١ کبنی

اِنَّ الَّذِيْنَ جَآءُوْبِالْاِفْكِ عُصْبَةٌ،

(٢)......دویم داچه دٔمنافق صفائی مه کوه داذکر کوی په ،

لِكُلِّ امْرِئٍ مِّنْهُمْ مَّااكْتَسَبَ مِنَ الْاِثْمِ سره،

(٣)......دریم داچه صحابه په خان قیاس کوه لکه په خان تهمت نشے برداشت

کولے،

دارنګه په صحاباؤ خنګه برداشت کوے حدیث کښی هم راځی،

اذاظهرت البدعة وشتم اصحابی فعلی العالم ان یظهرعلمه فمن لم یفعل فعلیه لعنة الله والملئکة والناس اجمعین(اصول السنة ٣٤)

او داذکر کوی په ١٢ کښی ،لولااذسمعتموه۔ سره چه تاسو ولے نه وائیل چه ام المؤمنین پاکه ده،

(٤) څلورم داچه که څوك په صحاباؤ الزام لګوی تاسو وائی مانګون لنا په ١٦ کښی

(٥)...... پنځم داچه تاسو صحاباؤ باندی الزام لګوئی داڅه واړه خبره نۀ ده،ایت ١٥ وَتَحْسَبُوْنَهٗ هَیِّنًاوَّهُوَعِنْدَ اللّٰهِ عَظِیْمٌ،

(٦)......شپږم داچه هغه جماعت رکن نشے چه صحاباؤ باندی الزام لګوی د اذکر کوی په ١٧ کښی یَعِظُکُمُ اللّٰهُ اَنْ تَعُوْدُوْالِمِثْلِهٖٓ اَبَدًا،

حل مشکلات السورة النور

(سُوْرَةٌ اَنْزَلْنٰهَا)ایت ١ ،اشکال هرسورة چه نازل شوی دے احکام ئے فرض دی نودلته دا ولی ذکر کوی،

جواب ...... د دی وجه دا ده چه داهغه احکام دی چه نفس ئے خلاف کوی نودائے تاکید د پاره اووے،

(اَلزَّانِیَةُ)ایت ٢ دا اول قانون چه زناکاره ښځه او سړے سل درے اوواهئ ،او نرمی ورسره مه کوی،

(لَایَنْکِحُ)ایت ٣ زانیه اومشرك یوځائے ذکر کوی،

(تفصیل خلاصة السورة کښې تیرشوی ده اوهغه تفصیل دلته هم ذکر کولے شي)

(وَلَا تَاْخُذْکُمْ بِهِمَارَاْفَةٌ) ایت ۲ نرمي به نه کوے خکه چه دا کارد یو خل ندے کړے بلکه ډیر خله ئې کړے دے دی وجے نه نرمي اونه کړے .خکه چه د الله نوم غفاردے اوستاردے .الله په ډیرخله پرده راوستی ده اودے بیا هغه جرم کوی

(اَلزَّانِيْ لَايَنْكِحُ) ایت ۳ دلته دویم قانون چه زناکارسړے او ښځه به یوځائي کیږی

(وَالَّذِيْنَ يَرْمُوْنَ) ایت ٤ دلته دریم قانون چه په پاکدامنو بدنامه مه لګوي.

(وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْفَاسِقُوْنَ) ایت ٤ صحاباؤ بدی مه وایه،مونږ وایو.

نیست مدح ایشان بجز مدح رسول طعنه برایشان خصلت مرد جهول

که تے وائی چه تاریخ لیکلی دے نومونږه وایو،

نیست جز افسانه تاریخ وطن انچنین تاریخ درآتش فگن

مودودی وائی چه عائشه رضی الله عنها زبان درازه وه،

(معاذالله ،لعنة الله علی المفترین والمکذبین) ددی ځائی نه دفعے په هغه چاچه په پاکدامنو الزام لګوی،

(۱)......واولئك هم الفاسقون،ایت ٤

(۲)......له عذاب عظیم،ایت ۱۱

(۳)......افك مّبين،ایت ۱۲

(٤)......هم الکٰذبون،ایت ۱۳

(٥)......وهوعندالله عظیم،ایت ۱٥

(٦)......لعنوافی الدنیا،ایت ۲۳

(۷)......ولهم عذاب عظیم،ایت ۲۳

دنیا کښې سزاء سخته داده چه خپل زوئي (عبدالله بن ابی بن سلول)

ته ودروول او ورته وائیل ئې، حتی تقرانك ذليل ورسول الله عزيز،

(وَالَّذِينَ يَرْمُونَ) ایت ٦ دلته خلورم قانون چه که دخاوند او ښځه په مینځ کښې فساد

راشي نو ګواهي به کوي،

(يَرْمُونَ أَزْوَاجَهُمْ) ایت ٦ ګواهان به نیسي یو سړے نبی علیه السلام ته راغلو چه زه

به یو سړے خپلے ښځےسره او ګورم، بیا به زهٔ څلور ګواهان لټوم، نونبی علیه

السلام ورته وکتل، صحاباؤ ته ئې اووے داو ګوری څومره غیرتمند دے،

واناغیرمنك والله اغیرمنی، دارنګه حدیث مشکوٰة صفحه ٢٨٦ کښې وګوره،

(أَرْبَعُ شَهٰدٰتٍ) ایت ٦ دهریان اعتراض کوی چه ستاسو په دین کښې څلور ګواهان

دی ته به ښځے سره سړے او ګورے بیا به ګواهان لټوے

جواب..... مونږ ورته وایو چه دومره غیرتمندخووے کنه، بے وقوفه ددهریانو بادشاه

،،مَاني،، اووے چه فساد اوزنا دښځو ته جائیدادور کولو ته راځي، نودا ئې بند

کړو چه څهوخت تیریدو ملك تباهي ته روان وو، نویوبل ولګیدوهغه ئې قتل

کړو بیا په بل بادشاه مزدك راغلونوهغه اووے چه فساد دزمکه اومال وغیره

تقسیم ته راځي نو اشتراکیت به راولو، نواشتراکیت راغلونوچاچه کارکول

هغوئي کاروبار پریخودو چه مونږ څه ته کارو کړو، نوملك ویران شو،

اوس ټول اسلام ته مجبوره دی،

(وَيَدْرَأُ) ایت ٨ ښځه به هم ګواهي کوی ځکه بیا قتل وغارت جوړیږی، شیطان په

اوبوتخت کیښودو، نوانتهرویوئی آخیسته یو ګلهٔ شیطٰن ورته اووے چه ما

ښځه اوخاوند اوجنګول نوشیطان هغه ځان سره په تخت کینولو،

دی خائی پورے خلور قوانین ئے بیان کړل تمهید د پاره چه عائشهؓ باندی تهمت لګیدلے وو.

ګوره مریم علیه السلام باندی هم تهمت لګیدلے وو. نو صفائی ئے بچی وکړه موسی علیه السلام باندی تهمت اولګیدو. نو کاڼړی صفائی او کړه.

او چه کله عائشهؓ باندی تهمت لګیدلے وو. نو الله جل جلاله، سورة النور، راولیږلو (د برائی سورة)

(اِنَّ الَّذِيْنَ جَآءُوْ بِالْاِفْكِ) ایت ۱۱ د دی خائی نه عائشهؓ ام المؤمنین د تهمت بیان کوی خبره داسے وه چه د نبی علیه السلام دا قانون وو، چه هر جنګ ته به ئے خان سره بی بی بوتله، کله یوه بی بی او کله بله نبی علیه السلام چه کله غزوه بنی مصطلق ته تلو، نو خان سره ئے عائشهؓ روانه کړه. اشکال راځی چه د پیغمبر ﷺ معاذالله دومره شهوت وو، چه خان سره ئے بی بی بوتله

جواب ...... دا اصل کښی دامت آسانتیا د پاره نبی علیه السلام کول چه که جهاد وی هم او د پردے انتظام وی، نو بیا بوتلے شی نبی علیه السلام ډیره آسانتیا وښودله یو خل حبشو لوبے کولے نبی علیه السلام عائشهؓ ته اووے چه راشه د حبشو تماشه او کړه، عائشهؓ راغله او د نبی ﷺ په اوګه ئے زنی لګولی وه، او تماشه ئے کوله دا ګوره د محبت آواز وو.

عائشهؓ نبی ﷺ سره مینه وهله، دا څو مره عجیبه سیرت وو، عائشهؓ وائی، زه د نبی علیه السلام په نورو بیبیانو په لس درجو بهتره یم.

(لکه سو ملی درّمنثور کښی ذکر کړی دی)

(۱) ...... اوله وجه چه د نبی علیه السلام نورے بیبیانے کونډے وے اوزه صرف باکره

(پیغله) وم.

(۲) دویمه وجه داچه زمامور پلار دواړو هجرت کړے وو اود نورو بیبیانو یا پلار هجرت کړے وو او یا مور.

(۳) درېمه وجه دا چه ما باندی تهمت اولګیدو نو برأت آسمان نه راغلو.

(٤) څلورمه وجه داچه زما تصویر د ریښمو په کپړا کښی جبرائیل علیه السلام نبی علیه السلام ته راوړے وو، چه دا ستا بی بی ده.

(٥) پنځمه وجه داچه ما اونبی علیه السلام به یو لوښی نه لمبل سوا د نورو بیبیانو نه

(٦) شپږمه وجه داچه زه دنبیؐ مخے ته به پرته وم او هغه به مونځ کولو.

(۷) اوومه وجه دچه نبی علیه السلام سره کله بی بی وه نو وحی به نه راغلی سوا زما نه.

(۸) اتمه وجه داچه نبی علیه السلام زما په غیږه کښی ساه ور کښی ده.

(۹) نهمه وجه داچه نبی علیه السلام وفات کیدو هغه شپه زما نمبر وو.

(۱۰) لسمه وجه داچه نبی علیه السلام زما کور کښی ښخ شوے دے.

اصل واقعه دا وه چه نبی علیه السلام غزوه بنی مصطلق کښی عائشهؓ خان سره بوتلی وه، او دنبی علیه السلام داهم عادت وو، چه کوم ځائی نه به نے سفر کولو نو خان پسے وروستو به نے یو کس پریخودو، دی د پاره چه که چا نه څه پاتے شوی وی هغه را واخلی، او بل دنبی علیه السلام داعادت وو چه سحر وختی به یو ځائی نه تلو، ځکه چه دی کښی نبی علیه السلام امت ته خیر دے، نو عائشهؓ وائی چه زه قضاء حاجت ته لاړم نو هلته زما هار وشلیدو. نو ماد هار مرئ لټولے، په ما ناوخته شو، تردے چه قافله مانه لاړه، هغوئی دا

گمان کړے وو، چه عائشهؓ کجاوه کښې ناسته ده نو کجاوه هغوئی په اوښ بنې ده، عائشهؓ چه راغله قافله نه وه نو هلته څملاسته نبی علیه السلام دعادت مطابق صفوان بن المعطل السلمیؓ صحابی پاتے کړے وو نو کله چه رڼا شوه نو چونکه صفوانؓ، عائشهؓ وړو کتوب (بچپن) کښې لیدلې وه نو اوس ئے چه ولیدله نو وی پیژندله، انالله وانا الیه راجعون، ئے اووے، عائشهؓ وائی ما داوا واوریدل، او دی نه وروسته هغه ماسره یوه خبره هم نه ده، کړې نوزه راپاسیدم ما ته صفوانؓ اوښ کینوله او زه په کجاوه، کښې کیناستم او مونږ قافله پسے ورسیدو، نو منافقینو دا تهمت ولګولو چه دوئی سره کښے ذوخته نه لاروه عائشهؓ خان پاتے کړے وو، نبی علیه السلام پریشان کړو، او عائشهؓ ناخبره او بیماره وه، خو عائشهؓ وائی چه نبی علیه السلام به کورته راغلو نو د نورو ښځو نه به ئی تپوس کولو چه عائشهؓ څنګه ده، زه حیرانه وم چه دا ولی یوه ورځ زه قضاء حاجت ته باهر تلم نو ماځان سره د مسطحؓ مور هم روانه کړه نو لار کښې د مسطحؓ مور پر یوته، نو هغے اووے طَعِسَ مسطح مسطح دی هلاك شی ما ورته اووے چه ته هغه صحابی ته بد دعا کوے، چه جنګ بدر کښې شریك دے، ما ته ئے اووے چه تا ته څه پته ده نو لاره کښې یو خل بیا وښائیده بیائے اووے طَعِسَ مسطح نو ماورته بیا اووے چه ته بدری صحابی ته بددعاء کوے، نو وروستو هغے ماته حال اووے، چه په تا تهمت لګیدلے دے، زه هغه ځائی نه واپس شوم او کورته راغلم ژړل م نبی علیه السلام به راغلو، بریرهؓ نه ئے تپوس وکړو چه عائشهؓ باره کښې ته څه وائی هغې ورته اووے چه نورزه څه نه وایم دومره وئیلے شم چه کله وړه (وړو) واغکی،

(گهوندلے) نو کهلاؤ ترے پاتے شی نو بیزه راشی هغه نی جوته، کړی نبی علیه السلام حیران وو ،پریشان وو ،نبی علیه السلام صحابه راجمع کړل،چه زه څه وکړم یو صحابی پاسیدو چه دا بالکل دروغ دی بل صحابی اووے دا پرېږده نورے ښځے ډیرے دی،بل راپاسیدو چه ستازماقوم سرے دروغجن کړوتورے ئے راوویستے او جنګ جوړ شو،صحابه ډیوبل په خلاف شو نبی علیه السلام تقریراو کړواووے،

والله لا اعلم علی آلی الاخیراً ولقد ذکروا رجلا ما علمت به سوءً قط ولا دخل بیتی قط الا وانا حاضر،

دینه وروستو نبی علیه السلام عائشهؓ ته اووے چه د پلار کورته لاړه شه، عائشهؓ وائی چه زه کله پلار کورته لاړم نو ابوبکرؓ په ناست وو ،تلاوت ئے کولو او مورم ژړل،ماته مورووے که تا دانه وی کړی نو خدائی به ستاصفائی وکړی بیا نبی علیه السلام راغلو نو ماته ئی اووے ،ربښتیا اووایه چه ته دا کار کړے دے او که نه،ماورته اووے چه که چرے زه وایم چه ما کړے دے،نو په خان تهمت لګوم او که چرے وایم چه نه م دے کړے ،نو بیا تاسو زما خبره نه منئ:(عائشهؓ وائی چه زما زړه کښې داوه چه الله به وحی خفی سره زماصفائی کوی خو الله وحی جلی راولیږله)داخبرے ما نبی علیه السلام سره کولے چه نبی علیه السلام سراوچت کړواودا،آیتونه ،اِنَّ الَّذِیْنَ جَاءُوْا،راغلل اوزما صفائی وشوه خو څوره دا تهمت خپلوانولګولے ووپدی تهمت کښې هغه پاك صحابهؓ شامل وو ،لکه مسطحؓ ،حسان بن ثابتؓ هغه حسان چه نبی علیه السلام طرفه لے جوابونه کول لکه ابوسفیان نبی علیه السلام ته بدرد وائیلی

وونو حسان بن ثابتؓ جواب ور کړے ؤو،

هجوت محمداً برّا تقیاً — وعندالله فی ذالك الجزاءُ
وجبرائیل امین الله فینا — وروحُ القدس لیس لهٗ کفاءُ
ثکلتُ بُنَیّتِی اِنْ لَمْ تروها — تثیرُ النقعَ علی طرفَیْ کُدَاءِ

(بَلْ هُوَ خَیْرٌ لَّکُمْ) ایت ۱۱ ګوره څنګه خیرؤو دومره نبی علیه السلام خفه ؤو، اوصحاباؤیو بل مقابله کښې تورے راواخیستے،

جواب..... اصل کښې د عائشهؓ دغه مقام نه وومعلوم، تردی چه دا الزام ولګیدو، او آسمانونونه وحی راغله، او ډومره قوانین، آداب او احکام ظاهرشول،

(وَالَّذِیْ تَوَلّٰی) ایت ۱۱ ګوره دلته داجرم نه ووشوے، نوقرآن هغے باره کښې داوائی او کوم جرم چه صحاباؤ کښې شوے دے صحابه هغے باره کښې څپله وائی نوهغوئی ته نبی علیه السلام څه وائی ابوداؤ باب الرجم کښې روایت ذکرکوی چه صحابه اونبی علیه السلام روان وو، اوصحابو د یورجم شوی صحابی تذکره کوی نواووے رُجِمَ رَجْمَ الْکَلْبِ (د سپی په شان رجم شو) نونبی علیه السلام د دوئی نه تپوس او کړو دوئی اویل،

نحن ذان یارسول الله قال انزلا فکلا من جیفة هذا الحمار،

هغوئی د نبی علیه السلام په مزاج پوهه شول نواووے حضرت داهم څوك خوری، نبی علیه السلام ورته اووے چه اوس م هغه سرورروغوبے خوړے نوهغه نه د دی خوړل بهتردی دا اوګوره صحابه دصحابیؓ باره کښې وائی اوهغه کارشوے هم دے بیا نبی علیه السلام زجرورکوی اوموددوی وائی چه نه صحاباؤ دا ګړی دی خکه نے زهٔ وایم،

(بِأَنْفُسِهِمْ خَيْرًا) ايت ۱۲ بانفسهم ولې واني، جواب...... داخکه چه عائشهؓ
دستاسو مورده،
(لَمَسَّكُمْ) ايت ١٤ ده فضل الله او کرم خکه څه یکسي پا کدامن وو،
لکه حسان ثابتؓ، مرارة بن ربيع او هلال بن اميه، نو الله هغوئی معاف کړل
کله چه د حقيقت نه خبر شول نو هغوئی را و ګرځيدل،
(سُبۡحٰنَكَ هٰذَا) ايت ١٦، او صحاباؤ پدی خبره تورے هم راخيستی وے، يو خل
نبی عليه السلام يو كس باندی پيسے وے نو ګواهان پكار وو نبی عليه السلام
سره ګواهان نه وو يو صحابی راغلو هغه وے زه ګواهی کوم چه ستاپه پيسے
شته نبی عليه السلام ورته اووے ته چرته وے هغه اووے زه نه وم خو
حضرت تاجرے هم دروغ نه دی وائيلی صحابه داسے عجيب خلق وو،
(لِمِثۡلِهٖۤ) ايت ۱۷ لمثله لفظ نے خکه اووے چه صحاباؤ باندی څوك هم الزام لګوی
دهغوئی سره هم دهغه جماعت كاركن نشے په صحاباؤ د الزامونو ابتداء هم
غلطه شوی وه،
فی افسادالاسلام فأحدثوا القول بأن الصحابة ظلموا اهل البيت
(وَلَا يَأۡتَلِ) ايت ۲۲ مسطحؓ دابوبكر صديقؓ خوريه (بهانجا) وو، دے غريب وو
ابوبكر صديقؓ به ورسره امداد كولو كله چه هغه تهمت كښی شريك شو
نو ابوبكر صديقؓ ورسره امداد بند كړو، نو الله دا آيتونه راوليږل،
(اَلۡخَبِيۡثٰتُ لِلۡخَبِيۡثِيۡنَ) ايت ۲٦ دی سره دفعه دوهم دچه ته به وائی مړه دابه څنګه
څوك كوی، جواب ...... دا به خبيث خلق كوی، ددی دوه معنے دی،
(۱)...... پليتے ښځے پليتو سړه لره دی،

(۲) پلیتے خپرے پلیتو سرو لره دی (درمنثور)هکذافی الطیب للطیبین وعسکها

(لَاتَدۡخُلُوۡا)ایت ۲۷ ددی ځائی نه آداب سبعه ذکر کوی اودلته اول آدب چه د چا

کورته بغیر اجازته به نه ځے ،عبدالله بن مسعودؓ چه به خپل کورته ننوتو،

نو غاړه به ئے تازه کړه،دی دپاره چه کور کښې پردئے سخے نه وی،

(وَتُسَلِّمُوْا عَلٰی اَهۡلِهَا)ایت ۲۷ څه مطلب ...... چه هغه اهل بچ کړه دانه چه ورته بدبد

ګورے ،یا ورته په رسورسوستر ګو ګورے،

(ارۡجِعُوۡا فَارۡجِعُوۡا)ایت ۲۸ چه پښتون ته اووے واپس شه،نو بیا به ترعمره خفه وی

زمحشری شاګرد وو ،نوزمحشری ته راغلو،اودروازه ئے ورته اوواهله

زمخشری ورته وائی من فی الباب،هغه شاګرد ورته اووے اناعُمَرُ قال

انصرف(واپس شه) نوشاګرد ورته وائی عُمَرُ لاینصرف(عمرغیرمنصرف

دے منصرف کیږی نه)زمخشری ورته اووے ،اِذَانُکِّرَ صُرِّفَ(کله چه نکره

شی نو منصرف کیږی)

(هُوَاَزۡکٰی لَکُمۡ)ایت ۲۸ قرآن وګوره یوسورة کښې معاشره برابروی

فاش گویم آنچه دردل مضمراست این کتاب نیست چیزدیگراست

چون بجان درفت جان دیگرشود جان چون دیگرشد جهان دیگرشود

(قُلۡ لِّلۡمُؤۡمِنِیۡنَ)ایت ۳۰ دلته نه دویم قانون بیانوی،

(قُلۡ لِّلۡمُؤۡمِنَاتِ)ایت ۳۱ دلته نه دریم قانون بیانوی،جینۍ ته به وائی چه اوره داهلك

کښې دخدائی قدرتونه ښکاری خومره خائسته دے،

(وَلَایُبۡدِیۡنَ زِیۡنَتَهُنَّ)ایت ۳۱ ،الله وائی،زینت مه ښکاره کوئ،دی ته به شیطان وائی

شایه کنه غاړه ښکاره کړه کنه،

(عَلٰى جُيُوْبِهِنَّ) ايت ۳۱ عبدالله بن مسعودؓ وائی چه صرف يوه ستر گه به ئے
ښکاری الاعينا واحدًا، او داچه تن صبا کوړے نو کهلاؤ به روانه وی، څادر به
ئے پوخائی وی او دابه بل خائی وی،
(اَوْنِسَآءِ هِنَّ) ايت ۳۱ بعض هغه ښځے هم منع کوی چه هغه کو ځه، گشتے وی يعنی
چه داگرخی يو بل ته خبر وړی،
(وَتُوْبُوْٓا اِلَى اللّٰهِ) ايت ۳۱ دا وړيسے ولی وائی جواب ...... ځکه چه دا قوانينو نه به ته
وائی، چه ډير گران دی، خو گران نه دی، لعلکم تفلحون، دا ځکه چه تاسو
کاميابی ده دی قوانينو منلو کښی،
(وَاَنْكِحُوا الْاَيَامٰى) ايت ۳۲ دلته نه پنځم قانون بيانيږی،
(فَكَاتِبُوْهُمْ) ايت ۳۳ شپږم قانون،
(وَلَاتُكْرِهُوْا) ايت ۳۳ دا اووم قانون،
(اِنْ اَرَدْنَ) ايت ۳۳ دا قيد اتفاقی دے، احترازی نه دے، امام سيوطیؒ، الأ تقان، کښی
وائی چه قرآن کښی شپږ ځايه قيد اتفاقی دے نو دلته معنی داده، مه مجبوره وئ
جينکئی په کنجرتوب خصوصا که دوئی اراده دپاکئ وی،

يو شاعر وائی

ښځو پېرے وُشلول هيرِرے شوے	خولك ورته دانهٔ وائی چه کتے شئ
ماته هرخولك وائی ښځه مهٔ گوره	دوئی ته خولك دانهٔ وائی چه پټے شئ

(اَللّٰهُ نُوْرُ) ايت ۳۵ ربط ...... مخکښی معاشرتی زندگی دپاره ئے اصول ذکر کول، نو
په دی عمل ډير گران دے شيطان وسوسه اچوله چه عمل دی و گوروئو
يو اخے به پاتے شے، نو الله وائی عمل په کړه کوربهٔ دی روښانه شی او دمثال

مقصد دادے چه که په احکامو دی عمل او کړو، نوزړه به دی منورشی،
علامه ابن قیمؒ وائی ماته خپل شیخؒ وصیت وکړو چه کله مجلس ته ځے
نوزړه دشیشے په شان کړه څهمطلب لکه شیشه کښې ځان وګورے چه کله
آخواشے نوبیا څه نه وی
دارنګه ته مجلس کښې به مختلف خوبیانے وګورے بیا وروسته هغه مه یادوه
وضاحت د مثال دادے چه مشکوة نه مراد سینه د مؤمن، مصباح نه مراد
عقیده د توحید، اوزجاجه نه مراد زړه دے، کوکب دری نه مراد مخ دمؤمن،
من شجرة ای من زیت شجرة، نه، المرادالقرآن والسنة یامراد بدن د مؤمن
دے، لاشرقیه ولاغربیة، زیتون، وُنه نۀ وه مشرق طرف ته، نه مغرب طرف ته
نودابه مضبوطه وی ځکه که یوطرف ته وی نو بیا ترقی نه کوی چه مینځ
کښې وی بیازرغتیږی او دادیره وخته پورے وی، مؤحد هم به مضبوط او
دیره وخته پورے وی، زیتهایضئی ای عمله یعنی خلق دهغه عمل نۀ متأثر
کیږی، لم تمسسه نارای البیان باالتوحید، نورعلی نورای البیان علی العمل
ددی مطلب داچه که عمل سره بیان هم وکړی نودیره بهتره شی نوبیاسم
رنړاشی، ګوره رنړاد پاره څلوراشیاء دی،
۱ یوفاعل هغه الله دے ۲ دریم قابل هغه مؤمن دے؛
۳ دریم مکان د ده زړه دمؤمن دے ٤ او څلورم سبب ئې عقیده د توحید ده
(یَهۡدِی اللّٰهُ) ایت ۳۵ نور دالله څه شی دے نوسورة شوری ۵۲ کښې ذکر کوی،
(وَالَّذِیۡنَ کَفَرُوۡۤا) ایت ۳۹ دمنافق مثال چه عمل کوی خوبرباد دے لکه یوسړے چه
شګې باندې او بوشکۍ کړی دغسی منافق هم دے

(اَوۡ كَظُلُمٰتٍ) ایت ٤٠ مثال دعمل دکافر ،ظلمت شرك و کفر ،موج ،جهل ،من فوقه موج،پیران ، سحاب مرګری ،یاعمل ،ظلمت اعمال شرکیه ،له نور، ای القرآن وسنة

(رُكَامًا) ایت ٤٣ داپه معنی ذدروندوالی سره ده،

لکه علامه اقبال اشعارو کښی وائی،

پالتا ہے بیج کو مٹی کی تاریکیوں میں کون

کون دریاؤں کی موجوں سے اٹھاتا ہے سحاب

کس نے بھردی موتیوں سے خوشۂ گندم کی جیب

موسموں کو کس نے سکھلائی ہے خوئے انقلاب

(لَقَدۡ اَنۡزَلۡنَاۤ) ایت ٤٥ ربط ......هر کله اصلاح د معاشری چه ئے او کړنودی خانی نه ترغیب الی القرآن ورکوی چه که دفع دفحشاء کوے نوقرآن ته لاس واچوه بیا زجرور کوی،مشر کینوته،

(وَيَقُوۡلُوۡنَ اٰمَنَّا) ایت ٤٧ زجر للمنافقین ربط ...... د قرآن خلاف چه کوی نوهغه منافق کوی ،نوزجرور کوی،

(فأولئك هم الفائزون) ایت ٥٢ محکښی هغه چاباندی دفعه ذکر کړه چه قرآن دنیاوی فائدے د پاره وګرزخول ،اولٰئك هم الظّٰلمون ٥٠ سره نوچاچه غاړه کیخوده نودهغه صفت،واولٰئك هم المفلحون ،ایت ٥١ فاولٰئك هم الفآئزون،ایت ٥٢

(اِنَّ اللّٰهَ خَبِيۡرٌ) ایت ٥٣ دا صفت ئی ولے راوړو،جواب ......ځکه چه ظاهر خو منافق سینه باندی لاس یښے ده ،چه قرآن وسنت منم خو اللّٰه وائی زۀ خبر یم

خبریم لکه توبه ۱۰۱ کښې وائیلی وو۔

(فَاِنَّمَا عَلَيْهِ مَا حُمِّلَ) ایت ٥٤ پیغمبر باندې خپله ذمه داری ده او هغه ذمه داری ، هود ۱۱۲ (فاستقم کماامرت) او دویمه (ولاترکنوا الی الذین ظلموا) بله زمه داری نمل ۹۲ د قرآن به صرف زه بیانوم بلکه یوسف ۱۰۸ (قُلْ هٰذِهٖ سَبِيْلِيْ)

شیخ القرانؒ نیل السائرین کښې ،په ترجمه دشرف الدین النحوی وائی،

ذاك سبيل المستقيم وغيره سبل الغواية والضلالة والردىٰ

فاتبع كتاب الله وسنن اللتى صحت فذاك اذا اتبعت هوالهدى

او بیا وائی

فتدبّر القرآن ان رمت الهدىٰ فالعلم تحت تدبّر القرآن

(اِلَّا الْبَلٰغُ) ایت ٥٤ شاه اسماعیل شهیدؒ یو خائی کښې بیان کولو نو خلو ر کهنټې بیان ئې و کړو بیان ئې چه ختم کړو نو یو سړے راغلو او شاه صاحب ته په زړا شو ،شاه صاحبؒ ورته تپوس و کړو هغه ورته اووے چه جی زه ستا بیان دپاره فلانی خائی نه په منډه راراوان وم او ماستابیان آوریدو خوزهٔ چه راورسیدم نوتاسو بیان ختم کړو ،شاه صاحبؒ ورته اووے کینه،او بیان ئې ورته شروع کړو .د اول نه ئې بیا او زیات بیان و کړو چاورته اووے جی تاسو بیا هغو هومره بیان او کړو ،شاه صاحب ورته اووے چه اول م هم یو د پاره کړے وو،او س م هم یو د پاره و کړو یعنی الله د پاره۔

(كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِيْنَ) ایت ٥٥ من قبلهم نه مراد یاانبیاء دی چه لکه څنګه م کافر برباد کړی وو۔

دار نگه ستاسو به هم پاتے کړی، یا مراد تر ینه هغه کافردی چه لکه م کافر
برباد کړل نو بیا انبیاء علیهم السلام پاتے شول دارنگه تاسو به هم پاتے کړم

(غَیرَمُتَبَرِّجٰتٍ بِزِیۡنَةٍ) ایت ۰ ٦ چه خان په دول سنګارنه کوی دانه چه بودئی ښځه وی اوشونډے ئے سرے کړی وی،
عبدالرحمن باباسره به خلقو تو قے کولے یو خل یو بودئی ښځه وه خان ئے خائسته کړے وو په عبدالرحمن باباتیره شوه نو هغه اووے
په دی لاره پدی راغله اوس به بیاراځی،

غابن ئے وتلی ستر ګے تور اوی ماله خندا راځی،

(اَنۡ تَاۡکُلُوۡا مِنۡ بُیُوۡتِکُمۡ) ایت ۱ ٦ ده کسان ذکر کوی دا خکه چه دوئی نه ئے نفرت او کړ که کوله حدیث کښی راځی ،لاعدوی ولاطیرة
(تفصیل سورة البقره،ایت ۷ فی قلوبهم مرض، لاندی و ګوره)
دارنګه روایت فرّمن المجذوم، یوسړے نبی علیه السلام ته راغلو چه فلانی سړی اوښ راغلو اوزما اوښان ئے خارښتیان کړل،نبی علیه السلام ورته اووے مَنۡ اَجۡرَبَ الۡاَوَّلَ،

(اَوۡصَدِیۡقِکُمۡ) ایت ۰ ٦ دملګری کورنه خوراك کولے شے لکه ابوبکراوعمرؓ یوه ورځ غرمه کښی نبی علیه السلام ته راغلوچه موږ اوږی یونو نبی علیه السلام ورته اووے چه زه هم وږے یم خوراځی چه د فلانی انصاری باغ ته لاړ شو نو انصاری ته چه ورغلل،هغه نه ؤ نو ښځے نه ئے تپوس او کړو چه هغه څه شو هغی ورته اووے ستاسو کینئ هغه په منده ئے د کهجورو یوه غونچه پریکړه اودوئی ته ئے کیخوده،اوبیا کورته لاړو نبی علیه السلام ورته اووے

لاتذبحنّ ذاتَ ذرٍّ، او بیا نبی علیه السلام ورته اووے ستا غلام شته نو هغوئی
اووے نهٔ یو نبی علیه السلام ورته اووے چه غلامان راشی بیا ماته اووایه



بسم الله الرحمٰن الرحیم

سورة الفرقان

سورة فرقان مکی سورت دے په نزول کښې ٤٢ پس د سورة یٰسٓ نازل شوے دے

روابط السورة الفرقان

١ ...... مخکښې اصلاح د عمل ئے او کړه نو دی کښې اصلاح دعقیدی کوی،

٢ ...... مخکښې ئے هغه صفات بیان کړل چه تخلیه پری کیده، نواوس صفات تحلیه ذکر کوی،

٣ ...... مخکښې ترغیب وو، الی اتباع النبی علیه السلام نو دی کښې ترغیب الی القرآن ببیان الحکمت،

٤ ...... مخکښې دلائل وومختصر باثباة التوحیدنو دی کښې تفصیلا دلائل دی

٥ ...... مخکښې صفائی دعائشهؓ وه نو دی کښې صفائی دنبی علیه السلام ذکر کوی

٦ ...... مخکښې مثال دعمل دکافر ذکر کړے وو، نو دی کښې هم وائی وقدمناالی ماعملوامن عمل،

٧ ...... مخکښې دفع د فحشاء ئے او کړه نو دی سورة اول کښې وائی نزل الفرقان که دفع الفحشاء کوے نوقرآن اووایه،

٨ ...... مخکښې وائیلی وو، الاانّ لله مافی السمٰوٰت والارض، نو دی ٢ کښې وائی چه اختیارهم د الله دے، نوشریك ورسره ولے ګرځوی،

٩ ...... مخکښې ئے مثالونه ورکړی وودموحداودمشرك نو دی سورة ٩ کښې وائی چه ګوره د الله ته مثالونه شروع نه کړی،

۱۰...... مخکښې ذکر کړې وو ،لاتجعلو دعاء الرسول.آدب ئې ښائيلې وونودې کښې بل قسم آدب چه اعتراضونه مهٔ کوئې په پيغمبر عليه السلام باندې

امتيازات السورة الفرقان

۱...... دا سورة ممتازدے په بيان د نسب اوسخر کئې د انسان،

۲...... دا سورة ممتازدے په فريادد نبي عليه السلام په باره د قرآن کښې،

۳...... دا سورة ممتازدے په دې خبره چه بيان د قرآن جهاد کبير دے،

٤...... دا سورة ممتازدے په صفات خاصه د مؤمنانو عبادالرّحمٰن ٦٣ کښې،

دعوى السورة الفرقان وخلاصتها

اثباة دمقاصيدار بعه عاليه

۱ اثباة التوحيد ۲ اثباة الرسالة ۳ صداقة الكتاب ٤ ايمان باالآ خرة،

اوردد شبهاتو چه وارديږې په اثباة الرسالة،اونفى د شرك فى البركت،اول خل په ايت ۱ کښې دويم په ۱۰ کښې دريَم په ٦۱ کښې(درے واړه راجمع کړه

برکت آچونکے دے هغه ذات چه قرآن ئې نازل کړے دے،

برکت آچونکے دے هغه ذات که چرته خوښه ئې وې نوۇبهٔ کړخوی تاسو لره غوره،

برکت آچونکے ده هغه ذات چه آسمان کښې برجونه کړخولې دي،نوته برکت واله بل څوك وګرخولو،

برکت وائې الاعطاء والنماء مع الخير،اومدارك وائې،هى كلمةُ تعظيم لاينبغ لأحد الا للّٰه،په دنيا کښې ناچارئې په دوه قسمه ده،

دخوراك څكاك سامان نه
(۱) ناچارۍ ددنيا چه کور کښې لګه نه وي کور کښې
ناچارۍ ددنيا چه کور کښې لګه نه وي کور کښې دخوراك څكاك سامان نه وي او بل په بدن ئے کپړه نه وي،او دادنيا ناچارۍ په باران ختميږي،چه باران اوشي نو ملك آباد شي چه ملك آباد شي نو سړے په کاراولګي سړے چه په کارولګو نو کپړې ئے په بدن شي او لګه پيداشي او خوراك پيدا شي۔

(۲) ناچارۍ دآخرت چه دنيا ته راغلے هيڅ درسره نه وُو،او دنياباز ارته داخل شوے او لګه درسره وه داسے قيمتي لګه چه سيکړونو لاکهونو روپو باندې يو مټ نه ملاويږي نو که دا لګه درسره وي اودادې ضائع کړه هيڅ دې يونه ږونو ناکام شوے،خودناچارۍ ختمولو دپاره الله قرآن راوليږلو، قرآن زده کړه اويوسه،دائے درته د بره نه الله دواړه ناچارۍ ختمے کړے،
نوبرکت آچونکے الله اوپه دې سورة کښې پنځلس ادله عقليه باثباة التوحيد هم بيانوي،

حل مشکلات السورة الفرقان

(تَبٰرَكَ الَّذِیْ)ايت ۱دلته لکه څنګه ذکر کوي دغسې ۱۰ بيا ۶۱ کښې اوسورة ملك ايت ۱ کښې،

(الْفُرْقَانَ)ايت ۱قرآن ته فرقان ولے وائي ددې تفصيل سورة البقره،۵۳لاندې او ګوره،

(لَايَخْلُقُوْنَ شَيْئًا)ايت ۳دوئي وائي بتان ئې رامدد کول ورته وايه دا نيکان بندګان وواوکه بتان،ورته وايه،هم،ضميرذوى العقول راوړې واؤاونون جمع راوړي کهف کښې وائيلي وو،افحسب الذين کفروا...... الخ،
اعراف کښې انَّ الَّذِيْنَ تدعون من دون الله عبادٌ امثالکم الخ نساء کښې

ان یدعون من دونه الا انثا.

(وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا) ایت ٤ ربط ...... که دا مسئله بیانوے نو اعتراضونه پهٔ کښی نواوس اعتراضات دمشرکینو ذکر کوي او څه اعتراضونه به جواب لائق وی نوهغه جواب وکړه اوچه جواب لائق نه وی نو بیاخان ناغرضه کړه.

(وَمَآ اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ) ایت ۲۰ ګوره اعتراض او کړی نو وار خطا کیږه مه بلکه دانشمندی سره آخر کښی جواب ورکړه صبر سره چه موقع درته ملاؤ شی نو جواب وُکوه.

(وَيَوْمَ يَعَضُّ الظَّالِمُ) ایت ۲۷ محکښی لکه دنیا کښی خپل لاسونو باندی چکونه لګولی وو، دارنګه اوس بهٔ هم لګوی یا دنیا کښی ئے حق پرستو په لاس لګولے وونو اوس به په خپل لاسو لګوی.

(اَضَلَّنِىْ عَنِ الذِّكْرِ) ایت ۲۹ د الله دکتاب نه ئے ګمراه کړے وو.

شیخ القرآنؒ په اصول السنة کښی وائی

لایهتدون ولایهدون تابعهم اضل المقودوضل القائدالهادی

(لِلْاِنْسَانِ خَذُوْلًا) ایت ۲۹ دلته انسان نه مراد انسان مشرك دے، که چرے عام انسان شي نو بیاالله اعراف کښی وائیلي وو، ان عبادی لیس لك علیهم سلطن اودلته ګوره داهم وائی چه شیطان انسان مشرك لره شرمؤنکے دے ددینه لویه شرمندګی به څه وی چه خپله ښځه پیرته بوځی اوهغه ورته په ښځه لاسونه وهی.

(مَهْجُوْرًا) ایت ۳۰ پیغمبر به دالله جل جلاله دربار کښی دامقدمه چلوی سوچ او کړه چه ځان نه دی بزرګ جوړ کړے دے، داسے نه وی چه پیغمبر درباندی

مقدمه وچلوی،
(تَرْتِيلًا) ایت ۳۲ ترتیل اصل کښي صفت دمعانیوراخي نه د الفاظو بعض خلق
داصفت د الفاظو گڼرخوی بلکه داصفت دمعنے دے.
لکه ابن جریراوغریب القرآن کښي ابن قتیبة نه نقل کوی،
(وَلَقَدْاٰتَيْنَا) ایت ۳۵ ربط...... دونی وائی، ولولانزل علیه القرآن جملة واحدةً،
قرآن دی یوځائی راشی،
نوداخو مخکښي موسی علیه السلام باندی هم راغلے ؤو، نوهغه نی ولے نه
منلویا که ته باندی اعتراضونه کوی نوخفه کیږه مه مخکښي د ستا نه موسی
علیه السلام باندی هم اعتراضات شوی دی،
(وَاَصْحٰبُ الرَّاسِ) ایت ۳۸ مفسرین په دی کښي مختلف اقوال ذکر کوی خوك
وائی چه دونی پیغمبر شعیب علیه السلام ؤوخوشعیب علیه السلام د دوی
دقوم نه نه وو بلکه قوم مدین نه ؤو، او پیغمبر دوارو قومونو ته وو،
بعض وائی نه دایوقوم ؤو، هلته کوهی او گیرچاپیره ورنه ونے وے اودوی
پیغمبرصفوان یا بل څوك وو، نوهغه ورته مسئله بیان کړه نوهغه ئے شهید
کړونوبیاد الله عذاب په راغلو،
(اَلَمْ تَرَاِلٰى رَبِّكَ) ایت ٤٥ ددی ځائی نه پنځلس ادله عقلیه باثباة التوحید بیانوی،
(سُبَاتًا) ایت ٤٧ سبت اصل کښي پریکولوته وائی اوشپه هم دَسړی ستړے
پریکوی،
(مَآءً طَهُوْرًا) ایت ٤٨ حدیث کښي راځي چه کله به وریځ (بادل) په آسمان راغلو
نونبی علیه السلام به کله کورته دننه تلو، کله به باهرراؤتو ده ددی وجے نه

چه په نورو قومونو باندی په بادل کښی عذاب راغلے ؤو، چه باران به شروع شو نو نبی علیه السلام به تور سرور ته ودریدو او ورته خوشحاله به ؤو.

(جهادًا کَبِیْرًا) ایت ۵۲ داسورة خومکی دے نو دلته د جهاد څه مطلب چه جهاد و کړے خکه چه جهاد فرض شوے نه دے، خو دلته مراد د جهاد کبیر نه بیان قرآن دے

(فَسْئَلْ بِهٖ خَبِیْرًا) ایت ۵۹ د دی درے معنے دی،

(۱)......فسئل به ان سأله تجده خبیرا،

(۲)......فسئل عنه تجده خبیرا،

(۳)......یا تپوس وکړه دی الله باره کښی خبردار نه (یعنی عالم نه چه الله صفات درته بیان کړی) د الله نه سوال او کړه،

د سهیلیؒ مشهور اشعار شیخ القرآنؒ نورالله مرقده نیل السائرین صفحه ۱۷۶ کښی ذکر کوی،

یامن یری مافی الضمیر ویسمع　　انت المُعِدُّ لکل مایتوقع

یامن یُرَجّی فی الشدائد کلها　　یامن الیه المشتکی والمفزع

یامن خزائن رزقه فی قول کُن　　امنن فان الخیر عندك اجمع

مالی سوی فقری الیك وسیلة　　فبالأفتقار الیك فقری ادفع

ومالی سوی قرعی لبابك حیلة　　فلئن رَدَدتَ فایّ باب اقرع

زمحشری اشعار نیل السائرین ص ۱۶۰ کښی امام الانقلاب نورالله مرقده ذکر کوی

یامن یری مدالبوض جناحها　　فی ظلمة اللیل البهیم الالیل

ویری عروق نیاطیهافی نحوها　　والمخ فی تلك العظام النحل

اغفرلعبدتاب من فرطاته　　ماکان منه فی الزمان الاول

یو سالك وائی؛

الله یغضب ان ترکت سواله وبنی آدم حین یسئل یغضب

(هوْناً) ایت ۶۳ عاجزی دیته نه وائی چه جیننی پشان خی او خپو لاندی ئے میږے نه مړیږی او نازك نازك روان وی یو خل یو کس نازك نازك روان ؤو، عمر رضی الله عنه ولیدو، راوغوښتو ئے تپوس ئے ترے وکړو چه بیمار ئے هغه وے نه جی ورته اووے چه بل څه چل دے هغه وے نه، نو عمر رضی الله عنه یوه څیړه ورکړه چه بیا سم څه دی بازار ته به یهوداو نصاری راغلی وی نو تا به وګوری نو وائی به چه مسلمانان کمزوری شوی دی،

(لَمْ يُسْرِفُوْا وَلَمْ يَقْتُرُوْا) ایت ۶۷ نه اسراف کوی نه کمی داسے هم نه وی چه میږی هم ترے څه وُړی نشی یو ځائی کښې یو طالب ؤو، نو خان سره ئے یو پاؤ غوړی (ګهی) راوړی وُو، یو بل ؤو نو هغه سیر راوړی وُو، او یو ور سره بل هم وو نو کوم طالب چه سیر واله غوړی وو نو هغه خوړل چه کله ده والا ختم شو نو پاؤ واله نه ئے تپوس او کړو چه ته هغه غوړی خورے او که نه هغه وے هاؤ نو دے حیران شو چه د پاؤ غوړی نه دی ختم شوی او زما سیر ختم شول نو تپوس ئے ترے او کړو د سیر والا نه چه تا څنګه ختم کړل، نو سیر واله ورته اووے چه لوښی، کښې به م آچول او خوړل م، نو بیائی د پاؤ واله نه تپوس او کړو چه تا څنګه خوړل هغه ورته اووے چه زه خو پاسه طرف نه نوری ورته ښکاره کړم، نو اثر ترے واخلی، نو دریم کس ورته اووے چه که نوړئ درنه پکښی پریوځی نو بیا څه وی نو پاؤ واله ورته اووے چه بیا نه څنګه خورے هغه ورته اووے چه ما خو بره چت سره زوړند کړی دی ښکته نه ورته نورئ نیوم،

(وَلَايَقۡتُلُوۡنَ النَّفۡسَ) ایت ٦٨ نه قتلوی نفس مگر په قانون شرعی اونن راشه کابل

کښی و ګوره څه کوی، او ګوره دونی افغانستان تاریخ بیانوی،

نومحمود غزنوی نه به شروع کړی چه هغه داسے وو داسے ،

بلکه ددی نه مخکښی تاریخ و ګوره کابل اصل کښی ګاؤبل وو، دلته به

خلقوغوایان وغیره پریږدول اوهغه به څرېدلٙ نودی وجے نه ورته ګاؤبل هم

وائیلے شُو بیا کله چه صحابه په افغانستان راغلل په مشرقی طرف والا باندی

نوهغوی دصحاباؤزبردست استقبال او کړو ګډان ئے ورته حلال کړل اود

یوقوم وو، چه ټولو یکدمٙ ایمان راؤړو بیا صحابهؓ مخ ته روان شول نود کابل

اودخائے ترمینځه نورخلق آبادووهغوئی ډیر جنګجوؤونودامشرقی علاقے

کسان صحاباؤ سره شول دی د پاره چه چه داخلق ئے لاره کښی لوټ نه

کړی نوصحابه چه کابل ته راغلونوهغوی ورته وے دا ګاؤبل دے

نوصحاباؤ خودا وائیلے نه شو نو کاؤبل ئی وے نو بیا کاؤبل نه کابل جوړشو

(حَسَنٰتٍ) ایت ٧٠ حدیث کښی راځی چه الله به انسان سره حساب کوی نوالله به

ورته یوجرم وښائی څه جرمونه بهٔ پریږدوی انسان به وائی جهنّم تاته خوروان

روان یَم الله به ورته وائی دا ګناهونه دی په نیکوباندی بدل شول نوانسان به

وائی الله ماخوفلانی ګناه هم کړی وه فلانی هم نوالله به ورته وائی هغه م هم

په نیکو بدل کړل،

(فَسَوۡفَ یَکُوۡنُ لِزَامًا) ایت ٧٧ (خلاصة السورة) دی سورة کښی نفی دشرك فی

البرکة کوله اول ځل په ایت ١ کښی بیا په ١٠ بیا ٦١ کښی،

(درے واړه راجمع کړه) اودومره به مسئله چه بیان شوه بیاهم څوك نه منی

نو گمراه دي، څو ځله لفظ ضلالت ذکر کوي،

اول په ۹ کښې، فضلوا فلا يستطيعون سبيلا،

دويم ځل په ۱۷ کښې ام هم ضلّوا السبيل،

دريم ځل په ۲۹ کښې لقد اضلّني عن الذکر،

څلورم ځل په ۳٤ کښې اولٓئك شرّ مكاناً واضلُّ سبيلاً،

پنځم ځل په ايت ۴۲ من اضلّ سبيلاً،

شپږم ځل په ايت ٤٤ ان هم الّا كالانعام، ګوره، اوّل ئے وانيلي وُو فضلّوا فلا يستطيعون سبيلاً، نو نتيجه دا شوه، ان هم الا كالأنعام، پيدا شوے وو انسان نو آخر ئے داو ګرځيدو، ان هم الا كالأنعام بَلْ هم اضلُّ سبيلاً (فضلّو، واضلّو، وضلّوا عن سواءِ السبيل)

☆☆☆☆☆

بسم الله الرحمٰن الرحیم

سورة الشعراء

مکی سورة دے په نزول کښې ٤٧ پس دسورة واقعے نه نازل شوے دے

روابط السورة الشعراء،

ف ١......مخکښې استهزاء دمشرکینوئے نبی علیه السلام پورے ذکر کړه نودی سورة کښې تسلی نبی علیه السلام ته ورکوی،

ف ٢......مخکښې استهزاء دمشرکینومقاصدا ربعه ؤپورے وه نودی کښې تخویف ذکرکوی مشرکینو ته،

ف ٣......مخکښې اعتراضات دمشرکینوئے ذکر کړل نودی کښې تخویف ورکوی مشرکینوته،

ف ٤......مخکښې نبی علیه السلام ته ئے ساحروائیلی وو،نودی کښې تسلی نبی علیه السلام ته چه ستانه مخکښې شعیب علیه السلام ته هم وائیلی وو،

ف ٥......مخکښې اول کښې ترغیب الی القرآن وو،نودی کښې هم ترغیب الی القرآن دے،

ف ٦......مخکښې ددی امت ګمراهانو ذکروونودی سورة کښې نوروامتونو ګمراهانو ذکرکوی،

ف ٧......مخکښې اعتراضات دمشرکینو وو،نودی کښې تسلی نبی علیه السلام ته

ف ٨......مخکښې وائیلی وو،فقد کذّبتم فسوف یکون لزاما،چه عذاب به درسره پیوست شی نودی سورة کښې واقعات شعیب علیه السلام په دی ذکرکوی

چه عذاب به پیوست شی،

امتیازات السورة الشعراء

۱..... دا سورة ممتاز دے په بیان د پیغمبر، لااسالکم علیه اجرا،

۲..... دا سورة ممتاز دے په بیان دحالت دریاب باندی،

فکان کل فرق کاالطود العظیم

۳..... دا سورة ممتاز دے په بیان دفرعون موسی علیه السلام ته چه مونږ وړوکے لوئی کړے ئے،

دعوی السورة الشعراء

تسلی جناب رسول الله ﷺ ته په اوو واقعاتو چه انبیاؤ زړه نه وو تنګ کړے نوته هم زړه مه تنګوه،

خلاصة السورة الشعراء

دی سورة کښی دوه خبرے بیانوی

(۱)..... نجاة المؤحدین اوپه دی واقعات سبعه دماضیینو ذکر کوی،

(۲)..... هلاکة الجاحدین،

حل مشکلات السورة الشعراء

(الْمُبِيْنِ) ایت ۲ مبین چه کوم سورة سر کښی وی نوهغه کښی اکثرادله نقلیه وی اودی سورة کښی هم ادله نقلیه بواقعات الأنبیاء دی،

(الْعَزِيْزُ الرَّحِيْمُ) ایت ۹ دادوه صفتونه دی سورة کښی بار،بار ذکر کوی ځکه الله غالب دے قومونه ئے تباه کړل اومهربان داسے ده چه مؤمنانوته ئے نجات

ور کړو.

(آنْ یُکَذِّبُوْنِ)ایت ۱۲ (ما به دروغجن کړی)نوولے موسی علیه السلام یریدو څه جواب ...... نه بلکه مطلب دادے چه که ماخوك دروغجن کړی نو بیازماخبره څوك نه منی.

(ذَنْبٌ)ایت ۱٤ دشمنان دانبیاؤ وائی چه او ګوره موسی علیه السلام خپله وائی علی ذنب په ما ئی ګناه ده جواب...... ذنب که ګناه ته وائی نو داسے ولے وائی لهم علی ذنب په معنی دبوج راځی لکه تلخیص کښی بحث کوی نو هلته وائی،

اقلب فیه اجفانی کانّی اعدبهاعلی الدهر ذنوبا

(ذنوب بوجونه)

(۲)...... دریم داچه ذنب په معنی دبدله ده او که بدله نهٔ وائے نو بیاسورة طه ٤٠ کښی ،فنجّیناك من الغم وائی نو دلته ورته غم نه وائی ذنب نه ولے نه وائی خو ګناه دے نه خکه ورته غم وائی،

(۳)......دریم داچه تهیك ده ذنب پخپله معنی خو اصل معنی ولهم علی ذنب فی زعمهم دے لکه امام رازیؒ تفسیر کبیر کښی ذکر کوی،

(٤)......څلورم داچه موسیٰؑ خوسوك ور کړے وو اراده د قتل ئے کړی نه وه، او په عدم اراده کښی ګناه نشته لکه سورة احزاب ٥ کښی ذکر کوی

لاجناح علیکم فیمااخطأتم به ولکن ماتعمدت قلوبکم،

(٥)...... پنځم داچه موسی علیه السلام وائی وریسے

رب بماانعمت علی فلن اکون ظهیراللمجرمین (القصص)

(٦)......شپږم داچه موسی علیه السلام دوباره دیل قبطی قتلولو اراده کړی وه فلما اراد ان یبطش بالذی هو عدو لهما (القصص) نو دلته قتل اراده وه که ګناه وه دقبطی قتل نو بیا به ئې نه کولو، او انعام به ئې ورته نه وے او مودودی څه وائی نورسائل ومسائل صفحه ۲۸ حصه اول طبع چهارم کښی لیکی،

موسیٰ نے ایک بہت بڑا گناہ کیا تھا چنانچہ فرعون نے اس کو اس فعل پر ملامت کی،

نو دے ورته اکبر الکبائر وائی او علماء څه وائی ابو منصور ماتریدی، فقه اکبر صفحه،

۲۹ کښی وائی، والانبیاء معصومون عن الکبائر، او دوئی د مودودی پره کوی خو پیغمبر او صحابأو نه کوی دوئی وائی چه نه علماء لیکلی دی چه صغائر ترئیه کیږی موږ وایو چه دخو اکبر الکبائر ورته وائی،

او دنوح علیه السلام باره کښی وائی چه هغه کښی جاهلیت جذبه وه (په تفسیر سورة الهود کښی) او دابراهیم علیه السلام باره کښی وائی چه ستوروته ئې سجده کړی وه (معاذالله) او که ته وائی چه صغائر نو فقه اکبر وائی چه وړسے ذکر کوی والمراد من الصغائر الزَّلَّةُ (ښیئویدل) (پهسل جانا) والأتیانُ بِالمُبَاحِ نو مباح باندی راتلو ته صغائر نسبت کوی،

ابو المنتهی صفحه ۲۲ کښی وائی،

والأنبیاء متزهون عن الصغائر والکبائر والکفر والقبائح یعنی قبل النبوة وبعدها

مرام الکلام صفحه ۲۳ کښی وائی،

والمختار عندی انهم معصومون عن وساوس الشیطان وعن الکذب والکبائر عمدا اوسهوا قبل البعثة وبعدها، او که ته وائی چه نه ګناه ګاردے نو بیا واجب

الأطاعة خنگه دے.

العقود الدرية صفحه ۱۸۱ کښی علامه ابن تیمیه چه مایه دروافضو سره مناظره کړی وه العصمة لم تثبت الاللأنبياء.

منهاج السنة النبوية صفحه ۱۷۵/جلد ۳ کښی ذکر کوی چه انبیاء معصوم دی،بعض علماء پدی کښی،ډیرمخی ته لاړدی لکه پیربابا تذکرة الأ برار والأشرار صفحه ۷ کښی وائی ، نبیٔ رابسوئی گناه کبیره نسبت کروند کفربوو ،صفحه ۲۶ کښی وائی پیغمبران صغیره ہم نکروند،

عبقات کښی شاه اسماعیل شهیدؒ هم ذکر کوی ،

هداية الأ برارصفحه ۳۶ وائی ،

ان العصمة واجبة للأنبياء كلهم قبل النبوة وبعدها ووجب ان يكون معصومين عن الصغائروالكبائرولوجوزنامنهم الكبيرة ليجوزمنهم الكفرولوجوزنامنهم الصغيرة فيجوزمنهم الكبيرة لان الصغيرمع القصد تكون كبيرة وهذالايجوز فوجب ان يكون معصومين عن الصغائروالكبائر،

ابو الشكور السالمى التمهيد صفحه ۷۳ کښی ذکر کوی،

وقال اهل السنة ان الأنبياء كانواقبل الوحي هم الانبياء معصومين وان العصمة واجبة فى حق الأنبياء،

روح المعانى صفحه ٤ ٥قرطبى صفحه ۳۰۸/جلد ۱ کښی وائی

وقال جمهورمن الفقهاء من اصحاب مالك وابى حنيفة والشافعیؒ انهم معصومون عن الصغائر كلهاكعصمتهم من الذنوب،

مجموعة الرسائل صفحه ۳٤٥ والذى ينبغى ان يرجح ويعتمدويصحح

ماذاقال القاضی عیاض ان الأنبیاء معصومون عن الصغائر والکبائر قبل النبوة وبعدهاسهوا او عمدا۔

مالابدمنه صفحه ۱۱ کښې وائي. وانبیاء ہم معصوم‌اند از صغائر وکبائر

شرح فقه اکبر صفحه ۶۹ کښې وائي والأنبیاء کلهم منزهون عن الصغائر والکبائر

امام بخاریؒ کتاب التوحید صفحه ۸۳ کښې وائي.

واستدل به بعض الجهلة علی صدورالذنوب من الأنبیاء وهذه المسئلة طویلة الذیل والحق عندی ان من اعتقدصدورالذنوب من الانبیاء فهو کافر۔

عبقات صفحه ٥٤ کښې ذکر کوی فالعصمة المطلقة الظاهرة الدائمة للأنبیاء

اصول دین صفحه ۱۶۷ کښې محمدبن محمدبن احمدالکریم وائي

قال اهل السنة والجماعة ان الأنبیاء والرسل معصومون من الکبائرومن الذنوب والصغائربطریق القصداماالزّلاّت فغیرمعصومین عنهاوهومایقع عنهم خطأًاونسیاناًاوسهواًوعندالمعتزلة والخوارج انهم غیرمعصومین وهوقول المرجئة۔

(اِنَّارَسُوْلُ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ) ایت ۱۶ کوره دلته دوانبیاء ته رسول صیغه د مفرد راوړی پشان د شخص واحد ئې وګرځول دا ځکه چه ددواړو مسئله یوه وه او یوه قوم ته لاړو نودې وجے صیغه د مفرد ئے راوړه۔

(فعلت فعلتك) ایت ۱۹ کوره فرعون کارنه ښائي، داد تعظیم امر د پاره مبهم الفاظ راوړی، یعنی ډیر مره لوئې کاردې کړے دے اوپه دې سره ئے یروی لکه یوسړے درته وائي ګوره سم شه کنے هغه حال دې وایم که بزدل وی نوهغه ویریږی اوکه بهادروی نوهغه ورته وائي دستاحال به هم وایم،

(وَاَنَامِنَ الضَّآلِّيْنَ) ایت ۲۰ دلته ضلالت په معنی دګمراهی نه دے بلکه معنی داده چه ورك شوم زه تاسونه او اوس راغلے یم که څه کوم شے نواو ګره ضلالت په معنی دورکیدو، قرآن کښی راځی،
لکه سورة السجده ۱۰ مؤمن ۷۴، احقاف ۲۸، انعام ۲۴، اعراف ۳۷، ۵۳، قصص ۷۵،

حدیث کښی راځی ضل احدهماالآخر(ورك کړی یوبل ملګری لره)
اشعاروُدعربو کښی راځی،تلخیص المفتاح کښی وائی،
غَدَائِرُهٗ مُسْتَشْزِرَاتٌ الی العُلٰی تضلُّ العقاصَ فی مُثنّٰی ومُرْسَلِ
مراح په استشهاد کښی وائی،
شربتُ الاِثْمَ حتّٰی ضَلَّ عَقْلِیْ کذاك الاثمُ یذهبُ بالعقول
محاوره دعربو کښی راځی،ضل الماء فی اللبن،
نو دلته ماده دضلالت په معنی ورك کیدو ده،

(۲)......دویمه معنی وانامن الضالین چه زه ومه دهیره ونکیونه،
(یعنی مجھ سے بھول گیا تھا آپ نے مجھے یاد کیا) او قرآن کښی هم په دی معنی راغلے دے بقره ۲۸۲ ان تضل احدهمافتذکراحدهماالأخری ،
او دا معنی علامه قرطبی ذکر کړی ده،

(۳)......دریمه معنی ضآلین معنی چه زه محبت کونکونه یم الله سره یئد مظلومانو سره او اوس بیا راغلے یم ستانه مظلومان خلاصوم او ضلالت په معنی دمحبت لکه یوسف ۹۵ ذکر کوی او سورة ضحی، ووجدك ضالا فهدی ای محبامع الهدی فهدینا کماقال الأمام الرازیؒ فی تفسیر هذه الآیة،

(عَبَّدتَّ بَنِیٓ اِسرَآئِیلَ) ایت ۲۲ گوره فرعون ته ئی وویل چه ته ماباندی احسان اومننه کوے خودا ته کوے اوزما قوم خلق دی غلامان کړی دی ،دوئی ئے کتی اوته ئے خوړے نوما که ستانه اوخوړل نوڅه وشو،

(قَالَ رَبُّ السَّمٰوٰتِ) ایت ۲٤ گوره موسی علیه السلام څومره لوړے ته راځی،

اول فرعون ورته اووے ،چه زما کور کښی لوئی شوے ئی،نوموسی علیه السلام ورته اووے ،چه په ماڅه احسان اومننه کوے سرېه زما قوم دی خدمت کوی فرعون ورته اووے واه هغه کاردی کړے دے ،نوموسی علیه السلام ورته اووے کړے م دے لاس دخلاص وی،

فرعون بیا اووے ،چه مصرپالونکے څوك دے نوموسی علیه السلام په شروع وکړه،نو گوره بره او ښکته ئے ولی بیا ورته راشی ،

ربکم ورب اباءکم الاوّلین، ستا رب دے اوستادپلار،نیکه رب دے هغه رزق ورکوی،چه کله موسی علیه السلام ورته اووے چه بره اوښکته اوستا مالك دے ،نوفرعون سره جواب نه وو،نووزیرانو ته وائی ،الاتستمعون،ورے دا خبره نه اوری داڅه وائی گوره دالی خبره کټ کوله څوموسی علیه السلام ئے نه پرېږدی اوشروع ئے کړی ده نو ورته وائی ،ربکم ورب اباءکم الاولین سم ئے خراب کړو ،نوبیافرعون څه وائی،

ان رسولکم الذی ارسل الیکم لمجنون،

واه ستاسوقاصد(رسول)لمجنون لیونے دے ذاتی حمله پری کوی اولیونے ورته څکه وائی چه بس یوی خبره پسے لگیدلے دے، پرېږدی ئے نه څو موسی علیه السلام ئی هم نه پرېږدی ،

قال رب المشرق والمغرب ومابینهما،
اوبیا ورته وائی ،افلاتعقلون، تاسوتول کم عقل یوخائی ته شوی ئے ،کله چه فرعون پوه شوچه په هیڅ اونشوه نو دهمکی ورکوی خوموسی علیه السلام دهمکو جوابونه معجزوسره ورکوی،
(ثُعْبَانٌ مُّبِيْنٌ) ایت۳۲ گوره دلته ثعبان وائی اوبل ځائی چه الله مخے ته دے نوهلته حیة اوجآن وائی(کمافی طٰهٰ والقصص)داولے،
جواب......دا ځکه چه دمرگرو مخکښی نرم شه اودشمن مقابل ته سخت شه،
صحابه هم دغه شان وواوداشان نران ملگری پکاردی یوصحابی سینه کښی نیزه لاړه ده اووینه را آخلی او په مخ ئے آچوی اووائی ،فزت ورب الکعبة طلحةؓ په جنگ، کښی دزخمو دوجے لاس شل شوے وو،
نبی علیه السلام اووے ،اَلَامَنْ يُّرِيْحُنِيْ مِنْ ذِي الخَلِيْقَةِ،جریربن الأ جرب درے ۳ ځله ورته پاسیدوچه زهٔ اوبیا واپس شو،نبیؐ ته وائی ،جعلتُها کجمل الأجْرَبِ، دارنگه خالد بن ولیدؓ عزی ته ولاړدے ورته وائی،

أعُزّٰیٰ کفرانَكِ لاسبحانَكِ اِنّی رأیتُ اللّٰهَ قداَهانَكِ

خبیبؓ قلتوی نوهغه اشعاروائی

لَقَدْ جَمَعَ الْاَحْزَابُ حَوْلِيْ وَاَجْمَعُ قَبَائِلُهُمْ وَاسْتَجْمَعُوْا كُلَّ مَجْمَعِيْ
فلستُ أبَالِيْ حينَ أُقْتَلُ مُسْلِماً على أيِّ شقٍّ كان لله مَصْرَعِيْ
فمالى حذر الموت وانّي لميتٌ وانّا الى ربِّيْ اِيَابِيْ ومرجعيْ
وذاك في زات الأله وان يشاء يبارك على أوصال شلوٍ ممزَّعى

☆☆☆☆☆

حسانؓ به دنبی ﷺ دطرف نه دفاع کوله،ابو سفیان ته ئے جواب ور کولو،

هَجوتَ محمداً براً تقیاً — وعندالله فی ذالك الجزاء

وجبرائیل امین الله فینا — وروحُ القدس لیس لهٗ سوا

ثکلتُ بُنیتی ان لم یَروهَا — تثیرُ النقعَ علی طرفیٰ کُدَاءِ

دارنگه یو صحابی قیصر بادشاه ته خط یوړو قیصر چه وشلولو نو یو دے مُلك ده،او صحابی بادشاه دربار کښی ولاړ ده،توره ئے راوویسته،او بادشاه ته ئے ورتوپ کړو،کړیوان نه ئے ونیو،ورته وائی چه که ما ته دنبی علیه السلام طرف نه ستا قتل اجازت وے،نو اوس به ما ټکړے ټکړے کړے وے،

صحابه داسے دبل مخے ته نران وو،او داسے نه وی چه ملګری ته سخت وے اوبل ته نرم وے هغه یو کس نه چا چاقو وغوښتو چه راکړه،نو تېوس ئے ترے وکړو چه تیره(تیزدهار)دے او که نه،نو هغه ورته وے چه مُولی ته نردے او ګنتی ته هښ هښ (خاندی)

(اَرْجِهْ) ایت ٣٦ (تفصیل سورة الاعراف ایت ١١١ لاندی ذکر شوے دے) وګوره،

(قَالَ نَعَمْ) ایت ٤٢ (هاؤ) غتمانو خودارنګه خبرے وی،نو داچه صاحب شی بیا لیونے شی نو په لاره چه روان وی نو لاسونه به لړے لړے وړی داسے به روان وی لکه په وچه لمبوزهی،

(تَلْقَفْ) ایت ٤٥ لقف دیته وائی چه غړپ ئے کړی لکه ملاچه جمعے شیے حلوه غړپ کړی بدعتی ملا،

(اَنْ کُنَّآاَوَّلَ الْمُؤْمِنِیْنَ) ایت ٥١،اعتراض دوئی نه مخکښی خلقو خو ایمان

راوړے وو،

جواب ...... اصل کښې دا دفرعون دلے نه اول ایمان راوړونکے وو نوځکه داسې وائي

(وَاِنَّا لَجَمِيعٌ حٰذِرُوْنَ) ایت ٥٦ د دی دوه معنے دی،

(١)...... مونږ دوئي لره یرونکے یو،

(٢)...... مونږ دوئي نه یریدونکے یو. وانالجميعٌ، منه، حذرون،

(يَوْمَ يُبْعَثُوْنَ) ایت ٨٧ یو روایت نسائي او ابن ماجه ذکر کوی، او ابن کثیرؒ په هغی باندی رد کوی هغه روایت دادے چه قیامت کښې به ابراهیم علیه السلام الله ته وائي چه یا الله ما سره دی وعده کړی وه چه ته به نه رسوا کوم، او دینه زیاته رسوائي به څه وی چه زما پلار ئې جهنم ته ځی، نو الله به ورته وائي سکته وګوره نو سکته چه وګوری نو پلار به ئې ګونګټ په شان شکل کښې وی، نو ابراهیم علیه السلام به زړه تورشی او بیا به هغه الله جنهم ته واچوی،

(بِقَلْبٍ سَلِيمٍ) ایت ٨٩، اعتراض ...... مخکښې اووے لاینفع مال ولابنون مګر هغه چاته فائده ورکوی چه سلیم زړه باندی راغلو، نو بل څائي کښې راځی،

لهاما کسبت وعلیهاما اکتسبت، هر یو نفس د پاره خپل عمل دے،

جواب...... هر یو نفس د پاره خپل عمل دے، د دی نه مراد مشرك دے، مؤحد ورپسے خیرات اوشی، او بچی به داسے فائده ورکوی چه ورته ایصال ثواب کړی

(اِذْ نُسَوِّيكُمْ) ایت ٩٨، اعتراض ...... مشرکینو خو دنیا کښې الله سره برابر کړی نه دی

جواب...... دینه مراد تسویه فی الحب ده لکه څنګه ئې الله سره محبت کولو دغسې خپلو الهه ؤ سره هم محبت کوی لکه څنګه الله ته ئې نذرونه ورکول دغسې غیرالله ته هم ورکول،

(وماسألکم علیه من اجر)ایت ۱۴۶،انبیاؤ مزدوریٔ نه غوښتله،

شیخ القرآن رحمة الله به وے

نه مهتمم نه ځلیم نه امام نه مدرس | مراچکار که اظهار حق بیان نکنم
اوواهه لنگ شه ملنگ | په درکېښی د سبحان

(فَعَقَرُوْهَا)ایت ۱۵۷،اشکال......دلته زخمي یوه کس کړی وه او نسبت تولو ته کوی،جواب......داځکه چه ملګری ورسره ټول وو،

(اَصْحٰبُ لْئَیْکَةِ)ایت ۱۷۶ داځلق او اصحاب الرّأس یووُو یاجُدا،جُداوُو،

(اِذْقَالَ لَهُمْ شُعَیْبٌ)ایت ۱۷۷،اشکال.....دلته ورسره اخوهم نه ذکر کوی،
جواب...... داځکه چه دقوم نه نه وو،

(یَوْمِ الظُّلَّةِ)ایت ۱۸۹ وریځ کښې نبی علیه السلام به چه کله وریځ شوه، نوکورته به ننوتو اوراوتو به ددیر خفګان نه ددی وجے نه چه عذاب به راشی کله به چه باران شروع شونونبی علیه السلام به سرتور کړو او خوشحاله به وو،اوباران ته به اودریدو،اوّل میوه به چه نبی علیه السلام ته راغله نوهغه به ئی دیرے مینے سره خوړله،چه ده اول نعمت د الله دے حدیث کښی راځی کان رسول الله یحبُّ الحلوةَ والثَّرِیدِ،نوحلوه نه کورے حلوه نه ده مرادچه چه دلیل نیسے لکه،ابنِ سیّدالناس معنی کوی اوّل الفاکهة،

(وَاِنَّهٗ لَتَنْزِیْلُ)ایت ۱۹۲ ربط ......چه قومونه هلاك کیږی نونجات په څه کښی دے،نونجات په قرآن کښی دے

(عَلٰی قَلْبِكَ)ایت ۱۹۴ زړه ته نسبت کوی ځکه چه زړه ته کومه خبره ښکته شي نوهغه سرسری نه وی،

(وَاَنْذِرْ عَشِيْرَتَكَ) ایت ۲۱٤ کله چه نبی علیه السلام باندی دا آیت راغلو نو نبی علیه السلام په غرو ختو او آواز ئے او کړو، ابولهب راغلو نبی علیه السلام ته ئے اووے تبالك ألهذا جمعتنا، نو بیا سورة لهب نازل شو خو دا خبره غلطه ده خکه چه دا سورة په نزول کښی ۷ ٤ دے، او سورة لهب ٥ دے نو جواب مخکښی نه راغلے دے او اعتراض وروستو دے .

(فِى السّٰجِدِيْنَ) ایت ۲۱۹ سیوطیؒ دی خائی کښی خطاشوے دے هغه وائی نبی علیه السلام نیکونه ټول مؤحدین وو دا خبره غلطه ده.

(اِلَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا) ایت ۲۲۷ دایمان واله شاعران صحابه ؤ کښی ډیروی، لکه حسان بن ثابتؓ نبی علیه السلام ورته منبر پریښودو،

کان یضع المنبر لحسان، عبدالله بن رواحهؓ، کعب بن مالكؓ، کعب بن زهیرؓ وغیره، کعب بن مالكؓ باره کښی راځی یوه ورځ نبی علیه السلام مخ ته روان وو، او اشعار به ئے وائیل نو عمرؓ ورته وے داڅه کوے کعبه، نبی علیه السلام مخے ته اشعار وائی نبی علیه السلام ورته وے، خَلِّ یا عمرؓ داشعرو نه د کفارو زړه کښی دغشی په شان لګی،

او حضرت حسانؓ به اشعار وائیل، سفیان په جواب کښی،

هجوتَ محمدًا برًّا تقيًا وعند الله في ذالك الجزاءُ

وجبرائيل امين الله فينا وروحُ القدس ليس له سوًا

ثكلتُ بُنيّتي اِنْ لّمْ تروهَا تثيرُ النَّقعَ على طرفَيْ كُدَاءِ

نبی علیه السلام مدح کښی وائیل،

خُلِقتَ مُبَرّءً مِنْ كُلّ عَيبٍ كَأنّكَ خُلِقتَ كَمَا تَشَاءُ

(وَسَيَعْلَمُ الَّذِينَ ظَلَمُوٓا) ايت ۲۲۷، ابوبكرؓ چه كله وفات كيدو، نو عمرؓ ئے خليفه كړو نو ابوبكرؓ وے چه دے به انصاف كوى، و ذالك ظنّى به، او كه انصاف ئے او نه وكړو، نو وسيعلم الذين ظلموآ، دا آيت ئے اووے نو عمرؓ بيا داسے انصاف اوكړو چه كله مجاهد خط به راغلو نو عمرؓ به هغه داكى ته نه وركولو بلكه خپله به ئے دمجاهد كورته وړو كه هغوئى پوهيدے نو ور به ئے كړو او كه نه پوهيدے نو خپله به ئے ورته، اولوستو او خان سره به ئے قلم او كاغذ يوړو، او هلته به مجاهد ښځه كه چرے پيغام او خط ليږلو نو دهٔ به هغى خبرے كولے او دى به هغه ليكلى.



بسم الله الرحمٰن الرحیم

سورة النمل

مکی سورت دے په نزول کښې ۴۸ پس دسورة شعراء نه نازل شوے دے.

روابط السورة النمل

۱...... مخکښې آخر کښې ترغیب الی القرآن وونودی آخر کښې هم ترغیب الی القرآن دے،

۲...... مخکښې واقعه دموسی علیه السلام ذکروه نودی کښې بل اندازسره واقعه دموسی علیه السلام بیانوی،

۳...... مخکښې پخوانوقومونو نه دهغه چاحالت بیان ووچه ایمان ئے نه وو راوړے نوتباه شونودی کښې د پخوانونه هغه چاحالت چه ایمان ئے راوړواوبچ شول لکه بلقیس،

۴...... مخکښې موسی علیه السلام ته فرعون ساحر وائیلی وو،نودی کښې وائی صرف هغه ته نه بلکه معجزوته ئے هم وائیلی وو،

۵...... مخکښې ئے ذکر کړل چه انبیاؤسره دتوحیدد مسئلے غم ؤو،نودی کښې وائی چه انبیاء نه مرغانوسره هم دهغه غم وو،لکه ملاچرګک،

۶...... مخکښې نفی دشرك فی الدعاء ئے او کړو،فلاتدع مع اللّٰه الٰهاً آخر، نودی کښې نفی دشرك فی العلم والدعاء کوی،

۷...... مخکښې ئے وائیلی وو،وانذعشیرتك الأ قربین،نودی سورة کښې دهغه نمونه ذکر کوی چه لکه څنګه موسیؑ،لوطؑ اوصالحؑ بیان کړے ؤو،

دا رنگه ته هم او کړه،

ف ۸......مخکښې آخر کښې وائیلې وو ،وسیعلم الّذین ظلمؔوا،نودې سورة کښې دظالمانو انجام ذکر کوی،

ف ۹......مخکښې اوو ے ،فلاتدع مع اللّه احدا نودی کښې وائی چه سلامتیا ور کونکے هم بل څوك نشته بل څوك مه رامدد کوه ،

ف ۱۰......مخکښې اوو ے ،وانتصروا من بعدماظلموا،نودی سورة کښې نمونه د نصرت داللّه ذکر کوی،

ف ۱۱......مخکښې نفی د یونوع من انواع الشرك وه نودی کښې نفی دبلے نوع دشرك ده دا سورة پنځم کال د بعثت نازل شوے دے ،اودی وخت مسلمانان سختی کښې وُو،

امتیـــازات الســورة الــنــمــل،

ف ۱......دا سورة ممتازدے په تقریر دمیړی باندی،

ف ۲......دا سورة ممتازدے په واقعه دبلقیس باندی،

ف ۳......دا سورة ممتازدے په ذکرد خندادسلیمان علیه السلام،

دعوی السورة النمل وخلاصتها

په دی سورة کښې دوه مسئلے بیانوی اوپه هره مسئله دوه دوه واقعے بیانوی

ف ۱......یوه مسئله عالم الغیب زه یم (اللّه وائی) په دی باندی،

یوه واقعه دموسی علیه السلام بیانوی چه اوګوره موسی علیه السلام خبرنه دشوهمسا،همسائی غورخولی ده اوپه دی نه پوهیږی چه ماردے او که

دویمه واقعه دسلیمان چه او گوره سلیمان دمملکت دبلقیس نه خبر نه دے
۲...... دویمه مسئله الله وائی سلامتیاور کونکے زه یم،په دی.
یوه واقعه دلوط علیه السلام، چه او گوره مابچاؤ،ور کرو..
دویمه واقعه دصالح علیه السلام اودروستنودوو واقعاتو خلاصه په ۵۹ کښې
اوړومبنودوو واقعو خلاصه په ایت ٦٥ کښې ذکر کوی،
اوّل شپږ آیتونه بطورتمهید اوبیاواقعه دموسی علیه السلام شروع کړی،
په نفی دعلم غیب باندی،

حل مشکلات السورة النمل

﴿زَيَّنَّا لَهُمْ﴾ ایت ٤ دلته نسبت الله خان ته کوی خکه چه طاقت الله ور کړے دے،او کله شیطان ته کوی خکه هغه وسوسے آچوی او کله انسان ته خکه هغه کاسب دے،

﴿اِلَّا مَنْ ظَلَمَ﴾ ایت ۱۱ بعض خلق دا،استثناء متصله گرځوی دمرسلین نه، حالانکه دا غلط دے خکه بیا معنی داشوه چه مرسلین هم (ظلم) گناه کوی معاذالله،په دی باندی ابن جوزیؒ تسهیل کښې رد کوی هغه وائی هذابعیدلان الصحیح عصمة من الذنوب،

تسهیل اومدارك ذكر كوی چه دا،استثناء منقطع دے،نو،الا بمعنی لکن دے نوبیاوروسته ځان ته مستقل کلام،مبتداء اوخبر دی ،نوبیاالامن ظلم معنی داشوه هغه چاچه ظلم و کړودنورو خلقونه(نهٔ دَانبیاء نه)ثمّ بدّل الخ،

یا استثناء متصله ده خو استثناء متصله چه څرنګ وائی لکه فراء وغیره نوهغوئ محذوف منی او هغهٔ نه استثناء کوی، یعنی مستثنیٰ منه محذوف منی نوهغو ئی وائی، انی لایخاف لدیّ المرسلون، بل غیرهم الخائف، مستثنیٰ منه الامن ظلم مستثنی توبیا صحیح ده،

(فِیْ تِسْعِ آیت) ایت ۱۲ (نهه معجزے) پنخه په اعراف ۱۳۳ کښې او څلور طٰهٰ کښې او قصص کښې

(۱)......همسامار کیدل، (۲)......لاس ځلیدل،

(۳)......دریاب جدا کیدل، (٤)......ژبے نه لګنهٔ تلل

واحلل عقدةً من لسانی،

(مِنَ الْجِنِّ وَالْاِنْسِ وَالطَّیْرِ) ایت ۱۷ دا درے واړه هغه اشیاء دی چه یوبل نه تښتی مرغان د انسانانو نه، انسانان د پیریانو نه، او دا ټول الله یو پیغمبرته راجمع کړل،

(قَالَتْ نَمْلَةٌ) ایت ۱۸ دا الله د میږی قول ذکر کوی، لرسوچ په کښی او کړه

یٰایها النّمل، یا حرف ندا دے ها حرف تنبیه ده او، النمل، منادیٰ ده،

ادخلوا مسٰکنکم، دا مقصود بالنّداء دے یعنی آمر او حُکم ده، لایحطمنکم، سره علت دَ ننو اتو وائی، ولاهم یشعرون، سره دفاع د سلیمانؑ کوی میږی و کوره اوّل ئې ځان ته متوجّه کړُو بیا تنبیه ورکوی بیا حکم کوی او وجه ئی هم ذکر کړه چه ننو اځئی، ځکه، لایحطمنکم الخ داسے نه وی چه دوئی سوچونه شروع کړی نو میږوبهٔ وائیل چه سلیمان علیه السلام ولے ظلم کوی چه مونږ بربادوی، جواب ......نو میږی د هغه طرف نه جواب و کړو، وهم لایشعرون،

من فقه الرّجل أن یقلّ ،کلامه دی لاند امام رازیؒ ذکر کوی ،
وهذاتنبیهٌ عظیمٌ علی وجوب الجذم بعصمةِ الانبیاء، میږنی ډیرپوه ده
او دی کښی نورهم ډیرخصلتونه دی ،قرآن څکه دا ذکر کوی دده کلام نه
دامعلومیږی چه میږنی زره کښی دقوم خدمت او حفاظت جذبه لری او دی
کښی نورهم صفتونه دی،

(۱)......دا ډیرهوښیاردے،

(۲)......اتفاق پکښی ډیرزیات دے

(۳)......مخکښی نه سوچ کوی چه په ګرمئ موسم کښی دانے ذخیره کړی
او په ژمی کښی خوری،

(٤)......هرسړے خپل وزن برابرشی وړی،زیات نشی وړے،اومیږنی زیات
وړی دخپل وزنه غټ ملخ ئی راخستے وی اوچه کورته ئے دننه
کوی نو که دننه کیږی نه نو بیا ئی ټکړے ټکړے کړی او کورته ئے
دننه کړی خوباهرئے نه پریږدی ،

(٦)......دا نهایت همتی دے په دیوال به خیژی بیا به راغوزیږی اوبیا به
خیژی خوهمت نه غورځوی،امیرتیمورچه کله حملو کښی باربار
ناکام شونوهغه غرته لاړیوتالاب په غاړه ناست دے،سوچ کوی
نا څاپه میږئ ئے ولیدو،بره خیژی نو بیابښکته اوبو کښی اوغورځی،
بیاوخیژی نوبیا پریوځی،خوهمت نه هارکوی امیر تیموربیا اراده
مضبوطه شوه،اوحملے ئے او کړه نوفتح باب شو،

(٦)......بل وخت نه ضائع کوی سلام و کړی نوزرځی،

(۷)...... د قوم ډیرزیات خیر خواه دے،

(۸)...... نظر نے نهٔ لګی خوقوت شامه ئی ډیره تیزه ده په قوت شامه شیء معلوموی سلیمان علیه السلام ئے هم په قوت شامه معلوم کړے وو او ګوره میږے دلته ډیره مختصره خبره کوی،داخبره چه ده او کړه نوسلیمان علیه السلام واؤریده،نوهغه ته ئے وے چه میږیه ته هوښیارئی ماته څهاوغواړه میږے ورته اووے چه ته خپله بنده ئے ته ن څه اوغواړم سلیمان علیه السلام ورته اووے خیردے اوغواړه، نومیږی ورته او ے چه بنهدوه کارونه او کړه،زدنی رزقی واجلی، دازیات کړه دهٔ نه چه الله ماته مقرر کړے دی نوسلیمان علیه السلام اوخندل چه دازما لاس کښی نیشته دومره هوښیارو و، وهم لا یشعرون،دی سره سلیمان علیه السلام صفائی کوی ،واه انسانه ته میږی نه م کمزورے ئے چه ستا ګوتے سرنه صرف شل میږی جوړیږی بلکه زیات هغه دسلیمان علیه السلام صفائی کوی اوتا،دانبیاؤ صفائی او نه کړه،

(فَتَبَسَّمَ ضَاحِكًا)ایت ۱۹۰،اصل کښی دوه اشیاء دی یوتبسم او بل ضحك تبسم دیته وائی چه مسکی غوندی شی ضحك دیته وائی چه قهقهه باندی اوخاندی دلته دادواړه یوځائی ذکر کوی،

جواب......نومطلب دادے چه تبسم نه شروع ئے او کړه او انتهاء ئے په ضحك اوشوه،

مصرعه،

زمانهٔ هسے خان بد نام کړو پهٔ تبسّم خنداذبل سره کوینه

(الْهُدْهُدَ) ایت ۲۰ مونږ ورته ملاچرګك وایو دا خکه چه روچرګ
او کارنے د ملا کرے وو.
(اَحَطْتُ بِمَالَمْ تُحِطْ بِهٖ) ایت ۲۲، امام نسفیؒ وائی، وفیه بطلان قول الرافضة
ان الأمام لایخفی علیه شیء،
(یَسْجُدُوْنَ لِلشَّمْسِ) ایت ۲۴، او ګوره هغه وخت سجده غیر الله ته کیده
نو ملاچرګك سره فکر وو، او مونږ سره هیڅ فکر نشته،

أعادوا بها معناً سواعاً ومثله	یغوث ویعوق بئس ذالك مِنْ وُدٍّ
وقد هتفوا عند الشدائد بأسمها	كما یهتف المضطرّ بالواحد الصّمدِ
وکم نحروا فی سوقها من بحیرةٍ	أحلّتْ لغیرِ اللّهِ جَهْلاً علی عَمْدٍ
وکَمْ طائفٍ عند القبور مقبّلاً	ویلتمس الأرکان منهنّ بالأیدیِ

(قَالَ سَنَنْظُرُ) ایت ۲۷ دا چونکه خبر واحد وو، او دا محتمل د صدق او کذب
وو، نو دی وجے سلیمان علیه السلام تحقیق کوی،
(قَالَتْ یٰۤاَیُّهَا الْمَلَؤُا) ایت ۲۹ ګوره سلیمان علیه السلام خط ولیکلو، داسی نه
کوی چه مړه خپل کاربۀ کوی بلکه خط ئے ولیکلو چا تری ته ئے ور کړو
دوه میاشتے مسافت باندی خط ئے ورے دے او بلقیس غرمه وخت پراته ده
او قصر ابیض کښی هر طرف ته تالے آچولی دی نو هدهد، اخوا دیخوا
ګرځیدو، آخر یو روشندان نه ئے خط وغورځولو نو دهغی په سینے باندی
پریوتو، نو یکدم راپاسیده، چونکه غیر شادی شده وه او یو طرف بل طرف ته
ئے وکتل چابی ئی ولیدے هر څه موجود وو، نو بره ئی هدهد اولیدو، پوهه شوه
نو صبا ئی پارلیمنټ راجمع کړو نو هغوئی ته خط لولی قالت،

(یاایها الملؤا .... الخ)

(اَلَّا تَعْلُوْا عَلَیَّ)ایت ۳۱ خومره تر خط ورته لیکلی نبی علیه السلام قیصر روم ته خط لیکلے وو،ورته اوّل خپل نوم ئے لیکلے وو،بیاورته،اسلم تسلم ،

(اسلام راوړه،بچ به شے)

(یَأْتِیْنِیْ بِعَرْشِهَا)ایت ۳۸ گوره داتخت راوړل غله نه وه،

جواب ...... ده دارالحرب وو،اودارالحرب نه هرشئ چه په کومه طریقه وی راوړے شے لکه نصب الرایه اودرایه وغیره ذکر کوی،

(عِنْدَهٗ عِلْمٌ مِّنَ الْکِتٰبِ)ایت ۴۰ دا خوك وو بعض وائی داآصف بن برخیاء وو(وزیرسلیمان)لیکن داغلطه ده څکه چه سلیمان سره خودینه زیات علم وو بعض وائی ده ته اسم اعظم ورتلو نوولے سلیمان علیه السلام ته نه ورتلو اصل کښې یامرادجبرائیل دے ،یادینه مرادخپله سلیمان علیه السلام دے اوده په خپلے معجزے باندی راوړو.

(وَکَشَفَتْ عَنْ سَاقَیْهَا)ایت ۴۴ بعض خلق وائی چه دی سره سلیمان علیه السلام واده کول نوجن ورته وائیلی ووچه دی بدن باندی ویښته دی ، نوویښته ئے کتل څکه ئی ورته دا کړی وو،موږوایوچه پیغمبرستاغوندی نه وو،چه دومره دائے کول دائی ورته نه وائیل چه پینښی لڅے وچتے کړه بلکه دائے دی د پاره کول چه هغی ته وښائی چه ستا کوم مال راليږلے دے هغی نه زماسره زيات مال دے،

(وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا)ایت ۴۵ دی خالی پڅے دوه واقعے په نفی دعلم غیب وو یوه واقعه دموسی علیه السلام چه اوگوره موسی خبرنه شودهمسا.

دویمه واقعه دسلیمان علیه السلام چه او کوره سلیمانٌ دمملکت دبلقیس نه خبرنه دے،

(قُلِ الْحَمْدُلِلّٰهِ) ایت ۵۹ کله چه مقررتقریرشروع کوی نواول وائی الحمدللّٰه نحمده الخ نودلته درته تقریرچل ښائی اوپه منبرکښې نووائی به قل الحمدللّٰه وسلام علی عباده الخ بیاامن خلق السموت، نه بیان کوی،

(اَمَّنْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ) ایت ۶۰ ددی خائی پورے ادله نقلیه وباثباۃ التوحید نواوس ادله عقلیه باثباۃ التوحید کله چه وطن کلی ته لاړشے نوخان ته تقریر مکوه هسے نه چه خلے نه دغلط نه دغلط الفاظ اوخی نوچه لاړشے نیکه ته به وائی چه راشه شلمه پاره لړوایو چاشل کړی نه دی چه مونړئی شل کړو نونیکه چوکیښوے نوورته وائے بهٔ ،امّن خلق الخ، واه بابا،آسمان زمکه چاپیداکړی دی باران څوك وروی چه باغیچے پیداکړی نونیکه بهٔ وائی بچیه اللّٰه کوی کنه ،نوته بهٔ وائے ء الٰهٌ مع اللّٰه نوغلے بهٔ وی غلے بهٔ وی نونیکه بهٔ وائی چه مونږخومشرانونه آوریدلی ووچه پیران هم کولے شی نوته به ورته وائی بل هم قوم یعدلون اللّٰه سره ئی نوربرابر کړی وداداولد ورځ سبق شو،

دویمه ورځ بیاورته وائی،راځه سبق وایو،امّن جعل الأرض الخ چه باباداز مکه چااودرولی ده ،دانهرونه چاروان کړی دی،واه بابادامخامخ غرونه چا اودرولی دی اودریابونو کښې پردے چاپیداکړی دی،نونیکه بهٔ وائی څه خبریم ته ورته وایه،ء الٰهٌ مع اللّٰه،نونیکه به وائی چه بچیه فلانی باباخودا حاجتونه پوراکول داپخوانی ملایانوهم وائیل دوئی نه پوهیدل،

او ستاجواب بل اکثرهم لایعلمون(اکثرنهٔ پوهیدل په قرآن)
دریمه ورځ بیابه ورته وائی،بابا لړ سبق وایو نوته به وائی ۰
امن یجیب المضطر الخ باباد ابیمارانوته اوضررشده نه تکلیف څوك لرے
کوی واه باباته چادپلارنه وروسته پیدا کړے هغه به وائی الله به پوهیږی
نوته به وائی ء اله مع الله،
نودرېمه ورځ به لږه غصه وکړی چه ته پوهیږے بل هیڅوك نه پوهیږی
نوستاجواب قلیلاًماتذکرّون(کم خلق نصیحت آخلی)
څلورمه ورځ بیابه باباکینوے نوورته وائی بهٔ،اَمّن یهدیکم الخ واه بابا
په تیارو کښې څوك خلاصول کوی په کشتئ کښې چاته فریاد کیږی،
واه باباداسرهٔ بادونه باڈونه څوك راولی نوهغه به غلے شی ته به ورته
وائی ء اله مع الله نوبابابه وائی چه بچیه داټول خلق وائی چه فلانے هم
رامدد کیدے شی فلانی دَ دانے ذمه دارده اوهغه لارسائی،نوستاجواب
تعالیٰ الله عمّایشرکون،بابادامشرکان دی بابابهٔ وائی،ټول خلق دمشرکان
کړل سَحربهٔ ملایان راولی،
نو پنځمه ورځ درس به کوے نووائی به ،اَمّنْ یبدأ الخلْق الخ، چه تا سو چا
پیداکړی یو ،مُلایان به وائی الله ته به وائیء اله مع الله نوهغوئی به جهړ او
بحث کوی ته بهٔ وائی ،قل هاتوبرهانکم الخ دلته پنځه څله ء اله مع الله وائی
(شیخ مُدمظله نے پانچ پیرباره کښې وائی)پانچ پیریان پنځه څله درته وائی
(أَمَّنْ جَعَلَ)ایت ۶۱ ویدصفحه ۵ کښې لیکلی دی،چه زمکه په غوائی ولاړه
ده نودادهغه نه صابئینواومجوسوعقیده راوآخیسته اوبیامسلمانانوترے

راواخیستہ اوتفسیر سورۃ النور کښې لیکلي دي.

(قُلْ هَاتُوْا بُرْهَانَكُمْ) ایت ۶۴ احمدبن حنبلؒ واثق دربار کښې وائیلي وو، ،ایتونی شیئامن کتاب اللّٰه وسنة رسوله.

(وَمَامِنْ غَائِبَةٍ) ایت ۷۵ ربط محکښې نفي علم غیب وکړه دغیر اللّٰه نه ایت ۶۵ کښې نودلته اثباۃ علم غیب للّٰه تعالی کوی.

(اِنَّكَ لَاتُسْمِعُ الْمَوْتٰى) ایت ۸۰ دوئی دلته قصه جوړه کړی ده چه دلته نفي دسماع ده سماع نه ده خوتپوس ترے داوکړه چه دامسئله داعتقادیاتو نه وائی که دفروعیاتو نه وائی که اعتقادیات وی نوبیانصوص قطعیه په کاردی اونصّ قطعي خوپهٔ عدم سماع باندی ده اوکه فرعیات نه وی،نوبیا احنافو کتابونه پیش کړه نوته دسیوطیؒ کتاب پیش کوے هغه خوشافعي المسلك وو اوکه ته ماته وائی چه ستاسره څه دلیل ده،نوزه اول قرآن پیش کوم لکه دلته دارنګه سورۃ روم ایت ۵۲ کښې دی خاتنی ابن جریرؒ وائی،

هذامثل ضرب اللّٰه لِلکافرفکمالایسمع المیّت کذالك لایسمعون،

اوګوره تشبیه دکافروور کوی مړوسره اوقاعده ده چه وجه دشبه اقوای وی په مشبه به کښې مشبه نه نومړو کښې عدم سماع اقوای شوه،

دارنګه احنافو کتابونه وګوره امام رازیؒ تفسیر کبیر صفحه ۶/۱۰۴ کښې وائی .المیّتُ لَایَسْمَعُ ولایدرك شیئاً دارنګه فتح القدیر صفحه ۱/۶۹ صفحه ۱/۱۴۷ صفحه ۱/۱۷۶ المیت لاسمع ولایفهم (بیاذکر کوی)

اذاخلف لایکلمه فلو کلمه بعدموته لایحنث لان المقصودمنه الافهام والموت ینافیه

(بیاب الیمین) لانه لایسمع،

دارنګه شامی صفحه ۳/۱۸۰اصول الشاشی صفحه ۲۹،
کنزاوّل صفحه۲/۱٤۷ باب الیمین مستخلص صفحه ۲/۳۸۰هدایه اوّلین
صفحه۲/٥٠٤شرح هدایه جلال الدین صفحه۳۲صفحه ۲۲٥،
کوکب الدری صفحه۱/۲۱۹تفسیرالبیضاوی صفحه۲/۱۲٥مدارك
تفسیرنسفی صفحه۲/۱٠درمنثور۲/۱٠صفحه۱٤۲ مائة مسائل صفحه۳٤
صفحه٤٦ شرح عقائدحاشیه صفحه۱۱۸ تفسیرماجدی صفحه۲/٦۷٦
زادالمعادصفحه۲۳٤شرح عقائد صفحه۷۷مسایره صفحه ۲۷۱
فیض الباری صفحه۲۷شرح منتقی صفحه۱/٤٥٥فیض الباری صفحه٤۷
مراقی الفلاح صفحه۳۲٦طحطاوی صفحه۲/۳۸۲حاشیه درمختار
صفحه۲/۲۸۲حاشیه نورالأیضاح صفحه۲۳۷شرح فقه اکبرصفحه۱٥٥
علامه ابن عابدین حاشیه درمختار صفحه۲/۱۸٠شرح مقاصدصفحه
۲/۱۲۳لانزاع فی ان المیت لایسمع،

دارنګه احادیث دال دی په نفی دسماع الموتی دو نی حدیث دقلیب بدر
پیش کوی،چه نبی علیه السلام ته عمرؓ وے آیادوئی آوری،
نبی علیه السلام ورته وے انهم الآن یسمعون،نودوئی وائی اختلافی مسئله
ده اختلافی نه ده اتفاق دے صرف دخالی کښی اختلافی دے نورخوئیشته
صحابه بعض وائی دادنبی علیه السلام معجزه وه بعض وائی داالله ژوندی
کړل لکه قتادهؒ قول دے بخاری ذکر کوی،احیاهم الله تعالیٰ حتّی أسمعهم
قوله علیه السلام توبیخاًوتحذیراًونقمةً وحسرةً
دارنګه حدیث قرع النعال کښی علامه رشیداحمد گنگوهیؒ په تیز رائلو

او کوزیدوو ،سره تاویل کوی،

دارنګه عینی صفحه ٤ ۲/۲ فتاوی ابو اللیث صفحه ٤/۲۲۵ صفحه ٤/۲۵۵ فتح الملهم صفحه ۲/٤۸۹ طبقات الکبری صفحه ٤/۱۹٤ تفسیرابی سعود صفحه ۳٤۲ ،افاجی صفحه ۷/۱۲۸ ،اَكْثَرُمَشَايِخِنَاعلى انّ الميّتَ لَايَسْمَعُ، شرح الیاس صفحه ۲/۲۳٤ دارنګه فتاوی دار العلوم دیوبند صفحه ۳/۱٦ سماع موتی ثابت نہیں بلکہ عدم سماع پر نص وارد ہے،

(دَآبَّةً) ایت ۸۲ دی کښی مختلف اقوال ذکر کوی خو په هغه مستند دلیل نیشته مولاناسندهیؒ وائیل چه،دابه مایدب علی الأرض ،نه دے او مراد تری حضرت عمرؓ دے چه هغه په مسلط شو او یهود و قلعه ئی محصور کړی وه

(يَهْتَدِىْ لِنَفْسِهٖ) ایت ۹۲ فائد ستادپاره ،

فتدبر القرآن ان رمت الهدی   فالعلم تحت تدبر القرآن

فالعلم قال الله وقال رسوله   وقال الصحابة هم اولوالعرفان



بسم اللہ الرحمٰن الرحیم

سورة القصص

مکی سورة دے په نزول کښی ایت ٤٩ نمبرپس دسورة نمل نه نازل شوی دے

روابط السورة القصص،

۱......مخکښی سورة کښی بیان شول چه سلامتیا زه ورکوم نو الله صرف انبیاؤته سلامتیا نه ورکړی، بلکه دی سورة کښی وائی چه بنی اسرائیلوته ئے هم سلامتیا ورکړی وه،

۲......مخکښی اوو ے عالم الغیب زه یم او بیچ کونکے زه یم نو دی سورة کښی پدی خبره واقعه ذکرکوی چه موسی علیه السلام مابیچ کړو او هغه عالم الغیب نه وو بالتفصیل،

۳......مخکښی آخر کښی اوو ے وان اتلوالقرآن، نو چه قرآن بیانوے نو تکلیفونه راځی نو دی سورة کښی بعدالابتلاء تسلّی ورکوی چه اوګوره موسی علیه السلام معزز کړو،

امتیازات السورة القصص

۱......داسورة ممتاز دے په واقعے ددوه لونړو دشعیب علیه السلام،

۲......دارنګه ممتاز دے په مزدوری آخیستو دموسی علیه السلام،

۳......دارنګه ممتاز دے په واقعے دقارون،

دعوی السورة القصص

تسلی نبی علیه السلام ته په واقعه دحضرت موسی علیه السلام باندی ،

تقسیم السورة القصص

داسورة دوه حصے ده اوله حصه کښې ٤٤ آیتونه دے په دیکښې د موسی علیه السلام واقعه ذکر کوی،

او دویمه حصه ایت ٤٤ نه تر آخره پدیکښې اثباة الرسالة او ورسره نور مقاصدثلاثه هم ذکر کوی،

اول شپږ آیتونه بطور براعة الاستهلال چه وګوره موسی علیه السلام قوم بچ شو او فرعون قوم تباه شو.

که دقومونو تباهی داقتصادیاتو په فقدان ده،نو موسی علیه السلام قوم به تباه شوے وو خو په دی تده بلکه دقومونو تباهی دغیرت په فقدان ده،او غیرت راتلو باندی قومونه بچ کیږی او لوئی غیرت دادے چه چادرسره احسان کړے وی نو هغه شکریه ادا کړے،موسی علیه السلام قوم سره الله احسان وکړوهغوئی دالله شکریه اداکړه نو کامیاب شو او فرعون ناشکری وکړه نو ناکام شو،

حل مشکلات السورة القصص

(فَاِذَا خِفْتِ) ایت ٧ دلته دوه او امر ذکر کوی

(١)......ارضیعه (٢)......فألقیه فی الیم،

او دوه نواهی (١)......لاتخافی (٢)......لاتحزنی،

(لِیَکُوْنَ) ایت ٨ دلته لام للعاقبة دے لکه یو شاعر وائی،

لنا ملکٌ ینادی کلّ یومٍ لدوا لِلْمَوْتِ وابنوا لِلْخَرَابِ

(دلته للموت او للخراب کښې لام للعاقبة دے)

(فرِغاً) ایت ۱۰ دی دوه معنې دی،

(۱) ـــــ یوه معنی کللث (۲) ـــــ دویمه معنی فرِغاًمِن غمٍّ کلّ شیٍ الاغم موسٰی

(کماذکره القرطبی)

(وَحرّمنَاعلَیهِ المَرَاضِعَ) ایت ۱۲ پردئی سینه نے لۀ څکلئه، داخکه، امام الحرمین به چه کله درس کول نوسبق مینځ کښې به ئے مخ واړول اوتو کاڼړے به ئے واچولے چاترے تپوس وکړو چه داولے کوے، هغه ورته وے، چه څماپلار کله مریدونوخماموږته ئے وصیت وکړوچه دیته پردئی پئی ورنکړے څکه دی بیاحافظه خرابیږی نوزۀ یوه ورځ بچین (وړوکوالی) کښې پورت وم ژاړل م نوموږ وینځه راغله اوزه ئے غیږے ته واچولم نومایو کوټ دپئیوڅکلواومامورپه آواز کړوخوهغه پئی ماتیرے شوی وے نوزه اوس هغه تو که کوم څوتو که کیږی نه اوزماژبه کښې دهغه نه لکنت راځی،

(وَلَمّابَلَغَ اَشُدَّهُ) ایت ۱٤ موسی علیه السلام څه څوان وویوه ورځ غرمه وخت راوتے ده نو دوه۔ ۲ کسانو جهګړه ده یو کس په بل ظلم کړے دو وړلو اوبل نه وړلو نومظلوم موسی علیه السلام ته فریادو کړو نوموسی علیه السلام ظالم ته سوك ورکړو نوهغه په مرئی کښې ساه وه نوهلته مردارشو،

(قَالَ هٰذَا) ایت ۱۵ دلته فعل دقطبی یادوی موسی علیه السلام خان باره کښې نه وائی، رَبِّ بمآانعمتَ علیَّ، نوهلته انعام ورته ولے وائی

دویم داچه دوئمه ورځ بیاموسی علیه السلام هغه بل کس ته اراده کړی وه نوبیاهغه ولے واهی دلته امام رازیؒ څه تفصیل کوی،

او ،فاغفرلي معنی فاسترعلي کوی،

(وَجَآءَ رَجُلٌ)ایت ۲۰ موسی علیه السلام ته چه کله بنی اسرائیلی داخبره وکړے نوسپاهی مناره کړه اوفرعون ته ئے اووے چه پرون قاتل خوموسی دے نوهغوئی میټنګ(مشوره)شروع کړه چه داخودبنی اسرائیلوقوم مرسته شروع کړه لکه مرنړنه قوم خلاصوی خنی چه قتل ئے کړونوهغوئی کښی یو خیرخواه دموسی علیه السلام موجودووپه مناره موسی علیه السلام ته راغلو،

(تِلْقَآءَ مَدْيَنَ)ایت ۲۲ دمصرنه مدین په شمال مشرق باندی پروت ده،

(تَذُوْدٰنِ)ایت ۲۳ (واپس کول ئی)لکه حدیث کښی راځی،

فليذادنّ حوضي كمايذادُالبعير الضالّ،

يُصْدِرَ الرِّعَآءُ(سکته) وَاَبُوْنَاایت ۲۳ دلته ګوره سکته مینځ خبرو کښی راوړی دحیاناکے بنځے داعلامه وی چه پردی سړی سره خبرے نشی کوے،مرئی ئے بندیږی اوراشه که اندربیګم ته ګورے نو،

(فَسَقٰى لَهُمَا)ایت ۲٤ موسی علیه السلام چه کله مدین ته لاړو، نودوه جینکئی هغه خواته ولاړے وے اوخپلے بیزے او ګډے ئے وروسته کولے انبیاء چونکه نهایته غیرتیان وونوموسی علیه السلام هم صبرنه شونو جینکونه ئے تپوس وکړوهغوئی ورته وے،مانسقی حتی یصدر الرعاء، نوموسی علیه السلام کسانوته متوجه شوچه دوئی ګډوبیزوته اول ولے نه ورکوئی هغوئی ورته وے مره دومره تکړاوے نوراشه دابوکه وچته کړه بوکه ئی په لس کسانووچتوله نوهغه موسی علیه السلام سره دلوړے یواځے

راوچته کړه او دوئی ته کلی بیرے ئے اوبه کړے،

دارنګه اوس هم حق پرستو علماء نهایته غیرتیان دی سید احمدؒ هندوستان کښی څه سخے ولیدے چه هغوئی ژارل او یو بل سره ئے خبرے کولے

نو سید احمد شهیدؒ ترے تپوس وکړو چه تاسو څولي يئ او ولے ژاړئ ئی هغوئی ورته اووے چه مونږ پښتانه يو مسلمان يو دلته سکهانو اغوا کړی يو مونږ باندی ظلم کوی نو سید احمد شهیدؒ سوچ وکړو چه داخو مسلمانانو سره دیر ظلم کیری نو هلته نه پیښور ته راغلو او صوابی کښی پنج تار ئے دار الخلافه جوړه کړه، او هلته خانانو ورته پناه ور کړی وه او جهاد ئے شروع، کړو خو بیا ورسره څه کسانو غداری وکړه او مر کړی ئے خائی په خائی شهیدان شو

(ثُمَّ تَوَلّٰىٓ اِلَى الظِّلِّ) ایت ٢٤ کوره دلته موسی علیه السلام روټی نه غواړی او کهف کښی ذکر کوی نو هلته روټی غواړی،

جواب هلته ورسره مر کړی وو دهغوئی فکر وو او دلته یواځی ده نو څکه نه غواړی،

یو شاعر وائی

تَمُوْتُ الْاُسْدُفِي الْغَابَاتِ جُوعاً وَلَحْمُ الظَّاْنِ تَاْکُلُهُ الْکِلَابُ

(فَجَآءَتْهُ اِحْدٰهُمَا) ایت ٢٥ کله چه شعیب علیه السلام لونړے کورته لاړے نو شعیب علیه السلام تپوس ترے وکړو چه نن څنګه وختی راغلئ، نو هغوئی ورته قصه بیان کړه نو شعیب علیه السلام ورته یوه لور را ولیږله او قرآن وائی چه لاړه کښی حیا باندی روانه وه دحیانا کے اوبے حیا ښځے په لاره خپله پته لګی حیاداره ښځے سترګی سکته وی او بے حیا ښځه به کله یو طرف کوری

کله بل طرف ،

(وَقَصَّ عَلَيْهِ) ایت۲۵ دخائي باندي امام رازیؒ لیکي چه کله موسی علیه السلام راغلو نوشعیب علیه السلام ورته روټی کیخوده موسی علیه السلام روټی نه خوارله دلسوورځے وړے وو شعیب علیه السلام ورته اووے چه ولے موسی علیه السلام ورته اووے .لَانَبِيْعُ دِيْنَنَابِدُنْيَانَا ،چه مادااوبه خدائی دپاره و کړی وے زه دانه خرځوم شعیب علیه السلام ورته اووے دهغه عوض نه در کوم داخو خلق چه میلمه راشي هغه ته ور کوی ،

(الْقَوِيُّ الْاَمِيْنُ) ایت۲۶ طاقت ورته خکه وائی چه لس کسانوبو که یواځے وچته کړی وه۔ابن مسعودؓ قول دے چه درے کسان هوښیارتیرشوی دی

(۱)......موسیٰؑ چه هارون علیه السلام باره که نبوت سوال کړے وو

(۲)......شعیب علیه السلام لورچه پلارته ئے بهترینه مشوره ور کړی وه

(۳)......ابوبکرصدیقؓ چه مونږته ئی عمرؓ خلیفه کړو ،

(عَلٰۤى اَنْ تَاْجُرَنِيْ) ایت۲۷ (چه ته مزدورئی واخلے زمانه) چه نفقه جمع کړے خکه چه بیادرسره څه نه وی نو څه به خرچ و کړے،

(تبلیغی واقعه دازمونږ داعمالو کمنی ده) دامعنی نه ده چه په مهر کښی به ماته مزدورئی و کړے،

(فَاَخَافُ اَنْ يَّقْتُلُوْنِ) ایت۳۳ موسی علیه السلام دمرګ نه نه یریدوبلکه دینه یریدوچه مابه مړ کړی اومسئلے بیان به پاتے شی،

(لَّعَلِّيْۤ اَطَّلِعُ) ایت۳۸ دی دامطلب ده،چه زه موسی علیه السلام خدائی معلوموم بلکه خبره ئے داکوله اومرادئے بل څه وو هغه داچه اصل کښی

داموسی علیه السلام سوك نه پریدو نو بنګله ئے جوړه کړه چه زه ورسره دبره طرف نه خبرے کوم داسے نه وی چه سوك راګیری دادی دپاره نی جوړاو له چه الله موسی علیه السلام ته بنګله ورکوی او که نه.

(وَمَاكُنْتَ) ایت ٤٤ دلته نه دوېمه حصه پدیګښی اثباة دمقاصد اربعه و. اول اثباة الرسالة کوی یادی حصه کښی منکرین رسالت ته.

(وَمَاكُنْتَ ثَاوِياً) ایت ٤٥ روانسه شیخ القرآنؒ په وخت دامتحان دارالعلوم دیوبند کښی مولانا اعزازعلیؒ سره)

(وَلَوْلَآ) ایت ٤٧ دی آیت کښی حکمة ارسال الرسل ذکر کوی چه خلقو په الله باندی قیامت کښی حجت نه وی دارنګه مائده، ایت ١٩ فاطر ایت ٢٤ نساء ایت ١٦٥ کښی ذکر کوی په دی آیت کښی نحوی اشکال دے لولاشرطیه ان مصدریه ده مدخول خپل په معنی دمصدر ګرځوی تصیبهم مدخول ان ده پمعنی دمصدر اصابه ده مصیبه فاعل دتصیبهم ده نوعبارت داسے شو، لولااصابة المصیبة بماقدمت ایدیهم داعلت دتصیبهم یعنی اصابة ده فیقولوا فاء عاطفه لولادادویمه هم شرطیه خو په معنی دتندیم تمنّی ورکوی خکه چه په ماضی داخله ده فنتبع داجواب ددویم لولااو داول لولاجواب محذوف لماارسلنك دے اولولاارسلت معنی ارمان چه رالیږلے دوے

(سِحْرٰنِ) ایت ٤٨ یامرادموسی علیه السلام اوهارون علیه السلام دی یاتورات اوقرآن دے،

(فَاْتُوْابِكِتٰبٍ) ایت ٤٩، امام احمدبن حنبلؒ واثق دربار کښی وائیلی وو، ،ایتونی شیئامن کتاب الله وسنة رسوله،

(لَوْاَنَّهُمْ کَانُوْا یَهْتَدُوْنَ) ایت ٦٤ لو تمنیه ده معنی ده کاش که دوئی پوهیدے یاشرطیه کچرے دوئی پوهیدے او جزاء محذوفه ۔ ۱ ،لدفعوا ،العذاب ۔ ۲ یالماعذبوا ۔ ۳ یالمادعواغیر اللّه،

(فَهُمْ لَا یَتَسَآءَلُوْنَ) ایت ٦٦ درے معنی دی،

(۱)...... تپوس به نشی کوے یو بل نه،

(۲)...... تپوس به نه شی کوے دپخوانو په باره کښې،

(۳)...... تپوس به نشی کوے پس دپریوتو په جهنم کښې۔

(وَرَبُّكَ یَعْلَمُ) ایت ٦٩ ربط مخکښې اووے خالق لکل شیئی هو اللّه نودلته وائی عالم بکل شیئی هو اللّه،

(اَفَلَا تُبْصِرُوْنَ) ایت ۷۲ مخکښې آیت خاتمه په افلاتسمعون ،سره وکړه، ۔طلب داچه شپه ده نوقرآن ته غور کیږده که ګورے نه او که ورځ وی نوبیا که قرآن نشے آوریدے غور دکارنه کوی نوراشه وګوره،

(اِنَّ قَارُوْنَ) ایت ۷٦ دقارون بن یصهر بن قاهث بن لاوی بن یعقوبؑ وو دموسی علیه السلام قوم نه وو کله چه بنی اسرائیلو تحریك شروع کړو او څه حده کامیاب شونو داموسی علیه السلام سره مرګرے شودی دپاره چه فرعون کله تباه شي نواقتداربهٔ زهٔ واخلَمُ موسی علیه السلام خوهسے دعوت کار کوی خو کله چه دیته بادشاهي ملاؤنه شوه نوموسی علیه السلام خلاف ئے بغاوت وکړواو کنجرے ښځے ته ئے پیسے اومنلے چه تهمت ولګوه

(فَبَغٰی عَلَیْهِمْ) ایت ۷٦ زیاتے خوپه موسی علیه السلام شوے وو ،نه په قوم نو علیهم ضمیر څنګه راوړی،اصل کښې دوئی مشراونبی علیه السلام باندی

زیاتی ددوئی باندی زیاتی ووخکه دوئی ته نسبت کوی،

(مَفَاتِحَ) ایت ۷۶ مفاتح بفتح المیم جمع دمفتاح ده نه دمفتاح او دی معنے خزانے دی امام رازیؒ او غرائب القرآن کښې ابن قتیبهؒ هم ذکر کوی،

(لَذُوحَظٍّ) ایت ۷۹ برخے خاوندان علماء دی لکه حٰمٓ السجدة ایت ۳۵ خودوئی دنیاپرست ووخکه ورته صاحب حظِ عظیم وے.

(وَیْکَاَنَّ اللّٰه) ایت ۸۲ حسرة دپاره ده او کاف ئی راوړے ده للتاکید. او ان تحقیق دپاره ده داقول دسیبویهؒ ده وَیْلَكَ ان افسوس تحقیق سره او بعض وائی چه وَیْكَ بمعنی ویلك ده او لام خلاف القیاس حذف شوے ده تخفیفاً نومعنی داده هلاك شے،

(یَبْسُطُ الرِّزْقَ) ایت ۸۲ سلطان عالمگیر (چه هغه حکم سره فتاوی عالمگیری لیکلی شوی ده) خپل وزیر خزانه ته حکم وکړو، چه خزانه وُتله یعنی سره سپین نوهغه ورته شپږمیاشتے داسے مهلت نه اُووے نوهغه ورکړو کله چه وخت پوراشونوتپوس ئے وکړو، نوهغه ورته وے، چه لږنور مهلت راکړه تردے پورے دوئی خزانه نوه تللی خو کله چه انگریزراغلو نوهرڅه ئے لوټ کړل،

(لَرَآدُّكَ اِلٰی مَعَادٍ) ایت ۸۵ سورة کښې تسلی ده نبی علیه السلام ته حالك کحال موسی علیه السلام لکه څرنگه موسی علیه السلام پردی ملك ته لاړو ته به هم ځے لکه څرنگه موسی علیه السلام په یره باندی لاره کښې تلو دارنگه ته به هم ځے، لکه څرنگه موسی علیه السلام پردئی ملك کښې آبادشو دارنگه ته به هم آبادشے، (لکه څرنگه موسی

باندی تهمت ولګیدو/دهغه صفائی وشوه.دارنګه ستابی بی باندی به تهمت لګی/دهغه صفائی به وشی.

(ظَهِيرًا لِّلْكٰفِرِيْنَ)ایت٧٦داشان موسی علیه السلام ایت١٧کښی هم وائیلی ؤو اودی کښی نبی علیه السلام هم وائی چه لکه څرنګه موسی علیه السلام وے چه زه دمجرمانو ملګرے نه یم ،دارنګه ته هم مه کیږه.

(داربط دآخراوّل سره دے،

(كُلُّ شَيْءٍ هَالِكٌ اِلَّا وَجْهَهٗ)ایت٨٨دلته غیرمقلدنه په کفردتأویل تپوس وکړه چه تأویل څنګه دے،

تصحیح اعظم طارق بدخشانی،

بسم الله الرحمٰن الرحیم،

سورة العنکبوت

مکی سورة دے په نزول کښې ایت ۸۵ نمبرپس دسورة روم نه نازل شوے ده

روابط السورة العنکبوت

ف ۱......مخکښې ابتلاء دانبیاؤ نے ذکر کړه نودی کښې ابتلاء دمؤمنانو ذکر کوی

ف ۲......مخکښې تسلی وه نبیﷺ ته نودی کښې تسلی ده مؤمنانو ته،

ف ۳......مخکښې نفی دشرك فی الدعاء وکړه نودی سورة کښې ترغیب ورکوی بیان دمسئلے ته،

ف ٤......مخکښې دفرعون هلاکت ذکروشو نودی سورة کښې دنورو هلاك شوو حالت ذکر کوی،

ف ٥......مخکښې سورة کښې منکرینو دطرف نه شبهات وونودی سورة کښې تباهی دمنکرینو ذکر کوی،

ف ٦......مخکښې ایت ۱۵ کښې اورے چه عمل د قبطی عمل دشیطان وونودی سورةایت ۳۸ کښې وائی چه صرف دهغه نه بلکه دعادیانوثمودیانوهم ؤو،

امتیازات السورة العنکبوت،

ف ۱......داسورة ممتازدے په بیان دامتحانات ثلثه،

ف ۲......داسورة ممتازدے په دفعے دوسوسودشیطان،

ف ۳......دارنګه داسورة ممتازدے په ذکر ددمُدّے بیان دنوح علیه السلام،

ف ٤......دارنګه ممتازدے په مثال دعنکبوت باندی،

دعوى السورة العنكبوت

ابتلاء المؤمنين وهلاك الجاحدين بيانوى.

خلاصة السورة العنكبوت

اول كښى تشجيع بيانېږى امتحانات اوورسره وخت دامتحان كيفيت دامتحان ذكر كوى.

(۱)...... پرامتحان نفس دطرف نه په ايت ٦ كښى ومن جاهدالخ نفس به درته وائى چه مزه، سترې شوې ئې لږه دمه وكړه آرام وكړه څه ته مسئلې بيانوې هسې خان ته جهګړې جوړاوې

(۲)...... دويم امتحان دمورپلاردطرف نه په ايت ۸ كښى مورپلاربه درته وائى داڅه نوى نوى مسئلې بيانوې، اوقرآن ته به فلانى خالى ته نه څې.

(۳) .. دريم امتحان دناكاره ملايانونه په ايت ۱۲ كښى ته چه وطن ته لاړشې. نوسپين ږيرى ملايان به درته وائى پرېږدوه داڅه كوې داخلق نه منى موږ دامسئلې بيان كړى دى دارنګه وائى به چه موږ تجربه شوى ده ته به ورته وائى او كنه او الله قرآن كښى دارنګه وائى هغه به وائى ته څه وائى موږ څه دخان خبرې نه كوو داخوقرآن مينځ نه كوو موږ دتوتاڼروپاڼړى خونه دى وائيلى ته ورته وايه، آؤ، قرآن وائى، وقال الّذين كفروا، داكافرملايان به وائى داددې امتحانات به كېږى خو څنګه كيفيت ئې څه ده څرګ به صرف څېړه دركوى نوپېدى واقعه دابراهيم عليه السلام ذكركوى په ايت ١٦ كښى اوقوم ورسره څه كوى نوهغه ايت ٢٤ كښى قالوا احرقوه الخ خان به اورته

وغور خوے که او رته خان رسولے شے نو بیامسئله شروع کړه وخت دامتحان خومره ده نور اشه نوح علیه السلام واقعه په ایت ۱٤ کښی چه که نهم نیم سوه کاله دِ عُمُروی نو بیابه هم تر آخره مسئله بیانوے او آخر دفعه دشبهاتو دشیطٰن کوی،

حل مشکلات السورة العنکبوت

(لَا يُفْتَنُونَ) ایت ۲ .امتحان ضرور آخلي دسره دوست دشمن معلومیږی يوشاعر وائی

جزى الله الشدائد كلّ خير   عرفتُ بها الصديق من عدوى

(مَنْ جَاهَدَ) ایت ۲ .اول امتحان دنفس نه مدارك معنى كوى،

جاهد نفسه بالصبر على الطاعات او الشيطٰن بدفع وسأوسه،


بين الناس من طريق علي، ومن طريق ابن عمر، ومن طريق ابي جعفر الباقر مقطوع الاسناد، او بيا ابو يو باندى جرح كوى،

واماطريق علي...... واماطريق ابن عمر...... واماطريق ابي جعفر الباقر...... او بيا وائى، وهذاحديث لاشك انه موضوع وجمهور الرواة في الطرقات الثلاث مجاهيل. وفيهم ضعفاء وكلهم كانت في معزل من حق.

اصل کښې دابتداء ځنګه وشوه کله چه د ۲ دویمه صدی وه برانقه مسلمان شو، نوهغوئی اول آتش پرست ؤ هغوئی به دوه عیدونه مناؤ کول یو نوروز دوئیم مهراجان یو دوړی په وتودوئیم دژمی په وتو نودوئی اسلام راوړ ونه بعد بادشاه سره خائے ؤموندو کله چه ۱۵ شعبان راغلو نودوئی په کوتو دیوے بلے کړے نوچونکه ،الناسُ على دين ملوكهم،و،رو،رو ،داعمل خلقو کښې راغلو او بیا وروسته خوشه تارو ملایانو کتابونو کښې هم ولیکل او نن زمانے ملاالبرهان کښې هم لیکلی دی،او نسبت ئے مولاناحسین علیؒ ته کوی په دی باندی حافظ ابن کثیرؒ همدی خائی کښې رد کوی،

(بِدُخَانٍ مُّبِيْنٍ) ایت ۱۰ دلته وائی چه دخان نه دخان دیوم القیامة مراددے لیکن اصل کښې مرادقحط ده په اهل مکه چه کله نبی علیه السلام هجرت وکړونو ۷،اووه کاله پی مسلط ؤ،

(اَنْ اَدُّوْۤا اِلَيَّ عِبَادَ اللّٰهِ) ایت ۱۸ (۱) اوله معنیٰ ادوامعی احکام الله یاعبادالله

(۲)......دوئیمه معنیٰ اتر کو الی عبادالله،

(۳)......دریمه معنیٰ توجهوامعی الی عبادة الله،

(قَوْمُ تُبَّعٍ) ایت ۳۷ داخوارلس بادشاهان دیمن ولاوؤ،یو بل پسے آخری،

بادشاه چه هغه بیاخراسان وغیره علاقے فتح کړی وے کله چه په مکه راغلو نویهودو علماء همدی سره ؤونو هغوئی ورته وے چه دخائے باندی حمله مکوه دادالله کورده نوپریږدو ل ئے کله چه مدینه ته لاړو نویهُودعلماء حملے نه منع کړو چه دلته به آخری پیغمبر راځی نوهلته بیاهغه اشعاراُووے (سورة سبا،ایت ۱۵ لاندو کوره)او بیانبی علیه السلام د ۷ اوو سوو کالو وروسته دهغه بادشاه نه راغلو،

. . . .

. . . . . .

بسم الله الرحمن الرحيم

سورة الجاثیه

مکی سورة ده په نزول کښې ٦٦ پس د سورة دخان نه نازل شوے دے

په دې کښې بله شبهه د مشرکینو چه مونږ د سابقینو په دین یو، نو جواب

ایت ١٨ کښې اوّل ترغیب الی القرآن ورکوی او بیا دلائل ذکر کوی په

اثبات التوحید باندې،

حل مشکلات السورة الجاثیه

(سَوَآءً مَّحْيَاهُمْ وَمَمَاتُهُمْ) ایت ٢١ دلته استفهام انکاری ده،

۔ ١ او ضمائر دواړه راجع کافروته۔ ٢ دواړه مؤمنانوته۔ ٣، اوّل مؤمنانوته

دویم کافروته ۔ ٤ یابرعکس،

(وَمَايُهْلِكُنَآ اِلَّا الدَّهْرُ) ایت ٢٤ دهریان چه کله پیداشونو اوّل بادشاه ئے حُکم

وکړو، چه فساد د ښځې او سړی نه راځی نو دی کښې اشتراکیت وکړئی

نونکاحونه ختم شو او بیا نتیجه دا راووته چه ماشومانو به لتے تکولے نو هغه ئې

قتل کړو،

دوئم راغلو نو هغه اووے، چه فساد د مال نه راځی نو اشتراکیت پکار ده

نو یو سړی به کار وانده وکړو، نو بل به مفته کښې شریك شو نو هر سړی

کارپریښو دلو او دا دهریانو ولیدل او ختم شو حدیث کښې راځی،

لَاتَسَبُّوالدَّهرفَاِنّی اَنَاالدَّهرُ، نو ابن حزمؒ په دې کښې دهوکه شوے ده چه دهر

دالله نامه ده اصل کښې حدیث مطلب داده چه انّی اناالدَّهرای اناخالق الدهر

(اِنْ نَظُنُّ اِلَّا ظَنًّا) ایت ۳۲، اعتراض دلته خواستثناء دځپل نفس نه راغلی ده جواب، دی باندِ امام مبرّدؒ (دا ډیرلوئی عالم تیرشوے ده دوئی وائی مبرّد پوستین والا، بلکه دامبرِ ددے شلوُنکے اودی به هم مقابل کلام شلول) ډیرښه کلام کړے دے، هغه وائی چه دلته استخدام دے اوبیاطریقه داستخدام دابنائی چه ظاهرلفظ نه یوه معنی واخلے اوضمیرنه بله معنی واخلے خودا صحیح نه ده، لکه وائی، اِذانزل السماء بارض قومٍ رأنیاهُ، بلکه استخدام دیته وائی چه یوه لفظ دوه معنے وی، یوځائی کښې یوه معنی بل ځائی بله معنی واخلے نودلته ظَنَّ په، اِنْ نظنّ کښې یقین ده اودویم ظنّاً پخپله معنی ده اودا اوروسته نحن مستیقین بمعنی دتاکیددے،

(وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ) ایت ۳۷، اوّل دسورة کښې وئیلی وو، مِنَ اللّٰهِ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ نودی سورة اختتام هم په دَی کوی،

بسم اللّٰه الرحمٰن الرحیم

سورة الاحقاف

مکی سورة ده په نزول کښې ٦٦ پس دسورة جاثیه نه نازل شوے دے، دَدِی ځائی پورے چه کومه طریقه باندی سورتونه پراته دی همدی طریقے سره راغلی دی، اشاره دیته چه مؤمنه اول ایمان راوړه بیاسجده اللّٰه ته کوه پدی خبره ټول انبیاءً شوری ده چه ایمان راوړے نوسجده کوه هسے فضول خبرے مکوه کښې هسے دزخرف (ګرګټ) غوندی رنګ به نے اوډخان به شے اوجاثیه (پرمخ) به پریوځے بیاداحقاف (شګوپهٔ ډیران) به ولاړوے هیڅ

قراربهٔ ذِنه وی. سورة مؤمن کښې مسئله دَتوحیدوه اول ایت ۳بیاایت ۱٤ بیاایت ٦۰ بیاایت ٦۲ بیاایت ٦٤ کښې حٰمٓ السجدة کښې په توحیدمسئله خلوراعتراضونه شوری کښې نورے درے شبهے دمشرکینوزخرف دخان جاثیه هریو کښې یوه یوه شبهه دمشرکینوسره دجوابونو(تفصیل سره)ذکر کولے اوس سورة احقاف کښې بله شبهه دمشرکینوچه مونږئے رامددکوو اولمن م نیولی ده داخکه چه دوئی زمونږ کارسرته رسوی،نوجواب په ایت ۲۸ کښې چه عادیانوهَم خُدایان نیوَلی وُونوهغوئی ئے کوم مَددو کړو،

حل مشکلات السورة الاحقاف

وفی اوّلُ السورة ترغیب الی القرآن ثم ردّالشرك،

(وَمَنْ اَضَلُّ)ایت ۵.........یوسالك وائی،

هرچه خواهی ازخدا خواهی ای پسر نیست دردست خلائق خیروشر

هرکه خواند غیرحق را،اپسر کیست درعالم ازاوگمراه تر

(وَشَهِدَشَاهِدٌ)ایت ۱۰ خلق وائی دایهودی مکه ته راغلے وُو،لیکن داقول ضعیف دے اصل کښې مراددَدِینه موسی علیه السلام دے

(لَوْكَانَ خَيْراً)ایت ۱۱،ابن کثیرؒدی آیت لاندوائی،

وَاَمّااَهْلُ السُّنَّةِ وَالْجَمَاعَةِ فیقولون کل قولٍ وفعلٍ لم یثبت عن الصحابةؓ فهو بدعةٌ لانّهٗ لوکان خیراً لسبقوناالیه،لانّهم لم یترکوخلصةً من خصال الخیرالاوقد بادروا الیها

(حَمَلَتْهُ اُمُّهٗ)ایت ۱۵ داحمل اووضع چه ذکرکوی نوبیاء ۲ دوه دلے بنائی،

او له په قال رَبِّ اوزعنی، سره دویمه والّذی قال لوالدیه ایت ۱۷ سره او نور خاص کول چاپوړے داصحیح نه دی(وحمله)ایت ۱۵ ددی معنی پورته کول په لاس کښی لکه مریم ایت ۲۷،

دارنګه الفیه کښی شعر ذکر کوی،

یالیتنی کنتُ صبیاًمرضعاً　　تحملنی الزلفاء حولاًواکتعُ

اذابکیت قبلتنی اربعاً　　اذاضللتُ الدهر ابکی اجمعُ

(وَاذۡکُرۡ اَخَا عَادٍ)ایت ۲۱ دی ځائی نه جواب دشبهے دمشرکینو ذکر کوی، په واقعه دعادوسره چه هغوئی غیرالله ته ځان قریب ګڼړلے وواو وئیل ئے چه دوئی په ځنګه، کښی زمونږخیر ده خوهغوئی ته څه فائده ئے ورنکړه،

(وَاِذۡ صَرَفۡنَآ اِلَيۡكَ)ایت ۲۹ نبی علیه السلام دعکاس میلے نه راتلونووادئی نخله کښی سَحروخت کښی مونځ کول نونصیبین علاقے پیریان راغلی دی اوقرآن ئے آوریدلے ده قصه داسے ده،چه پیریانو کله آسمان ته تلل بندشول نومشرته راجمع شوچه ځنګه چل ده هغه ورته اووے چه زمکه باندی یاشر راځی یاخیر اوزمکه کښی خواره شول اوګرځیدُو،

(مِنۡۢ بَعۡدِ مُوۡسٰی)ایت ۳۰ موسی علیه السلام نه وَلے وائی یادی وجے نه چه دوئی دهغه په دین وویاهغه مشهوروویادوئی ته دعیسی علیه السلام پته نه وه

بسم الله الرحمٰن الرحیم

سورة محمّد

مدنی سورة ده په نزول کښی ۹۵ پس دسورة حدیدنه نازل شودی دے

روابط السورة محمد

ربط ۱ .... مخکښې توحيدثابت شونو چه اوس هم نه مني نو دی کښې ترغيب الى الجهاد،دے

ربط ۲ ..... مخکښې دعاديانو ذکر کړه چه غيرالله ئے حاجت روانيولی ؤو،هغوئی خلاص نه کړل نو دی سورة کښې وائی چه ستاعمال صالحه دنجات ذريعه ګرځی،

ربط ۳ ..... مخکښې تباهي دعاديانوئے ذکر کړه نو دی کښې اصل مسئله ښائی چه په هغه تباه شول،

ربط ٤ ..... مخکښې آخر کښې ترغيب فی التبليغ وو،هذابلغٌ سره نو دی سورة مينځ مينځ کښې ترغيب فی التبليغ ورکوی،

ربط ٥ ..... مخکښې شبهات دمشرکينوئے ذکر کول نو دی کښې ترغيب الى الجهاد

ربط ٦ ..... مخکښې کافروباره کښې اووے چه جهنم ته به دننه کړے شي نو دلته وجه ذکر کوی،الّذين كفروا......تا......احبط اعمالهم چه وجه ئے بربادوالے دَاعمالو ده،

ربط ۷) ..... مخکښې عاديانو ذکرو کړو چه انبياءؑ دشمنی کړی وه نو دی سورةايت ۱ کښې راځی چه دشمنی ئے وکړه نواعمال ئے بربادددی،

ربط ۸ ..... مخکښې اووے فهل يهلك الاالقوم الفٰسقون،نو دی سورة کښې فاسقان ښائی په ايت ۱ کښې ،الّذين كفروا،سره،

امتيازات السورة محمد

ـ ۱ ...... داسورة ممتازده په ذکر دخلورقسمه وېلو (نمبروئو) باندې ایت ۱۵ کښې

دعوى السورة محمّد

ترغیب الى الجهادواحوال المنافقین(دادسورة حجرات او فتح ټولو دعوى ده)

تقسیم السورة محمّد

داسورة ـ ۲ دوه بابه ده اوّل کښې ایت ۱۹، آیتونه پدیکښې ترغیب الجهاد اوبیامسئله دتوحید پرے تفریع کوی،فاعلم انه لااله الاهو

دویم باب کښې احوال المنافقین بیانوی،

(أَضَلَّ أَعْمَالَهُمْ) ایت ۱ دمبتدع اعمال بربادده،انسؓ وائی لایقبل الله لهم دعاءً ولاعبادةً (ضیاء النورو ګوره)

(حَتَّى تَضَعَ) ایت ٤ (تردے چه کیږدوئی اهل حرب سامان دشرك)مسئله هم داده چه کافرمسلمانانوملك کښې اوسیدے شی خواسلیحه به ورسره نه وی

(وَيَقُولُ الَّذِينَ آمَنُوا) ایت ۲۰ دلته نه دوېمه حصه پدی کښې احوال المنافقین

(وَأَنتُمُ الْأَعْلَوْنَ) ایت ۳۵ ګوره کوم سړے چه سستي ونهٔ کړی نوـ ۳ درے تمغے ورته ملاویږی،

ـ ۱ ،انتم الاعلون،ـ ۲ والله معکم ـ ۳ ولن یترکم اعمالکم،

....

....

بسم اللہ الرحمٰن الرحیم

سورة الفتح

سورة فتح مدنی ده په نزول کښې ۱۱۱ پس دسورة جمعه نه نازل شوے ده

روابط السورة الفتح

ف ۱ ......مخکښې بیان دجهادو کړو نودی کښې بیان دفتحے کوی،

ف ۲ ......مخکښې دمنافقانو ذکروو نودی کښې دمؤمنانو مثال ذکر کوی ،

كَزَرْعٍ اَخْرَجَ،چه منافقان که ورانے کوی نویوه ورځ مؤمنان به مضبوط شی

ف ۳ ......مخکښې مسئله دتوحیدذکر کړه، فاعلم انّه لا اله الاّهو،نودی سورة کښې

ترقی، فسبّحوه بکرةً واصیلاً،

ف ٤ ......مخکښې پیغمبرته اووے ،واستغفر لذنبك،نودی کښې وائی چه فتح م در کړه

بوج م درنه لرے کړو،

ف ۵ ......مخکښې حکم دَجهادوونودی کښې مجاهد ینو حالت ذکر کوی اومثال

(کزرعٍ اخرج شطئه)اوّل کمزوری وی بیاوروسته مضبوط شی،

امتیازات السورة الفتح

ف ۱ ......داسورة ممتازدے په بیان،دبیعة الرضوان باندی،

ف ۲ ......دارنګه داسورة ممتازدے په بیان دفتوحاتو،

ف ۳ ......دارنګه داسورة ممتازدے پدی خبره چه صحاباؤ سره کلمة التّقوٰی لګیدلیده

ف ٤ ......دارنګه داسورة ممتازدے په مثال(کزرع اخرج شطئه) سره،

دعوی السورة الفتح

البشارة لمؤمنين

حل مشکلات السورة الفتح

(اِنَّافَتَحۡنَالَكَ فَتۡحًامُّبِيۡنًا) ایت ۱ داسورة د٦هجری نه وروسته بعدصلح الحديبية نه نازل شوی ده نبی علیه السلام چه۷هجری باندی مکے نه واپس شو اوبیا اتم۸ باندی فتح مکةؔ وشوه نو دلته فتح نه مرادفتح مکةؔ ده او صیغه دماضی ئے چه راوړی ده دالتحقق الوقوع، یـ ۲ یامرادصلح حدیبیه ده اوهغے نه تعبیربه فتح کوی ځکه چه داهم فتح ده یووخت داسے وو، چه نبی علیه السلام ئے بالکل نه پریښودواویووخت داسے راغلوچه کافرئے پریږدی اومیناً، ورته ځکه وائی چه کافروتاسویو کال واپس کړونوبل کال نه چه درته وائی چه راشه نوداهم فتح ده ځکه چه اوّل ئے بالکل نه منل یامرادترے فتح دبلادو ده اوفتحامعنی مونږفیصله کړی ده ددی،

(لِيَغۡفِرَلَكَ) ایت ۲ که داپخپله معنیٰ شی نوماقبل سره ربط نه معلومیږی ځکه چه فتح مو درکړه نو ښښنه درته کوم ددی څه مطلب ده، اصل کښی دلته لِيَغۡفِرَ بمعنیٰ آرزولو ده نوبیاصحیح ده چه فتحه مو درکړه چه بوجونه درنه واړوم

(يُبَايِعُوۡنَكَ) ایت ۱۰ دابیعة الرضوان وه بیعت پدی خبره ووچه عثمانؓ دشهادت خبرراغلوچه کفّارمکةؔ شهید کړو، نوهغه دپاره ئے بَیعت آخیستو نونبی علیه السلام خپل لاس بل کښی کیښودواواووے هذا یدُعثمان،

(تَحۡتَ الشَّجَرَةِ) ایت۱۸ حضرت عمرؓ یوځل دحج خلق ئے ولیدل چه منډے واهلے نوعمرؓ تپوس وکړو چه چرته ځی داخلق چاورته اووے، داشجرة

الرضوان ته خی یعنی کومه ونه لاندچه بیعت رضوان شوے وو اوهغه لاند
کینی عمرؓ په هغه باندی یو کال خلق بند کړو اوونه ئے دبیخ نه کټ کړه چه
بیا کله خلق په هغه لاړو نوونه نوه نوولے داتبرك نه وو چه عمرؓ ختمول داخه وو
دارنګه عمرؓته یو ګوزنرخبرورالیږل چه زما علاقه کښی یوه جته راوتی ده اوهغه
سالمه ده خلق وائی، داپیمغیرجُته ده اوس څه وکړو، عمرؓ ورته اووے چه
شپے ګنړ قبرونه اوباسی او بیایوه قبر کښی هغه جته (ډهانچه) خخه کړه نوپته به
ونه لګی داګوره دی دپاره چه شرك اډه جوړه نشی،
(وَّاُخۡرٰی لَمۡ تَقۡدِرُوۡا) ایت ۲۱ نورغنیمتونه بیاورته الله جل جلاله عمرؓدور
کښی ورکړل دقیصراو کسرٰی روم ۲۴ لاکه مربّع میل زمکه فتحه شوی وه
(لَقَدۡ صَدَقَ) ایت ۲۷ نبی علیه السلام خوب لیدوه چه زه مکه ته فاتح نوا څم
اوهغه بیارشتیاشو مکه فتح شوه نو هغے ته اشاره کوی،
(مُحَلِّقِیۡنَ رُءُوۡسَکُمۡ) ایت ۲۷ ام المؤمنین حضرت عائشهؓ وائی، چه نبی علیه
السلام اتم ۸ کال دهجری کورته راغلووهوغضبانٌ (نبی علیه السلام عمره
وکړه عمرے نه واپس شو) نوماورته اووے، چه ولے غصه ئے، هغه اووے چه
صحابه سرونه نهٔ خریئ (سر کے بالوں کو نہیں مونڈواتے ہیں) نوماورته اووے چه ته
وخریه نودوئی به هم وُخرِیی، نواکثرصحاباؤ سرونه کم کړی ؤوبیانبی علیه
السلام باهرراووتواودعاء ئے کوله رحم الله المحلقین منکم صحاباؤ به وے
والمقصرین دریم ځل بیانبی علیه السلام رحم الله المحلقین منکم
والمقصرین اووے، دادرے ځله ورته ولے دعاکوله داځکه چه عربو دارسم
وو، چه هغوئی سرونه نه خریل نودادرے دعاهغه چاته ده چه رسم ئے مات

کړو،

(مِنْ اَثَرِ السُّجُوْدِ) ایت ۲۹ اخرج البخاری فی تاریخه هی بیاض یغشی وجوههم یوم القیامة اونوریظهرمن وجوه العابدین فی الدنیا(قاله المدارك)

(كَزَرْعٍ) ایت ۲۹ دمؤحدمثال فصل سره ورکوی چه فصل کاروانده وکړے نوهغه اول دشمن چینجی وی(په هغه کښې هډو کړے نه وی) دارنګه مؤحد اول دشمن آخوندوی(په هغه کښې هم هډو کړے نه وی)

بیافصل چه لږ غټ شي نودویم دشمن دهغه چرګ وی دارنګه دمؤحددویم دشمن شیخ وی خان نه به ئے شیخ جوړ کړے وی،

بیادریم دفصل دشمن چه هغه لږ نور غټ شي نوبیابیزه وی،

(بیزه وائی،به یو ډکی مرېږم شپونکے توباوَمُ قصده اوزهٔ یم بیزه مسته) دارنګه مؤحدبل دشمن ملائکه بیزه وی،

څلورم چه فصل لږ نورلوئی شي نوبل دشمن ئے غوائی وی خپل سروړسره مخی دارنګه مؤحدبل دشمن پیروی لکه غوائی،

پنځم چه کله غټ غټ شي نوبیادشمن دهغه اوښ وی دارنګه دمؤحددشمن حاکم انسپیکټروی خو کله چه غټ وچت شي نوبیادوئی دپاره خیرخواه شي نوخلق بیابیزه غوایانو اوښانودپاره ترے پانړی راوړی اودارنګه دا اشیاء دهغه سورے لاندپراته وی اودارنګه چرګ پکښې بره ناست وی د ګیدړنه خان ساتی دارنګه مؤحدنه هم دوئی فائده آخلی اوجماعت مضبوط شي،

ماشاخ بلندیم پرازمیوه توحید هرراه گزر یکی سنگ زند عارنداریم

۔۔۔۔۔۔

بسم اللہ الرحمٰن الرحیم

سورة الحجرات

مدنی سورة دے په نزول کښی ۱۰٦ پس دسورة مجادله نه نازل شوی دے

روابط السورة الحجرات

ف ۱ ...... سورة محمد کښی بیان دجهادوشو فتح کښی بیان دفتح وو نودابه کله وی نودابه هله وی چه تاسو منظم وی، نودی سورة کښی قواعددتنظیم ذکر کوی

ف ۲ ...... مخکښی مجاهدینو حالت ذکرشواودهغوئی مثال کزرع الخ سره نودی کښی قواعدللمجاهدین بیانوی،

ف ۳ ...... مخکښی ۲٦ کښی وئیلی وو، والزمهم کلمة التقوٰی نودی سورة ایت ۱۳ کښی وائی، اِنَّ اَکْرَمَکُمْ عِنْدَاللّٰهِ اَتْقَاکُمْ مخکښی صحاباؤتعریف په یو حیثیت دے نودی کښی په بل حیثیت کوی،

امتیازات السورةالحجرات

ف ۱ ...... داسورة ممتازدے په آداب سبعه للتنظیم،

دعوی السورة الحجرات

آداب سبعه لأصلاح المعاشرة وکل واحدبلفظ یٰاَیُّهَاالَّذِیْنَ اٰمَنُوْا،

ف ۱ ...... اول آدب ایت ۱ کښی
ف ۲ ...... دویم آدب ایت ۲ کښی
ف ۳ ...... دریم آدب ایت ٦ کښی
ف ٤ ...... څلورم آدب ایت ۹ کښی
ف ۵ ...... پنځم آدب ایت ۱۱ کښی
ف ٦ ...... شپږم آدب ایت ۱۲ کښی
ف ۷ ...... اووم آدب ایت ۱۳ کښی،

حل مشکلات السورة الحجرات

(اَكْثَرُهُمْ لَايَعْقِلُوْنَ)ایت ٤ امام رازیؒ دلته وائی چه کلّ نه دلته تعبیرپه اکثر سره کوی یعنی ټول بے عقله دی.

(اِنْ جَآءَكُمْ فَاسِقٌ)ایت ٦ دلته خلق وائی چه دینه مرادولیدبن عقبه، دادعثمانؓ تربورانونه ووا وقریشی ووچه هغه نبی علیه السلام دبنی المصطلق نه زکوة آخیستودپاره ولیږلونوبنی المصطلق سره دَ دُوئی دشمنئی تیره، شوی دجاهلیت په زمانه کښې کله چه دالاړونو بنی المصطلق ددوئی پخیر راغلئی ته راوتی وُوولیدبن عُقبه چه دوئی ولیدل نوسوچ ئے وکړو،چه دوئی لکه زماقتل کولوته راوتی دی نودراواپس شواونبی علیه السلام ته ئے حال اووے،نبی علیه السلام دحملے کولودپاره فوج تیار کړونودا آیتونه راغلو خوداخبره یوخوجهونه غلطه ده،

(١)......یوه وجهه داده چه مسنداحمدصفحه ٤/٣٢ ،او ابو داؤ دصفحه ٢/٥٧٦ نه روایت دے چه نبیؐ علیه السلام فتح مکه په وخت کښې خلقوواړهٔ هلکان راوړل ولیدبن عقبهؓ نه روایت دے هغه وائی،زه هم راوستلے شوم نونبی علیه السلام زماپه سرلاس تیرنهٔ کړو،ځکه چه زماپه سرزعفران لګیدلی وُو،

نوروایت نه دامعلومه شوه چه ولیدن عقبه اتم ٨ کال دهجری یعنی فتح مکه وخت کښې وړوکے ماشوم وو،اودزکوٰة حکم شپږم کال دهجری کښې راغلے دے نودینه خودامعلومیږی چه ولیدبن عقبهؓ شپږم کال غټ وواواتم کال بیاوړوکے شو،

(۲)...... دریمه وجهه داده چه په تاریخ کښې دا پېښه چه جاهلیت کښې دبني المصطلق او قریشو مینځ کښې جهګړه شوې وې او ولید بن عقبهؓ خود قریشونه وو.

(۳)...... دریمه وجهه داده چه دا آیت عام دے په اعتبار د قاعدے دنحوے ګوره خلق وائي چه نکره کله په سیاق دنفي کښې واقعے شي نو عموم فائده کوي خو دا قاعده هم پوره نه وائي بلکه اصل قاعده داده چه نکره کله په سیاق دنفي کښې په معرض دشرط کښې واقع شي نو هم عموم فائده کوي.
(لکه دادویمه قاعده عبدالرسول ذکر کړې ده او امام رازيؒ هم دېته اشاره کوې)
لکه دلته واقعه ده فاسق نکره په سیاق داثبات په معرض دشرط کښې.
نو فاسق نه عام فاسق مراد ده خاص کول نه دی صحیح.
(قَوْمَ) ایت ۱۱ دېنه مراد سړي دي لکه مختصر المعاني کښې شعر راخي (نسآء مقابل کښې چه قوم ذکر وشي نو مراد سړي وي لکه دلته قوم من قومَ ولانسآء من نساء سره قوم مقابل دنسآء کښې ذکر کړده)
(وَلَاتَنَابَزُوْبِالْاَلْقَابِ) ایت ۱۱ دلته لقب سوء نه منع کوي او بل ځائي قرآن کښې وائي اَنْ جَآءَہُ الْاَعْمٰی نو دلته اعمٰی ولے وائي جواب، دا ترحم دپاره وائي،
(وَلٰکِنْ قُوْلُوْا،اَسْلَمْنَا) ایت ۱٤ په ایمان او اسلام کښې خلق ډیر فرقونه کوي خو لنډ داده چه ایمان ابتداء دزړه نه کیږي او انتهاء ئې په ژبه راځي او اسلام ابتداء دژبے نه کیږي انتهاء ئې په زړه راځي،

(اِنَّ اللّٰهَ یَعۡلَمُ) ایت ۱۸ نفی علم غیب عن غیره تعالی ده، او اثباة لله ده
دا خکه چه آداب ئے نورته بیان کړ ونودی سره ئے وجه اووے، خکه چه ته به
وائی چه څه وجے نه دابیانوی، نو الله دانسان په معاشره پوه وو خکه ئے بیانوی

بسم الله الرحمٰن الرحیم

سورة قٓ

مکی سورة ده په نزول کښې ۴۳ پس دسورة مرسلات نه نازل شوی دے،

روابط السورة قٓ

ف ۱ ...... مخکښې قواعد دپاره دَ تنظیم ذکروشونودی کښې داذکر کوی چه تنظیم جوړ کړه قیامت کښې به فائده درکوی،

ف ۲ ...... مخکښې ایت ۱۳ کښې اووے اِنَّ اَكۡرَمَكُمۡ عِنۡدَاللّٰهِ اَتۡقَاكُمۡ، نودی کښې مرتبه اومنزل دتقی ښائی (اُدۡخُلُوۡهَا بِسَلٰمٍ)

ف ۳ ...... مخکښې آخری کښې وئیلی وو، ان الله یعلم غیب السمٰوٰت، نودی سورة ایت ۱۶ کښې ترقی چه زمکه آسمان پریږده ستاپه زړه هم پوهه ده،

دعوی السورة قٓ

اثباة التوحید واثباة القیامة و الأدلة علیه،

نبی علیه السلام به داسورة اکثر عیدونو اوجمع مونځونو کښې وئیل داولے دی کښې دابناء ئیله چه ستاسو لکه څرنګه راپاسیدو او مجلس طرف ته یاجمع او عیدمونځونوته روان شو، هرخوك خپل لباس کښې وودارنګه قیامت کښې به هرسړے كذالك الخروج روتل وی،

او نه عمل جامے کښی او دبدعمل جامے کښی او نه عقیده جامه کښی
او بدے عقیدے جامے کښی به روان وی۔

حل مشکلات السورة قٓ

(كَذٰلِكَ الْخُرُوْجَ) ایت ۱۱ ،امام رازیؒ وائی چه اکثر اثبات القیامة په امثلة سره
کوی۔

(اَصْحٰبُ الْاَيْكَةِ) ایت ۱٤ ځوک وائی چه اصحٰب الأیکة او اصحٰب الرّسّ
یو دی او ځوک وائی ،نه جدا جدا دی۔

(مِّنْ خَلْقٍ) ایت ۱۵ ګوره دآیت کښی اوّل ،باالخلق الاوّل،معرفه راوړی،
بیادلته من خلق نکره وائی داولے ،جواب دادے چه الخلق الاوّل نه مراد
اول پیدائش دانسان قیامت کښی ده او داټوله دنیامنی نومعرفه ئے راوړه
او،من خلق جدید،نه مراد دویم پیدائش دانسان قیامت کښی دے او داټول
نه منی نوځکه ئے نکره راوړه۔

(اَلْقِيَا) ایت ٤ ۲ تثنیه تکرار دپاره دے ،یعنی اَلْقِ اَلْقِ،

لکه اشعارو دعرب کښی راځی

قِفَانَبْكِ مِنْ ذِكْرٰى حَبِيْبٍ وَمَنْزِلٖ   بِسِقْطِ اللِّوٰى بَيْنَ الدُّخُولِ فَحَوْمَلٖ

(هَلِ امْتَلَاْتِ) ایت ۳۰ حدیث کښی راځی ،اللّٰه به جهنم ته وائی ډک شوے هغه
به وائی نه،نوبیاروایت کښی راځی ،حَتّٰى يَضَعُ الْجَبَّارُ قَدَمَهٗ، ددی روایت
محدثین ګڼړ توجیهات کوی ،یو داچه اللّٰه به ښپه کیږدوئی دویم داچه قدمه
نه مُراد تَحْتَ الْقَدَمُ دے یعنی ذلیله خلق یعنی شیطٰن مراددے چه هغه ورته

وغورخوی نوجهنم به وائی بس بس،

بسم اللہ الرحمٰن الرحیم

سورة الذّٰریٰت

مکی سورة ده په نزول کښې ٦٧ پس دسورة احقاف نه نازل شوی دے،

روابط السورة الذّٰریٰت

١ ...... مخکښې اثباۃ القیامة وکړونودی سورة کښې ترقي ماسبق باندی کوی

٢ ...... مخکښې ایت ٤٥ کښې اووے ،فَذَكِّرْ بِالْقُرْاٰنِ نودی سورة ایت ٥٥ کښې وائی وَّذَكِّرْ فَاِنَّ الذِّكْرٰى تَنْفَعُ الْمُؤْمِنِيْنَ،

٣ ...... مخکښې ایت ١٦ کښې اووے ،وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْاِنْسَانَ، نودی سورة ایت ٤٩ کښې وائی ،وَمِنْ كُلِّ شَيْءٍ خَلَقْنَا زَوْجَيْنِ،

٤ ...... مخکښې ایت ٧ کښې اووے والأرض مددنها ،نودی سورة ایت ٤٨ کښې وائی والأرض فرشنها،

٥ ...... مخکښې ایت ١٦ کښې اووے وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْاِنْسَانَ ،نودی سورةایت ٥٦ کښې وائی وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْاِنْسَ،

٦ ...... مخکښې ایت ١٦ کښې اووے ،وَنَعْلَمُ مَا تُوَسْوِسُ بِهٖ نَفْسُهٗ نودی سورةایت ٢١ کښې وائی ،وَفِيْٓ اَنْفُسِكُمْ اَفَلَا تُبْصِرُوْنَ

٧ ...... مخکښې ایت ١١ ،اووے كذلك الخروج نودی سورة ایت ٥ کښې وائی انماتوعدون لصادق،

٨ ...... مخکښې ایت ٧ کښې اووے والأرض مددنها ،نودی سورة ایت ٢٠ کښې هم

هغه شان،وفی الارض ایٰت لّلموقنین،

۹......محکښی ایت ٦ اووے ،والسّمآء بنینها،نو دی سورة ایت ۷ کښی هم وائی والسمآء ذات الحبك،

۱۰......محکښی ایت ۱۳ کښی اووے وعادوفرعون الخ نو دی ایت ٤۱ کښی وائی وفی عادٍاذارسلناعلیهم الریح،

۱۱......محکښی ایت ٦ کښی اووے ، والسّمآء بینهٰا،نودی ایت ٤۷ کښی وی والسّمآء بینهٰابایدو انّالموسعون ،

دعوی السورة الذّٰریٰت

اثباة القیامة بالترقی علی ماسبق محکښی کذٰلك الخروج اووے نو دی کښی انّماتوعدون لصادق وائی،

حل مشکلت السورة الذٰریٰت

(اِنَّکُمۡ لَفِیۡ قَوۡلٍ مُّخۡتَلِفٍ)ایت ۸ محکښی اووے والسمآء ذات الحبك نو لکه څرنگه آسمان مختلف تارے اور نړاگانے دی یاجالیدار دے،

دارنگه ستاسو وینا گانے هم مختلفے دی چاعقیده سمه چاغلطه ده چا اعمال سم دی چاغلط،

(وَفِی السَّمَآءِ رِزۡقُکُمۡ)ایت ۲۲ عیسی علیه السلام یوقول دے ،اجعلوا رزقکم فی السمآء فان قلب الرّجل عند کنزه،

(فَفِرُّوۡا اِلَی اللّٰهِ)ایت ۵۰ التعرف کښی شیخ قلابازیؒ چه کله منازل دصوفیاء ښائی،الفرار الی اللّه،فراریعنی تفرق عن الناس دے په ذکرواذکار کښی

17

مشغول لیدل دی او قرار الی کتاب الله هم مراد دے،

(لِيَعْبُدُوْنِ) ایت ۵۶ مولانا جامی نفحات الانس کښی وائی،

لام تعلیل یعبدون را داد یا کاون راقطعا کرد یاد

بسم الله الرحمٰن الرحیم

سورة الطور

مکی سورة ده په نزول کښی ۷۶ پس دسورة سجده نه نازل شوے دے

روابط السورة الطور

ر ۱ ...... مخکښی اثباة القیامة وکړو نودی سورة کښی هم اثباة القیامة کوی،

ر ۲ ...... مخکښی ایت ۵ کښی اووے انّما توعدون لصادق نودی سورة ایت ۷ کښی وائی انّ عذاب ربك لواقع،

ر ۳ ...... مخکښی ایت ۴۷ کښی اووے ،والسّمآء بینها ،نودی سورة ایت ۹ کښی وائی یوم تمور السّمآء مورا،

ر ٤ ...... مخکښی ایت ۲۱ کښی اووے ،وفی انفسکم افلاتبصرون ،نودی سورة ایت ۳۵ کښی وائی ام خلقومن غیرشیئ ام هم الخالقون،

ر ۵ ...... مخکښی ایت ۱۷ کښی اووے کانوا قیلامن اللّیل مایهجعون ،نودی سورة ایت ۴۹ کښی وائی ،ومن اللّیل فسبحه وادبار النّجوم،

دعوی السورة الطور

اثباة القیامة بالترقی علی ماسبقه،

(وَالطُّوْرِ) ایت ۱ شاهد دے وحی دطور او ذوحی طٰهٰ ایت ۱۵ کښی ذکر دے چه

موسی علیه السلام ته نے کړی وه،

(والبیت المعمور)ایت ٤ ذکر دمکان مرادتړینه مکین یعنی اوسیدونکی دبیت معمورچه هره ورځ اویازره فرشتے ورته ننه کیږی اوراوځی نه،

بسم الله الرحمٰن الرحیم

سورة النجم

مکی سورة دے په نزول کښی ۲۳ بعددسورة الأخلاص نه نازل شوی دے

روابط السورة النجم

۱......مخکښی سورة ئے ختم کړوپه لفظ دنجوم سره نودَدی سورة شروع کوی په لفظ نجم باندی،

۲......مخکښی استهزاء وه پیغمبرپورے نودی کښی اثباة الرسالة کوی،

دعوی السورة النجم

نفی الشفاعة القهریة اوردَدوه قسمه مشرکینو باندی،

(۱)مشرك سماوی مشرکین باالکواکب،

(۲)مشرك ارضی مشرکین باالّلات والعزّٰی،

حل مشکلات السورة النجم

اول ایت۱۸ آیتونو کښی اثباة الرسالة اوبیاردَدشرك کوی،اونفی دشفاعت قهر

(ضَلَّ)ایت ۲ ضال هغه ته والی چه کارئی مشرق ده اوځی مغرب ته،


(غَوٰی)ایت ۲ غوی هغه ته والی چه خپل مطلب ته خوروان وی خو ګډوډوئی

(ثُمَّ دَنَافَتَدَلّٰی)ایت۸ دلته تقدیم اوتاخیرده اصل داده فَتَدَلّٰی ثُمَّ دَنَا،اودنائی مقدم

کړ وخکه چه دامقصود دے،

(قَابَ قَوْسَيْنِ) ایت ۹ (لیندے) عربو داقاعده او قانون وو چه یو خائی به ئے ناپ کول نو په لینده به ئے ناپ کول،

نو یو (۱) مطلب داچه ددوه سرُونو دلیندے برابر نزدے شویا اصل کښی دعربو داقانون وو چه صلح به ئے کوله نو دوه لیندوزَسَی به ئے یو خائی کړے نو دوه تارونه به برابر شو، نو دلته ۲ مطلب داچه دوه تارُونو دلیندے برابر نزدے شو،





(اَوْ اَدْنٰی) ایت ۹، او یا للشك باعتبار النّاظر وائی یا بمعنی بَلْ ده،

(اللّٰت) ایت ۱۹، لات خه ته وائی امام بخاریؒ وائی کان رجلٌ صالحٌ یلتُّ السَّوِیْقَ لِلْحُجَّاجِ، شاه منصور باب البرهان کښی وائی، واللّات اسمُ رجلٍ یلُتّ السّویقَ للحجّاج فلمّامات عکفوا علٰی قبرہٖ یعبدونه (او وسیله باره کښی البرهان صفحه ۱۱۷ کښی وائی (الوسیلة العبادة الی اللّٰه تعالٰی من الایمان والجهاد وغیرها)

(وَالْعُزّٰی) ایت ۱۹ دا یوه ونه وه پدیکښی عزی نامی پیرنئی نتواتی وه او هغی ته به چه تذربیش شو نو هغه نه به آواز و شو قبول، نبی علیه السلام خالدبن ولیدؓ راولیږل کله چه ورغلو منجور عزی ته وائی،

أعُزّی شُدّی شِدَّةً لاتکذّبی | علی خالدٍ القِی الخمارَوشَمّرِیْ
فانّكِ الیوم اَنْ لاتقتلی خالداً | تبُوْئی بذُلّیٍ عاجلاً وتنصّرِیْ

خالدؓ ورته اووے

أَعُزّٰی کفرانكِ لاسبحانكِ / انی رأیتُ الله قداهانكِ

اوخالدؓ په ګذارو کړو نوهغه یوه ببرسری پیرئی راووته او په خالدؓ ئے حمله کوله خالدؓ په حمله وکړه نوهغه سکارهٔ شوه نبی علیه السلام ته ئے وے جعلتُهاحَمَمَةً،

(اِلَّااللَّمَمَ)ایت ۳۲ (مکروسوسه)صحابی نبی علیه السلام ته راغلے دے چه زړه کښې م وسوسے راځی نبی علیه السلام ورته وے،

وذالك عینُ الأیمان،ځکه چه ایمان کامل نېنه داده غَل دسروزروډکان مَاتوِی دبوزُودکان نهٔ مَاتوِی،

(اِلَّامَاسَعٰی)ایت ۳۹ بعضی خلق وائی چه دَبَلُ(یعنی عمل غیر)عمل فائده نهٔ ورکئی دی آیت نه دلیل نِسی چه ایصال ثواب نشته،اوامام ابوحنیفهؒ وائی چه دَ سعی اطلاق کښې په أهم کار اواهم کارایمان ده نومطلب داچه که خپله مؤمن وی نوایصال ثواب کیږی اوکه خپله مؤمن نه وی نوبیاورته نه کیږی، اودا،ایصال ثواب بدنی هم ثابت ده لکه حجة الوداع کښې نبی علیه السلام ته یوکس راغلو چه ځماپه پلاربباندی حج پاتے ده نونبی علیه السلام ورته اووے چه هغه باندی که قرض وے نوتابهٔ اداکول هغه وے هاؤ،نونبی علیه السلام ورته اووے چه الله قرض هم بیااداکړه،دارنګه حدیث کښې راځی. اذامات ابن آدم انقطع عمله آلاعن ثلاث الخ

(اَضْحَكَ وَاَبْکٰی)ایت ۴۳ په چاخوشحالی په چاغم،

کسی کوتختِ سلطانی کسی کودرِ گدائی
میرے مولا تیرے مرضی جدہر چاہے اُدہر کردے

(رَبُّ الشِّعْرٰی) ایت ۴۹ شعری اُستوری ته وائی

یو سالك وائی

تحیّرُ فی النجوم ولستَ تدری　　　وربُّ النجم یفعل مایشآء

دا رنگه یو سالك وائی،

جو خود محتاج ہوئے دوسرے کا　　　بھلا اس سے مدد مانگنا ہے کیا

بسم اللّٰه الرحمٰن الرحیم

سورة القمر

مکی سورة دے په نزول کښی ۳۷ پس د سورة الطارق نه نازل شوی دے

روابط السورة القمر

ر ۱ ...... مخکښی اقسام دمشر کینو ذکر شو نو دی سورة کښی هغه انجام ذکر کوی،

ر ۲ ...... مخکښی پخوانو قومونو بیان و کړو نو دی کښی دهغه تشریح کوی،

ر ۳ ...... مخکښی اثباة الرسالة وو نو دا، اُومنی او و کورئی چا چه نهٔ وُ منلی نو دهغوئی انجام پدی سورة کښی ذکر کوی،

ر ۴ ...... مخکښی استهزا دمشر کینو ذکر کړو ه ،وقوم نوح، ایت ۵۲ نو دی کښی دظلم او سر کشئی نمونه ښائی په ایت ۹ کښی،

ر ۵ ...... مخکښی او وے ،فاسجدو لله و اعبدوا، نو دی سورة کښی دهغه چا انجام ذکر کوی چه اللّٰه ته سجده نهٔ کوی،

ر ۶ ...... مخکښی او وے ،أزفت الآزفة، نو دلته قیامت ذکر په نورو الفاظو کوی، ،اقتربت السّاعة،

امتیازاۃ السورۃ القمر

ف ۱ ...... داسورۃ ممتاز دے په واقعه دشق القمر باندی ،

دعوی السورۃ القمر،

تفصیل دسورۃ نجم او حالت دمشرکینو ذکر کوی نبی علیه السلام ته کفارو اووے چه مونږ هله ستاسو که سپوږمئی ددوه ځایه کړو ،نبی علیه السلام جبل ابی قبیس باندی ولاړو ودوه رکعته نفل ئے وکړل،او دعاء ئے وکړه نوسپوږمئی دوه ټکړے شو یوه ټکړ امشرق ته اوبله مغرب طرف ته لاړه اوبعض خلق چه داوائی،چه یوه ټکړ ایوۀ لستوڼی دنبی علیه السلام کښې اوبله بل کښې ننواته داخبره غلطه ده،دارنګه بعض خلق دی واقعے نه انکار کوی چه تاریخ نده ذکر کړی نواصل کښې تاریخ دورعباسی نه شروع شوے ده دویم داچه هندوستان یوراجاالیدلی وه نوراجاتپوس وکړو،چه داځه چل دے ،خلقوورته اووے چه عربو کښې آخری پیغمبر راغلے ده نو راجالاړواوایمان ئے راوړو هم دارنګه یوه قافله دعربوتجارت ته لاړه وه هغوئی هم لیدلے وو،داخبره تاریخ فرشته ذکر کړی ده.

(مَنِ الْكَذَّابُ الْاَشِرُ)ایت ۲۶ یوسالك هم وائی،

أَخُوالعَدَاوَةِ لَايَمُرُّ بِصَالِحٍ   اَلَاوَيلمزةُ بكَذَّابٍ أَشِرٍ

(اِنَّا مُرْسِلُوا النَّاقَةِ)ایت ۲۷ ګوره ناقه ئے ولے رالیږله داځکه دوئی خوپه صالح علیه السلام ځان خپ ګنړل الله ورته وے صالح علیه السلام خوپریږده تاسو ددهغے اوښے هم بدترینی،

(عَذَابٌ مُّسْتَقِرٌّ) ایت ۳۸، اوس هم په عذاب ده، نبی علیه السلام تیریدو نو صحاباوته ئے ووے، لَا تَمُرُّوْنَ عَلَيْهَا اِلَّا وَاَنْتُمْ بَاكُوْنَ مَخَافَةَ اَنْ تُصِيْبَكُمْ مِثْلُ مَا اَصَابَهُمْ،

(اَهْلَكْنَآ اَشْيَاعَكُمْ) ایت ۵۱ دامخکښې ډلے ذکر کوی داخکه چاتاسو وائی مونږ زورور یونو خان نه مخکښې ډلے وګوره،

بسم اللہ الرحمٰن الرحیم

سورة الرحمٰن

مکی سورة دے په نزول کښې ۷۹ پس د سورة الرعد نه نازل شوی دے،

روابط السورة الرحمٰن

ر ۱...... مخکښې عذاب دمجرمینو ذکر کړونودی سورة کښې انعام دمکرمینو ذکر کوی،

ر ۲...... مخکښې کرشمه دالله په شق القمرو ښائیله نودی سورت کښې کرشمه دقدرت دالله په نور آشیاء ښائی،

ر ۳...... مخکښې آخر کښې اووے، اِنَّ الْمُتَّقِيْنَ فِيْ جَنّٰتٍ وَّنَهَرٍ، نودی سورة کښې زیادت کوی اونور قدرتونه ښائی،

دعوی السورة الرحمٰن

دی سورة کښې وائی چه هرشئی کښې خیرماآچولے ده او احسانونه ماکړی دی

خلاصة السورة الرحمٰن

دی سورة کښې درے رکوعات دی،

اوله رکوع کښې ادله عقلیه پدې ذکر کوی چه خالق لکل شیئی هو الله دے
دویم رکوع کښې بیان دجهنم للتخویف،
دریم رکوع کښې بیان دبشارات للمؤمنین،
اودی سورة کښې ۳۱ خله (فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّکُمَا تُکَذِّبٰنِ) جمله ذکر کوی څوک وائی
داتکرار دے خواصل کښې داتکرار نه دے بلکه هراحسان سره جداجدالگی لکه
یوسړے ته وائی ته ورو کے وے ماسکول کښې داخل کړے دام وکړه دام،
ته څما احسان نه منے هریو احسان سره داالفاظ ذکر کوی نبی علیه السلام وے ماته
پیریانو ښه جواب راکړے ووچه مافبای آلاء الخ اووے نوهغوئی به وے،
لابشیئي بنعمك ربنافنکذب،

حل مشکلات السورة الرحمٰن

(اَلرَّحْمٰنُ) ایت ۱ ،رحمٰن معنی مهربانی ده نوقرآن وړیسے ذکر کوی څکه
قرآن لویه مهربانی اونعمت دے ،اصل کښې یو دَدنیاناچاری ده،دویمه
دآخرت،دَدنیاناچاری باران سره ختمیږی اوآخرت والاقرآن سره نوالله
مهربانی وکړه قرآن ئے په ناچارئی دآخرت ختمولودپاره راولیږل ،
(عَلَّمَ الْقُرْاٰنَ خَلَقَ الْاِنْسَانَ)ایت۳ ذکردقرآن ئے په خلقت دانسان مقدم
کړو ،ورنه خلقت دانسان خواول دے ،بیاتعلیم دے دا،اشاره دیته چه پیدائے
خوقرآن به آزده کولے ستازندگی مقصدداده سنن الدارمی کښې
ابن مسعودؓقول نقل کوی،
،کُنْ عالماًاومتعلماًاوخادِماًولاتکنْ رابعاًفتهلکْ،
(فِي الْمِيْزَانِ)ایت۸هرشیئی تالے خوایمان دِوُنه تَلل،

يو سالك وائي

کتابٌ وسنةٌ لي سُمرُقيٌ — بلوتُ النّاسَ في هذا المحکّيٌ
فمِنهم زائغٌ لاخيرفيهم — ومنهم جائزٌ تجويزشکيٌ

خلق وائي تاسو سختي کوئ موږ وايو.

لوکان تشديد أبيانُ كتاب ربيّ — واظهارُ قولُ من نَبيِّ محمّدِ
فاني بحمدالله اوّلُ مشدّدٌ — هلمّواشهوداًواشهدُوا کُلّ مشهدِ

(يَخْرُجُ مِنْهُمَا)ايت ٢٢ يادوارو دريابونونه ياقوت او مرجان راوځي يابعضے وائي چه صرخوږ درياب کښې پيدا کيږي او دويم په قياس ئے کړو.

(كُلُّ مَنْ عَلَيْهَا)ايت ٢٦ دلته نه دويم رکوع په دی کښې بيان دجهنم للتخويف،اول نعمتونه ذکرشول نونعمتونو کښې تخويف ورکوی جهنم ذکرکوی داځکه چه نعمتونه صرف نهٔ دی،بلکہ جهنم هم وګوره هغه يوليونے وو ديرے جنی تيی به ئے وے اويوبل دم وو،نوليونی به چه راغلو نودم به ورته ډول واهلو اوليونی به مصرع وئيلے يوځل دواړه يوځائی شوليونی ورته مصرع وئيلے زلفے ئی يادولے پديکښې دنبی عليه السلام صفت ئے شروع کړواوخوش آوزی کښې شوهغه دم هم لګياوو دويړه اوډول واهی په دی کښې ليونی ورته خيال شونويوه ښاپيره ئے ورته راخلاصه کړه چه زهٔ کوم ځائی ته وُرسِدم اوته چرته ئے نودلته نه تخويفات شروع دی ته هغه شان نعمتونو کښې ئے،

(اَيُّهَ الثَّقَلٰنِ)ايت ٣١ ثقلان ورته ځکه وائی چه دُنياته راتلونوسپك ووچه تلووونوپهٔ ګناهونوئے ځان درُوند کړے وو،

(فَبِاَیِّ اٰلَآءِ) ایت ۳۶ کوره دلته خومخ کښې جهنم ذکر دے نو داڅه نعمت دے چه وروستو فبای آلاء الخ وائی،اصل کښې داهم نعمت دے چه دُنیا کښې ئے جهنم ذکرو کړو دی دپاره چه خان ترے بچ کړے،

(وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ) ایت ۴۶ دی خائی نه دریم رکوع بشارات ور کوی،

(ذَوَاتَآ اَفْنَانٍ) ایت ۴۸ ابن جوزی کتاب دے فنون الأفنان،

(اَلْيَاقُوْتُ وَالْمَرْجَانُ) ایت ۵۸ کوره یاقوت اومرجان سره تشبیه ولے ور کوی،داځکه یاقوت سری دی اومرجان سپین نوبعض قومونو سرے سخی خوابنی وی لکه یورپ واله بعضوسپینے لکه جاپان واله یاترے مراد دسرے سپینے دی اودسرے سپینے دیرمزه کوی،

(هَلْ جَزَآءُ الْاِحْسَانِ) ایت ۶۰ دائی وریسے اووے ځکه چه بغیردتوحید دنعمتونوته نشے رسیدے،

(نَضَّاخَتٰنِ) ایت ۶۶ (فواره وهونکی) نضخ اصل کښې ویشتلوته وائی،

(حُوْرٌ مَّقْصُوْرٰتٌ) ایت ۷۲ نبی علیه السلام عمرؓ ته ووے چه زهٔ خوب کښې جنت ته لاړوم نویوے بنگلی ته ورغلم هغه یوه ملغلره کنستی شوی وه باهر یوحوض وو هلته یوه حُوره وه اومخ لاسی ئے په نهر کښې کول، نو،فقلتُ لِمَنْ هذا،فقیل لِیُ لِعُمَرؓ نوزهٔ داواپس شوم ماوے چه عُمرؓ غیرتی ده مانواتوباندی بهٔ خفه شی عمرؓ ستر کو کښې اوښکے راغلے اوووے علیك أغارُ یارسولَ اللّٰهﷺ

(اسْمُ رَبِّكَ) ایت ۷۸ یامراد،اسم ده یادلته اسم نه مرادمسمی (اللّٰه) دے،

....

بسم الله الرحمٰن الرحیم

سورة الواقعه

مکی سوره دے په نزول کښی ٤٦ پس دسورة طٰهٰ نه نازل شوی دے

روابط السورة الواقعه

ف ۱ ...... مخکښی سورة کښی تخویف او بشارت مکمل بیان شونودابه کله وی
نودی سورة کښی وائی،اذا وقعت الواقعة،

ف ۲ ......مخکښی بشارت بیان شونودابه چاله وی،نودی کښی وائی ،
ثُلَّةٌ مِّنَ الْاَوَّلِيْنَ ، وَقَلِيْلٌ مِّنَ الْاٰخِرِيْنَ،

ف ۳ ...... مخکښی اووے ایت ٥٨ ، كَاَنَّهُنَّ الْيَاقُوْتُ وَالْمَرْجَانُ، نودی سورة کښی
زیادت په هغه په نوروا وصافو کوی،

دعوى السورة الواقعه وخلاصتها

داسورة تتمه ده دماقبل سورة الرحمٰن

مخکښی تخویف او بشارت وونودی کښی وخت دبشارت اوتخویف بیانی
دارنګه اقسام ثلاثه دخلقو بیانوی و کنتم ازواجاالخ

حل مشکلات السورة الواقعه

(الْحِنْثِ الْعَظِيْمِ)ایت ٤٦ حنث ګناه ته وائی قرطبی معنیٰ کوی شرك لکه
حدیث کښی راځی چه کومی ښځی بچے وفات شولم یبلغ الحنث نودرته

وائی بلوغ ته نه وی راسیدلے نوبالغ شی هغه خویاهم زیات زوروی نه بلکه

حنث معنی شرك ده یعنی چه شرك نے نه وی کړے خکه چه شرك کړے وی نو بیاخفه کبیره مه.

(لَا یَمَسُّهٗۤ اِلَّا الْمُطَهَّرُوْنَ) ایت ۷۹ نه پوهیږی په قرآن مگر مؤحدین.

(قرطبی مجددؒ) دارنګه اعراف ایت ٤٦ کښې هم وائی، ذوالنون مصری قول امام نسفیؒ مدارك کښې نقل کوی هغه وائی،

أبى اللّٰهُ أن یَکرُمَ قلوبَ البطَّالِیْنَ بمکنُونِ حکمةِ القُرآنِ،

(وَتَجْعَلُوْنَ رِزْقَکُمْ) ایت ۸۲ یعنی غیر الله نه رزق گرځوی حدیث کښې راځی،

مُرُوْابالمعروف وَانْهَوْاعَنِ الْمُنْکَرِفاِنَّ الْاَمْرَبالمعرُوْفِ والنَّهْیَ عن الْمُنْکَر لایَدْفَعُ رِزْقًاولایُقَرِّبُ الْاَجَلَ،

دارنګه حدیث کښې راځی

لَوْاَنَّکُمْ تَوَکَّلُوْنَ عَلَی اللّٰهِ حَقَ تَوَکُّلِ لَرَزَقَکُمْ کَمَاتَرْزُقُ الْطَیْرُتَغْدُوْاخِمَاصاً وَتَرُوْحُ بِطَانَةً

(فَسَلٰمٌ لَّکَ) ایت ۹۱ سلامتیاده،

یوشاعروائی

نشان مرد مؤمن باتو گویم   چون مرگ آید تبسم برلب اوست

. . . .

بسم اللہ الرحمٰن الرحیم

سورة الحدید

مدنی سوره دے په نزول کښی ۹٤ پس دسورة الزلزال نه نازل شوی دے

روابط السورة الحدید

ف ١ ...... مخکښی بیان دقیامت وشونودی کښی هغه اعمال ذکر کوی چه هغه قیامت کښی په کار راځی یعنی صحیح عقیده وغیره،

ف ٢ ...... مخکښی اووے ،فَسَبِّحْ بِاسْمِ رَبِّكَ الْعَظِيْمِ،نودی سورة کښی وائی ،سَبَّحَ لِلّٰهِ،

دعوی السورة الحدید

ترغیب الی الانفاق والجهاددنی ځائی نه لس(١٠) سورتونه په یومضمون دجهاداوانفاق دی پنځه سورتونه مصدّر کوی په سبّح باندی اوپنځه په قیاس کوی اشاره دیته چه جهادکوے نوللّه وکره توحیدپاره وکره،

خلاصة السورة الحدید

داسورة دوه حصه ده(١)اوله حصه کښی اول شپږ آیتونو کښی ادله عقلیه باثباة التوحیدده بیاترغیب الی الانفاق ورکوی باالوجوه الخمسة داترایت ٢٤ پورے

(١) ...... اوله وجه په ایت ٧ کښی چه مال ستانه ده دا،اللّه ده ته ئے په کینولے ئے، نوخرچ ئے کره،

(٢) ...... دویمه وجه په ایت ١٠ کښی چه څه مال ستاده خواللّه ته به پاتے شی نوخرچ ئے کره لکه دهلتی دحافظ پشان مه کلکیږه،

یوشاعروائی،

سَتَنقُلُكَ الْمَنَايَا عَنْ دِيَارِكَ وَيُبْدِلُكَ الرَّدٰى دَارًا بِدَارِكَ
وَتَتْرُكُ مَا غَنِيْتَ بِهٖ زَمَانًا وَتَنْقَلُ مِنْ غِنَاكَ اِلٰى افْتِقَارِكَ
وَدُوْدُ الْقَبْرِ فِيْ عَيْنَيْكَ تَرْعٰى وَتَرْعٰى عَيْنُ غَيْرِكَ فِيْ دِيَارِكَ

(۳)...... دریمه وجه په ایت ۱۱ کښې خه مال الله ته هم نهٔ پاتې کیږی خو الله ته قرض ورکړه (او قرض به اعتبار دقارض وائی) ځکه چه قارض یقین وی چه ماته به پیسې راکوی)

(٤)...... څلورمه وجه په ایت ۲۰ کښې چه که مال ذدینه ساتلے وی چه زما صبا په کار راشي نو مړه داخو هسې زینت ده او تفاخر ده (څلورمې وجې حاصل دا چه مال حقیقت لره پیژنه کټل ئې ممنوع نه دی لکه عبدالرحمٰن بن عوف‎ؓ نبی علیه السلام ته راغلے وو چه زه ټول مال خرچ کوم (ریاض الصالحین وګوره)

(٥)...... پنځمه وجه په ایت ۲۲ کښې چه ته وائی ځکه ئې نه لګوم چه صبا زمانه مصیبت لرے کړی، نو جواب ستا مصیبت مال نشی لرے کولے او ګوره چا چه مال ولګولو نو هغه به قیامت کښې روښانه وی لکه ایت ۱۲ کښې او چا چه ونه لګول نو هغوئی حال په ایت ۱۳ کښې

(۲)...... دویمه حصّه ایت ۲۵ نه پدیکښې ترغیب الی الجهاد ورکوی.

حل مشکلات السورة الحدید

(وَالْبَاطِنُ) ایت ۳، ای الباطن باعتبار الذات و الظاهر باعتبار الصفات و المقدورات لکه یو سالکؒ وائی

بے حجابی ایسا کہ ہر ذرہ میں جلوہ آشکارا   اور حجاب ایسا کہ صورت آج تک کسی نے دیکھا نہیں

(اٰمِنُوْا) ایت ۷، اوّله وجه ترغیب الی لانفاق باندی،

(وَمَالَکُمْ) ایت ۱۰ دویمه وجه،

(قَبْلَ الْفَتْحِ) ایت ۱۰ دینه فتح مکه نه ده مرادبلکه عام غلبه مراددے،

(مَنْ ذَاالَّذِیْ) ایت ۱۱ درېمه وجه،

(قِیْلَ ارْجِعُوْا) ایت ۱۳ داامر تهدیدپاره دے ورنه دنیاته خوبیانشی واپس کیدے،

(اَلَمْ یَأْنِ) ایت ۱۶ (واقعه دفضیل بن عیاضؒ چه مشهوررغل وودآیت آؤریدو لاسه صوفی شواوچغے ئې وهلے بلی الآن بلی الآن)

(اِعْلَمُوْا) ایت ۲۰ څلورمه وجه،

(عَرْضُهَاکَعَرْضِ السَّمَآءِ) ایت ۲۱ دلته یاتشبیه دغیرمحسوس په محسوس ده څکه څمونږ اذهن کښې زمکه آسمان لوئی ده۔ ۲ یایوشئی عرض ده یوطول ده نوعرض دجنّت ئې صِرف وښودل اوطول پته ئې نیشته،

(مَآاَصَابَ) ایت ۲۲ پنځمه وجه،

(لَقَدْاَرْسَلْنَا) ایت ۲۵ دلته نه دویمه حصّه پدېکښې ترغیب الی الجهادچه مَال لګوے نوپه جهادولګوه،

(وَاَنْزَلْنَاالْحَدِیْدَ) ایت ۲۵ (مفتی فریدذاکوره ختهك دبارے پهٔ مؤحدینوفتوی ورکړی وه چه دوئی باندِ حدیدااستعمال کړئی،

(وَرَهْبَانِیَّةَ) ایت ۲۷ رهبانیت دُنیاپرېښودل توکّل کول عمرؓ داسے خلق بهٔ واهل یوځل مسجد کښې څه کسان ناست وُوتپوس ئې وکړو مَنْ هُمْ،

نو هغه نی اُووے ،قالواهم المتوکلون،عمرؓ اووے ،لابل هم المتاکلون،
او کانړی ئے راواخیستهٔ اویویوئے ویشتل اومسجدنه ئے اُوِوستل،
(اِلَّاابْتِغَآءَ) ایت ۲۷ یااستثناء منقطع ده،یعنی لٰکِنْ کَتَبْنَاعَلَیْهِمْ اَبْتِغَاءَ رِضْوَانَ اللّٰهِ ۲ یااستثناء متصل ده چه رهبانیت مونږ نهٔ وومقرر کړے مګر دپاره دلټون درضاء دَاللّٰه،
(لِئَلَّایَعْلَمَ) ایت ۲۹ دلته دوه توجیهات دی یوداچه لام زائد کړے یعنی، لئن یَعلم اهل الکتٰب شی نومعنی دادی دپاره چه پوهه شی اهل کتاب پدی چه دوئی قادرنه دی په هیڅ شئ دَفضل دَاللّٰه نه(یعنی اللّٰه دوئی ته هیڅ درجه نده ور کړی)دویم داچه لازائدنه کړے ،نوعبارت بیاداسے ده لئلایعلم اهل الکتاب بعجزالمؤمنین الایقدرون الخ(دی دپاره چه پوهه نهٔ شی اهل کتاب په عجز دمؤمنانوچه دامؤمنان قادرنهٔ دی پهٔ دی په هیڅ شئی او داورسته.
انّ الفضل بیدالله دواړوتوجهاتو کښې ځان ته کلام ده او واؤ استینافیه ده

بسم اللّٰه الرحمٰن الرحیم

سورة المجادلة

مدنی سورة دے په نزول کښی ۱۰۵ پس دسورة المنافقون نه نازل شوی دے،

روابط السورة المجادلة

۱ ...... مخکښې ترغیب الی الانفاق وونودی سورة ایت ۱۲ کښی ځائی دانفاق بنائی،
۲ ...... مخکښې انفاق دپاره وجوه ذکر کړه نودی سورة کښی جماعت دپاره

قواعد ذکر کوی.

۳...... مخکښې بیان دانفاق ئے وکړو، او انفاق منافق نه کوی دهغوئی حالت ئے هم ذکر کړو، نودی سورة کښې زواجر منافق ته په لفظ دالم ور کوی،

دعوی السورة المجادلة وخلاصتها،

زواجر منافق ته په لفظ دالم سره او درے قاعد جماعت دپاره په

لفظ د، یٰٓاَیُّهَاالَّذِیْنَ اٰمَنُوٓا،

۱...... اوله قاعده په ایت ۹ ،وَتَنَاجَوْابِالْبِرِّ وَالتَّقْوٰی، روح المعانی دَسَهل بن عبدالله التستری نه معنیٰ نقل کوی تناجوابالتوحید والسنة حاصل داچه اشاعة توحید و سنت بهٔ کړئی،

۲...... دویمه قاعده په ایت ۱۱ کښې چه امیر اطاعت بهٔ کوئی،

۳...... دریمه قاعده په ایت ۱۲ کښې چه صدقه پیش کړئی صدقه یو دنفس ده بل دمال ده دمال پښی وکړه چه واخله او په تنظیم ئے ولګوه او یانفس مخ ته کړه چه زهٔ تیاریم هر قسم کار ته اودی کښې درے ځله لفظ دأَلَمْ ذکر کوی په هر یو سره زواجر منافق ته چه هغه جماعت کښې فساد کوی

(۱) اول ځل په ایت ۷ کښې اشاره دیته چه منافقه، پټې جرګے مکوه چه تنظیم خرابوے،

(۲) دویم ځل په ایت ۸ کښې چه جماعت مشن خلاف په غلطو کارونو جرګے مه کوه،

(۳) دریم ځل په ایت ۱۴ کښې چه مخکښې خبروباندی پوهه نشی نو بیاستا

مخالف تنظیم ته خی او بیا دُوا اړو انجام دمؤمن مخلص او منافق.

ـ ۱ دمنافق انجام (استحوذعلیهم الشیطٰن) ایت ۱۹ .(اولٰئك حزب الشیطٰن)

ـ ۲ ،او دمؤمن انجام (اولٰئك حزب الله)

بیان ردّرسیم باطل کوی چه عربو به کله ښځی ته اووے انتِ علیّ کظهرامی نو بیا به ئے همیشه حرامه کړه یو ځل اوس بن ثابتؓ خپلے ښځی خوله بنت ثعلبه یا خوله بنت حکیم ته دا، الفاظ دظهار اووے، نو خولهؓ راغله او نبی علیه السلام ته ئے فریادو کړو، چه زما واړه بچی دی څه به کوم چونکه وړوکے تنظیم وو کور کښی یو امیر (خاوند) وو بل ناظم (ښځه) او نور اراکین (بچیٔ) ؤو نو هغه خراب شوے وو، نو الله وحی را ولیږله او کفاره ئے مقرره کړه.

(فقهاء وائی چه یو سړی خپلے ښځی تشبیه ورکړه محرمات ابدیه سره او بیا خائی دهغی سره نو کفاره ئے غلام آزادول دی، یا دوه میاشتے پرله پسے روژے دی که یو هم ترے پاتے شوه بیا به دسرنه شروع کوی او دریمه کفّاره اطعام ستین مسکیناً دی.

حل مشکلات السورة المجادلة

(یُظٰهِرُوْنَ) ایت ۲ ظهار وائی، تشبیه ورکول محارمو سره دخپلے ښځی.

(یُظٰهِرُوْنَ) ایت ۳ ښځی ته ئے اووے انت علی کظهرامی نو کفاره ئے فتحریررقبة شو داولے خکه چه مور او ښځه جنس هم یو ده، اصل وجه دا ده چه مور حق ئے ښځی ته ورکړو نو دی جنس یو وو بیائی .کفّاره او نجام داشو، او چه الله دِمخلوق سره برابر کړو هغه به څه حکم وی خکه هلته جنس هم یونهٔ ده

نو هغه کفاره جهنم ده،

(بِمَا لَمْ يُحَيِّكَ بِهِ) ایت۸ (هغه چه پیش کشی نده کړی تا لره الله پدی) منافقینوبهٔ السلام په ځائی السام علیکم وئیل،

(اِسْتَحْوَذَ عَلَيْهِمُ الشَّيْطٰنُ) ایت ۱۹ (په دی باندی سورده شیطن) دشیطان خر کړی شو،

(مَنْ حَآدَّ اللّٰهَ) ایت ۲۲ دد آیت عملی جامه صحابه وولکه ابو عبیدة بن الجراح چه پلار ئے قتل کړے وو دارنګه ابوبکر صدیق،

(هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ) ایت ۲۲ هم ضمیر فصل راوړی نحاة دیته ضمیر فصل وائی اومناطقه ورته رابط وائی او نحاة داهم وائی چه دا صرف معرفه کښی راځی او دا،اسم ده او ربط دوروته جملے ماقبل سره راولی دلته مفلحون ربط اولٰئك سره کړے ده خلق وائی قرآن کښی قیاس مؤلف نشته خو دلته داقیاس مؤلف شکل اوّل ده (شکل اوّل حداوسط ئے محمول ده په صغری کښی موضوع ده په کبری کښی)

(اولٰئك (المؤمنون) حزب الله، ألاآن حزب الله هم المفلحون فالمؤمنون هم المفلحون،

بسم الله الرحمٰن الرحیم

سورة الحشر

مدنی سورة دے په نزول کښی ۱۰۱ پس دسورة البينة نه نازل شوی دے

روابط السورة الحشر

ف ۱...... محکبنی زواجر منافقینو ته بیان شو نو دی کبنی حالت دمنافقینو بیانوی

ف ۲...... محکبنی په ایت ۲۰ کبنی اوو ے ،اولٰئک فی الاذلین، نو دی سورة کبنی
دذلت نمونه پیش کوی،

ف ۳...... محکبنی دو دلے وواو دهغوئی انجام ،الا ان حزب الشیطٰن هم الخاسرون،
الا ان حزب الله هم المفلحون سره بیان کړو نو دی کبنی دواړو دلو مثال ،
اوّل مثال یهُود خیبر او دویمے مثال مؤمنان دی،

ف ٤...... محکبنی اوو ے ،ان اللّٰه لقویٌ عزیز ،نو دی کبنی نمونے دهغه بیانی،

دعوی السورة الحشر

زجر او تخویف للمنافقین او احوال المنافقین،

نبی ﷺ چه مدینے ته لاړو نو بنو نظیر او بنو قریظه سره ئے معاهده وکړه دوئی
خیبر کبنی او سیده چه ستاسو به خمونږ خلاف جنگ نه کوے او مونږ به
ستاسو خلاف نه کوو بیا چه جنگ خندق شروع کیده نو دوئی کفّارو سره
امدادو کړو ،نبی علیه السلام چه کله جنگ خندق نه فارغ شولو نو په
بنو نظیر او بنو قریظه حمله وکړه هغوئی خپل ځایونه پریښودل نبی علیه
السلام دهغوئی کهجورے کټ، کړے اُورئے ور کړو،

ابو سفیان دهغه باره کبنی وئیلی وو،

أَدَامَ اللّٰهُ ذَالِكَ مِنْ صَنِيعٍ وَحَرَّقَ فِيْ نَوَاحِيهَا السَّعِيرُ
سَتَعْلَمُ أَيُّنَا مِنْهَا بِنُزْهٍ وَتَعْلَمُ أَيُّ أَرْضَيْنَا تَضِيرُ

نو حسان بن ثابت جواب وکړو،

كَفَرْتُمْ بِالْقُرْآنِ وَقَدْ أَبَيْتُمْ بِتَصْدِيْقِ الَّذِيْ قَالَ النَّذِيْرِ
وَهَانَ عَلٰى سَرَاةِ بَنِيْ لُؤَيٍّ حَرِيْقٌ بِالْبُوَيْرَةِ مُسْتَطِيْرِ

بیادهغوئی جنګجو کسان ئے قتل کړل هغوئی به ئے حلالول دافیصله حضرت سعدؓ کړی وه اونبی علیه السلام ورته وچت ځائی باندی ناست وو اودهغوئی ښځی بوداګان اووارہ نی نظربند کړل اوغلامان اوو ینځی ئے وکرځول نودی سورة کښی هغه ته اشاره ده،

حل مشکلات السورة الحشر

(لِيْنَةٍ) ایت ۵ دایوے کهجورے نامه ده عربو کښی ۶۰ قسمه کهجورے دی، اوّل نمبر کهجورے اجوۀ ده هغه یو کِلو اوس په ۱۰۰ ریال ملاویږی (هُوَاللّٰهُ الَّذِیْ) ایت ۲۳ شیخ عبدالقادرجیلانی المتوفی ۵۶۱ھ چه کله وفات کیده نوهغه خپل خامن راجمع کړو، اوّل ئے ورته دابن عباسؓ روایت بیان کړوچه که ټول دنیانفع اونقصان درکول وغواړی نونقصان نشی درکولے بیاورته داآیتونه نی اووے چه سحرماښام راوتی ځوك چه سحرماښام داوائی چه سحروائی نوترماښام ورته اویازره فرښتے دمغفرت سوال کوی، دارنګه که ځوك ماښام اووائی نوترسحره اویازره فرښتے ورته مغفرت دعاکوی داهغه شیخ عبدالقادرؒ وو چه کله مړشو بادشاه دهغه هډو کی دقبر دغصّے نه راویستی وو، اونهرته ئے غورځولی ؤو،

(ایسا ہی مشکل کشا بن جائے گا جن کی ہڈیاں دریاب میں ڈالی جارہی ہیں

. . . .

بسم اللہ الرحمٰن الرحیم

سورة الممتحنه

مدنی سورة دے په نزول کښی ۱۹ پس دسورة الاحزاب نه نازل شوی دے

روابط السورة الممتحنه

۱ ......مخکښی دهغه قوم حالت ئے ذکر کړو چه کفارو امدادئے کول نودی کښی کفارو حال ذکر کوی،

دعوی السورة الممتحنه

التباعدمن المشرکین والزجرلمن تولاهم(لرے والے مشر کانو نه او خوك چه دوستئي ورسره کوی هغوئی ته رټنه)دنبی علیه السلام صحابهؓ بهتر دی بعض صحابه دجنگ بدر داو چه هغوئی اهل په مکه کښی پاتے ؤ یعنی نورو خایونو راغلی ؤ وهلته آباد شوی ؤ ونودی کښی یو صحابی حاطب بنؓ ابی بلتعهؓ هم ؤ (دادیر بهادر صحابی وو په لاره تلونو درے کفارو سره ملاؤ شودی ترے تپوس وکړو چه چرته ځئ هغوئی اووے دنبی علیه السلام قتل دپاره خو دورته اووے چه سرو هغه اوس قاصد آستولے ده اوس راځی هغه قتل کړئی خو مدینے درے لارے دی.پته نه لګی چه په کومه لاره به راځی تاسو به یو یو کس په هر لاره کښی کینئ نو ورته اووے،چه زه درته لارے ښائیم یوئی روان کړو نو دوئی ستر ګو چه پناه کړونو توره ترے واخیسته او قتل ئے کړو هغه ئے هلته پریښودو،واپس راغلو چه هغه م هلته کینولو نو دویم ئے روان کړو نو هغه سره ئے هم داعمل وکړو،

دارنگه دریم سره هم) یو خل دِصحابیؓ مگے ته خط واستولو چه نبی علیه السلام سره ډیر لښکره په ستاسو درخی او حمله کوی دِی صحابی دوه ۲ مقصده وو یو داچه خما اهل وعیال ته به کافر څه نه وائی دویم داچه کافرو باندی به رعب راشی داخط ئے یوے ښځی ته ورکړو اوهغه مگے ته روانه شوه نبی علیه السلام الله وحی وکړه چه فلانی ښځی سره دفلانی خط دے نونبی علیه السلام ورپسے دوه صحابه علیؓ مقدادؓ ولیږل نوښځه ئے لاره کښی ونیوله ورته وے چه خط راکړه هغی ورته وے چه خط نیشته ما سره علیؓ ورته توره راوویسته چه وژنم دپیغمبرعلیه السلام دروغ نه وائی نوهغی یاخپلو کمخونه خط راوویستواونبی علیه السلام ته ئے راوړ،وسیتونبی علیه السلام داصحابی راوغوستوچه دادولے کړی دی،نوهغهٔ ورته قصّه وکړه نودی وخت عمرؓ غیرت کښی راغلوچه ،یارسول الله دَعَانِی أضربُ عنق هذالمنافق،نبی علیه السلام ورته وے مادرك یاعمرقدتناول الله ببدروقال اعملوا ماشئتم.نوعمرؓ سترگی بهیدے فَفَاضَتْ عَیْنَاعُمَرُ وقال،الله ورسوله اعلم،غیرتمند سرے چه څه نشی کولے نوهغه دغصّے نه وژاړی،

حل مشکلات السورة الممتحنه

(اِذَاجَآءَكُمُ الْمُؤْمِنٰتُ) ایت ۱۰ صلح کښی داخبره شوی وه چه مؤمن سړے به واپس کوو،اودمؤمنوښځوباره کښی خیره نه وی شوی نودی وجے دلته وائی چه هغوئی به واپس کوئی نه،

(وَلَاتُمْسِكُوْابِعِصَمِ الْكَوَافِرِ) ایت ۱۰ ددی مطلب داچه کومے ښځی ستاسو

کافرے پاتے شوے او هجرت ئے ونه کړل نو هغه پرېږدوئی ابوبکرؓ ام بکرؓ پرېږدلی وه او هغې بیا عربو مشهور شاعر سره نکاح کړے وه دا رنګه عمرؓ پرېښودلی وه،

بسم الله الرحمٰن الرحيم

سورة الصّف

مدنی سورة دے په نزول کښې ۱۰۹ پس د سورة التغابن نه نازل شوی دے

روابط السورة الصّف

ربط ۱...... مخکښې التباعد من الکافرین والتولّی مع المؤمنین ئے ذکر کړه نو دی کښې نمونه د هغه په قول د حواریونو نحن انصار الله،

ربط ۲...... مخکښې اذیّت او تکلیف د باطل پرستو ذکر کړو نو دی کښې واقعه د موسی علیه السلام چه هغه ته ئے هم تکلیف رسولے وو،

ربط ۳...... مخکښې ایت ٤ کښې او وے کفر نابکم چه ستاسو ملګرتیا باندی، انکار کوو نو دی کښې وائی چه د هغوئی نه انکار کول او جهاد ورسره کول لوجے نه ته الله ته محبوب وګرځیدے په ایت ٤ کښې

دعوی السورة الصّف

الزجر للمؤمنین الّذین یقولون مالا یفعلون وفیها ترغیبٌ الی الجهاد،

بسم الله الرحمٰن الرحيم

سورة الجمعة

مدنی سورة دے په نزول کښې ۱۱۰ پس د سورة الصّف نه نازل شوی دے

روابط السورة الجمعة

ـ ۱...... محکښې صیغه دماضی سبح نې ذکر کړنو اوس صیغه دمضارع یسبح سره شروع کوی،

ـ ۲...... محکښې په ایت ٦ کښې وئیلی ووچه عیسی علیه السلام بشارت ورکړے ووچه پیغمبربه راځي نودی سورة ایت ۲ کښې وائي چه هغه رشتیابشارت د:

ـ ۳...... محکښې ایت ۲ کښې اووے ،یٰاَیُّهَاالَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡالِمَ تَقُوۡلُوۡنَ مَالَاتَفۡعَلُوۡنَ،نودی سورة ایت ۵ کښې :هغه مثال ذکر کوی،

دعوی السورةالجمعة

ترغیب الی الانفاق واتباع النبی ﷺ والزجرلمن یحب الدنیاعلی الاخرة،

بسم اللہ الرحمٰن الرحیم

سورة المنافقون

مدنی سورة دے په نزول کښې ۱۰٤ پس دسورةالحج نه نازل شوی دے

روابط السورة المنا فقون

ـ ۱...... محکښې اووے په ایت ۹ کښې ،واذانودی للصلوٰة...... الی...... فاسعواالی ذکراللہ نودی سورةایت ۹ کښې وائی،لاتلهکم اموالکم ولااولادکم عن ذکراللہ، نودی کښې زیادت کوی ماسبق په باندی،

دعوی السورةالمنافقون

الزجرلمن لم ینفق الأموال علی اهله والترغیب الی الانفاق

حل مشکلات السورة المنافقون

(خُشُبٌ مُسَنَّدَةٌ)ایت ٤ لرګی څو قسمه دی،

۱)......یوهغه دی چه کهر کی میزونه وغیره ترے جوړیږی یعنی دزینت سامان،

۲)......دویم چه تیراو ګادرترے جوړیږی،

۳)......دریم چه زمیندارترے یوی دپاره لرګی اوآرے دپاره لاسکښی جوړاوی،

٤)......څلورم چه کټ بازوګان اوخپے ترے جوړیږی،

٥)......پنځم چه سوزولو کارور کوی،

٦)......شپږم هغه مُونډوی چه زمیندارئے سوزولودپاره راوړی نمرته ئے اُودَروی نوچه یوطرف ئے وچ شی نمرطرف ته اُوبۀ لاړے شی دارنګه وچیږی نه اوچه په تبرئے ماتوی نوماتیږی نه اونه تنور کښی آچول کیږی نوزمیندارئے یوطرف ته اُودروی دارنګه منافق هم ده،

(اَیُخْرِجَنَّ الْاَعَزُّ)ایت ۸ عبد الله بن اُبَیّ بن سلول داوئیلی وو، نودزوئی عبدالله خبرشونوهغه توره راویستی وه او کورمخ ته ولاړوو چه ترهغے رانه کورته نشے ننوتے چه دا اقراددنه وی کړه انك ذلیل ورسول الله عزیز ،نو آخرهغه منافق نبی علیه السلام ته راغلوچه زوئی م کورته نه پریږدی نبی علیه السلام ئے زوئی راوغوښتوچه پریږدوه ئے نوبیائے پریږدول

بسم الله الرحمٰن الرحیم

سورة التغابن

مدنی سورة دے په نزول کښی ایت ۱۰۸ پس دسورة الحریم نه نازل شوی دے

روابط السورة التغابن

ف ۱...... محکښې ترغیب الی الجهادوالانفاق وو نودی سورة کښې هغه مقاصد ذکر کوی چه هغه دپاره جهاد کوی،

ف ۲...... محکښې ایت ۹ کښې اووے چه مال اولادم الله ذکرنه غافل نه کړی نودی کښې زیادت په هغه کوی،

ف ۳...... محکښې ایت ۷ کښې منافقانوباره کښې اووے چه هغوئی خرچ نه منع کوی دی دپاره چه نبی علیه السلام صحابه تس نس شي نودی ایت ۱۶ کښې وائی چه خرچ وکړی فائده ئے ستاسو دپاره ده،

دعوی السورة التغابن

بیان دمقاصدار بعه ؤ،

خلاصة السورة التغابن

داسورة دوه حصه دے اوله حصه کښې ۱۰،آیاتونه دے پدیکښې، اثباة مقاصد أربعه عالیه۔ ۱،اثباة التوحید۔ ۲،اثباة الرسالة،

۔ ۳، صداقة الکتاب۔ ٤، اثباة القیامة،

دویمه حصه کښې ترغیب للجهادوالانفاق ،

بسم الله الرحمٰن الرحیم

سورة الطلاق

مدنی سورة دے په نزول کښې ۹۹ پس دسورة الدهرنه نازل شوی دے

روابط السورةالطلاق

ف ۱...... محکښې اثباة دمقاصدار بعه کول نودی کښې هم،اثباة دمقاصدار بعه،په

عکس باندی ،اوتشریح کوی په لف نشرغیرمرتب باندی،

۲..... پنځکښی ایت ۸ کښی اوورے چه په رنړا ،ایمان راوړنی تودی سورة په ایت ۱۱ کښی وائی چه رنړاخه کوی ،لیخرج النّاس،

تقسیم السورة الطلاق

سورة طلاق آخری سورتونو نه ده چه هغه کښی بیان دجهاداو انفاق وو داسورة تشریح ده دماقبل په لف نشرغیرمرتب سره،

اوله حصه کښی امورمنتظمه للجهادو الانفاق ذکرکوی دویمه حصه کښی اثباة دمقاصداربعه کوی،اوداایت ۸ نه تر آخره،

(يَجْعَلْ لَّهُ مَخْرَجًا)ایت ۲ (محمدبن عبدالوهابؒ هغه سړے ؤ وچه شرك خلاف ئے جهاد کړے وو ،اوډیوخان چه هغه نامه مسعود،وه هغه ته وے چه فوج ستاوطالبان زمادواړه به یوځائی شو اوداشرکیات ختموو اوبادشاهت به ستاوی اوفیصلو کارځما،نوتراوسه بادشاهت دسعودپه اهل کښی راځی اوقضاوت دعبدالوهابؒ په اهل کښی راځی خومحمدبن عبدالوهابؒ خلقوبدنام کړے وو اوعلامه ابن تیمیةؒ ئے هم بدنام کړے وو)

محمدبن عبدالوهابؒ چه کله یوځائی نه بل ځائی ته هجرت کول نودایت به ئے وے ،ومن یتق اللّٰه یجعل له مخرجا،

(عُسْرٍ يُسْراً)ایت ۷یوسالك وائی،

اپنے اللّٰہ سے شکوے کے محل ہوتو کروں غم دی تو ساتھ ہی غم سے راحت بھی دی

(وَكَأَيِّنْ)ایت ۸دی ځائی نه دویمه حصه پدی کښی،اثباة دمقاصداربعه دے

بسم الله الرحمن الرحيم

سورة التحريم

مدني سورة دے په نزول کښې ۱۰۷ پس دسورة الحجرات نه نازل شوی دے

روابط السورة التحريم

۱...... مخکښې ایت ۱۱ کښې اووے چه تیارے نه رڼراته راوباسی نودی کښې رڼراچائو،

دعوی السورة التحريم

تنزیه په هغه مضامینو چه مخکښې ۹ سورتونو کښې تیر شوی دی

حل مشکلات السورة التحريم

